بسم الله الرحمن الرحيم

## کتاب پیژندنه


**د کتاب نوم:** احصائیه او احتمالات

**څانګه:** بانکداري، محاسبه او د تجارت اقتصاد

**مولف:** نورالله ابراهیمی او میر محمد شاه رفیعی

**ژباړن:** نورالله عماد

**د څار کمېټه:**

- محمد آصف ننګ د تخنیکي او مسلکي زده کړو معین
- دیپلوم انجنیر عبدالله کوزايي د تعلیمي نصاب رییس
- محمد اشرف وحدت په تعلیمي نصاب کې د معینیت د مقام سلاکار

**د تصحیح کمېټه:**

- محمد احسان
- محیم نسیم پسرلی

**د ګرافیک او ډیزاین څانګې مسئول :** محمد جان علیرضایي

**ګرافیک او ډیزاین:** محمد سلیم خان

**چاپ کال:** ۱۳۹۲ لمریز کال

**تیراژ:** ۳۰۰۰

**چاپ ځل:** لومړی

**وېب پاڼه:** www.dmtvet.gov.af

**برېښنالیک:** info@dmtvet.gov.af

کد ISBN: ۹۷۸۹۹۳۶۳۰۰٦٤٤



Ketabton.com

د چاپ حق د تخنیکي او مسلکي زده کړو له معینیت سره خوندي دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی     دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې     هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی     د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو     د ترکمنو د تاجکو
ور سره عرب، ګوجر دي     پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي     هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي     لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به     لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر     وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پوهنې وزیر پیغام

**ګرانو زده کوونکو، محصلانو او درنو ښوونکو!**

د یوې ټولنې وده او پرمختګ کاملاً د همغې ټولنې د پیاوړو کاري کادرونو، بشري قوې او ماهرو فکرونو په کار او زیار پورې تړلي دي. همدا بشري قوه او کاري متې دي چې د هیواد انکشافي اهدافو ته د رسیدو لارې چارې طی کوي او د یوه نیکمرغه، مرفه او ودان افغانستان راتلونکی تضمینوي.

انسان په خپل وار سره د الله تعالی له جانبه او هم د خپل انساني فطرت له اړخه مؤظف او مکلف دی چې د ځمکې په عمران او د یوه سوکاله ژوند د اسبابو او ایجاباتو د تکمیل لپاره خپل اغیزمن نقش، همدارنګه ملي او اسلامي رسالت ادا کړي.

له همدې ځایه ده چې د یوه ژوندي او فعال انسان نقش، د خپل ژوند د چاپیریال او خپلې اړوندې ټولنې په اړه، تل مطلوب او په هیڅ حالت کې نه نفی کیږي او نه هم منقطع کیږي.

په ټول کې د پوهنې نظام او په خاصه توګه د تخنیکي او مسلکي زده کړو معینیت مسوولیت او مکلفیت لري چې د اسلامي ارزښتونو، احکامو او همداراز معقولو او مشروعو قوانینو ته په ژمنتیا سره، د افغانستان په انکشاف کې فعاله، چابکه او موثره ونډه واخلي، ځکه دغه ستر او سپیڅلي هدف ته د رسیدو په خاطر د انساني ظرفیت وده، د حرفوي، مسلکي او تخنیکي کادرونو روزنه او پراختیا یو اړین مقصد دی. همدا په تخنیکي او مسلکي زده کړو مزین تنکي ځوانان کولی شي چې په خپلې حرفې او هنر سره په سیستماتیک ډول د هیواد انکشاف محقق او میسر کړي.

جوته ده چې په افغانستان کې د ژوند تګ لاره، دولتداري او ټولنیز نظام د اسلام له سپیڅلو احکامو څخه الهام اخیستی، نو لازمه ده چې زموږ د ټولنې لپاره هر ډول پرمختګ او ترقي باید په علمي معیارونو داسې اساس او بنا شي؛ چې زموږ د کارګر نسل مادي او معنوي ودې ته پکې لومړیتوب ورکړ شي. د حرفوي ظرفیت جوړونې تر څنګ د ځوانانو سالم تربیت او په سوچه اسلامي روحیې د هغوی پالنه نه یوازي پخپل ذات کې یوه اساسي وجیبه ده، بلکې دا پالنه کولی شي چې زموږ وطن پخپلو پښو ودروي، له ضعف څخه یې وژغوري او د نورو له سیاسي او اقتصادي احتیاج څخه یې آزاد کړي.

زموږ ګران زده کوونکي، محصلان، درانه استادان او مربیون باید په بشپړه توګه پوه شي، چې د ودان او نیکمرغه افغانستان ارمان، یوازې او یوازې د دوی په پیاوړو متو، ویښ احساس او نه ستړي کیدونکي جد او جهد کې نغښتی او د همدغو مسلکي او تخنیکي زده کړو له امله کیدای شي په ډیرو برخو کې د افغانستان انکشافي اهداف تر لاسه شي.

د دې نصاب له ټولو لیکوالانو، مولفینو، ژباړونکو، سموونکو او تدقیق کوونکو څخه د امتنان تر څنګ، په دې بهیر کې د ټولو کورنیو او بهرنیو همکارانو له مؤثرې ونډې او مرستو څخه د زړه له کومي مننه کوم. له درنو او پیاوړو استادانو څخه رجامندانه هیله کوم چې د دې نصاب په ګټور تدریس او فعاله تدریب سره دې د زړه په ټول خلوص، صمیمي هڅو او وجداني پیکار خپل ملي او اسلامي نقش ادا کړي.

د نیکمرغه، مرفه، پرمختللي او ویاړمن افغانستان په هیله

**فاروق وردګ**

**د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


| څپرکی | سرلیکونه | پاڼې |
|---|---|---|
| لومړی | د احصائیې عمومي تیوري | ۱-۸ |
| دویم | احصاییوي عملیې او تحقیقاتي پړاوونه | ۹-۲۲ |
| درېیم | د پېښېدو د تکرار توزیع (د فریکونسي توزیع) | ۲۳-۵٤ |
| څلورم | د خورېدو(پراګندګۍ) مقیاسونه | ٥٥-٦۲ |
| | دویم برخه | |
| | د احتمالاتو تیوري | ٦۳-٦٤ |
| لومړی | د احتمالاتو مفاهیم | ٦٥-۷٤ |
| دویم | د احتمالاتو د سنجش بنسټیز قواعد | ۷٥-۸۸ |
| درېیم | د ترکیباتو تیوري | ۸۸-۹٦ |
| | سرچینې او اخیستنې | ۹۷ |
| | د ښوونیز نصاب د پراختیا د ریاست پیغام | ۹۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سریزه**

احصائیه له ټولو حیاتي مسایلو سره سر او کار لري، نه یواځې د احصایې له علمي روشونو څخه استفاده کول دپلان جوړونې په تخنیکونو کې ډیر زیات اهمیت لري، بلکې اغیزناک اقدامات د ټولنیزو او اقتصادي سیاستونو د طرح او تطبیق په اړوند او د اقتصادي مسایلو او مشخصاتو سنجش او ارزونه ټول په احصاییوي موثقو معلوماتو او د شمیرو(اعدادو)په علمي تحلیل او ارزونې او راټولونې باندې متکي دي. احصاییه د ناپیژندل شوو څیزونو لپاره یوه وسیله ده چې موږ به یې په لومړیو برخو کې ووینو چې هریو له دغو توضیحاتو څخه په درک او فهم کې هغه څه چې احصاییه ده اتلاق کیدای شي.

احصاییه له ډیرې زیاتې پخوا مودې نه را په دې خوا د یو دسپلین په توګه د بیلابیلو هیوادونو د لوړو زدکړو موسساتو په زیاتره دیپارټمنتونو کې تدریس کیږي.

د دې کتاب محتوا په عمومي توګه دوه برخې لري د تشریحي احصایې اخیستنه چې د ګرافیکي او عددي لنډو معلوماتو په برابرولو او پراختیا باندې چې یو شمیر تجارتي پدیدې تشریح کوي متمرکزه ده. او دویم استنباطي احصاییه چې دا خلاصه شوي عددي معلومات د ارزیابۍ لپاره د تجارتي تصمیم نیونې په پروسه کې د استفادې وړ ګرځوي. د مضمون عمده برخه استنباطي احصاییه جوړوي او په دې ترتیب موږ غواړو تر څو وښیو چې څرنګه تاسې کولای شئ له احصایې څخه د ارقامو د تعبیر او بدلون لپاره استفاده کوئ او هغوی په تصمیم نیونه کې په کار واچوئ څرنګه چې د احصایې د علم بنسټ تصمیم نیونه جوړوي او یوه منطقي او علمي تصمیم ته رسیدل د پیژندل شوو حقایقو د ځایونو په رڼا کې شاید چې مغلق شمیر نه وي خو که چیرې دقیق او موثق معلومات میسر نه شي زمونږ تصمیم نیوونکي وګړي به د تیرو وګړو تجربو او یا په موسسو تکیه وکړي البته په داسې ځایونو کې د هغو پایلو دقت او مؤثریت چې په لاس راځي په پوره اندازې سره د قناعت وړ نه ده، بلکې یواځې د یوې احتمالي ټاکلې فیصدۍ ډاډ یا اطمینان به پیدا شي. زیاتره مشغولیتونه د دولت په دستګاه کې او مشغولیتونه په نورو ساحوکې له تاسو څخه غواړي تر څو د راټولو شوو اطلاعاتو پر پایه تصمیم ونیسئ، ځکه په دغو میتودونو پوهیدل (احصاییوي میتودونه) علمي مزایاوې او د اهمیت وړ په کار اچونه هغوی ته وړاندې کوئ.

**په درناوي**

**نور الله ابراهیمي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د کتاب ټولیزه موخه:**

د احصایې عمومي تیوري، عملیو، تحقیقاتي پړاوونو دپېښېدو د تکرار توزیع او د خپریدو مقایسونو پیژندل، همدارنګه د احتملاتو له تیورۍ، مفاهیمو، قواعدو او د ترکیباتو له تیورۍ سره یې بلدتیا.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## د احصائیې عمومي تیوري

**ټولیزه موخه:**
د کارکوونکو د علمي تحقیقاتو په غرض د کار وړ اطلاعاتو د مجموعې لاسته راوړل

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې به محصلین وکولای شي چې:

- د احصایې د علم د بشپړتیا تاریخ توضیح کړي.
- د احصایې د علم بنسټیز مفاهیم توضیح کړي.
- د احصایې له علم څخه د استفادې ځایونه تشریح کړي.

### د احصایې عمومي تیوري

احصائیه او د هغه مفاهیم:احصاییه یوه عربي کلمه ده، چې د هغې لغوي معنا په دري کې (آمار) او د حیاتي مسایلو شمېرل، آمار نیول او کله هم (شمېرل) دي او په پښتو کې هغې ته (شمېر) او (شمېرل) وایي. په آلماني کې د (Statistik) کلمه او په انګلیسي کې د (Statisties) کلمه د احصایې معنا افاده کوي.

د اقتصاد د پوهانو او د احصایې د صاحب نظرانو په عقیده د (Statisties) یا احصایې کلمه د (Status) له کلمې څخه مشتق شوې ده، چې له هغې څخه د قانوني موقف قانوني وضعیت استنتاج کیږي. سربیره پر دې له نوموړې کلمې څخه د حکومت لګښتونه او د وضعیت حالت هم راوځي. د (Status) د کلمې علمي تعبیر د سیاست والو او دولت د اړتیا وړ پر ټولو ارقامو او معلوماتو باندې پایلی ته رسیږي یانتیجې ته رسیږي.

د احصایې د علم په اړه بېلابېل تعریفونه ورکړل شوي دي چې ځینې له هغوی څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

محدود مفاهیم او ځینې نور پراخ مفاهیم لري. چې یوه یې د ارقامو علم او بل هغه یې د پرمختیا او پراختیا په لور د یوې ټولنې د خصوصیاتو د ساخت او بافت د مطالعې وسیله شودلې ده. د احصایې د علم د مفهوم په اړه باید ووایو چې دا اصطلاح د مهارتونو کچه یا میزان د نفوسو د سر شمیرنې په چوکاټ کې د بیکارۍ ارقام یا د حقایقو عددي تعریفات (چې په احصاییه کې پیښیږي) ذهن ته راګرځوي یا په ساده توګه د یوه مضمون یو مکلفیت دی چې تاسې باید هغه بشپړ کړئ.

احصاییه یو ګټور او موخه لرونکی علم دی چې له هغې څخه د ګټه اخیستلو پراخه حوزه د دولتي فعالیتونو په تجارت، پلان جوړونې او همدارنګه د هغې په کار اچونه په طبیعي او ټولنیزو علومو کې څه ناڅه نامحدوده ده. باید یادونه وشي په هغه صورت کې چې احصاییوي ارقام په غلطه توګه وکارول شي، کیدای شي دروغجنه یا کاذبه پایله ولري.

په ۱۷ او ۱۸ مه میلادي پیړۍ کې زیاتره پوهانو او لیکوالانو احصایې ته یې د پیژندنې لومړني موضوعات او سیاست له علم سره نږدې تړاو ورکړی دی یعنې هغه یې د هغه علم په توګه چې د موجوده زمانې لومړي اساسي نظم او ترتیبات زده کوي معرفي کړ.

وروسته د احصایې په نړیوال کنفرانس کې چې یوه پیړۍ وړاندې د هالند په پلازمینه کې جوړ شوی و، له آلمان څخه د انګل په نوم یو پوهاند چې د کانګرس له ګډون کوونکو څخه و په ډاګه کړ چې د احصایې د کلمې لپاره یوسل او اته ۱۰۸ بیل تعریفونه شتون لري.

همدارنګه په ۱۸۸۰ میلادي کال کې د لندن د احصایې د ټولنې رییس وړاندیز وکړ، تر څو لاندینی تعریف د احصایې لپاره د منلو وړ وګرځي. احصاییه له هغه علم څخه عبارت ده چې د بشري ټولنې جوړښت تر مطالعې لاندې نیسي.

پورتنیو تشریحاتو ته په پام سره احصاییه د هغه د پراخه او علمي مفهوم په توګه داسې تعریف کیږي.

احصاییه له علم او د علمي لارو له مجموعې څخه عبارت ده، پدې غرض:

الف- د شمېرو(اعدادو) او معلوماتو راټولونه، لنډیز او ترتیبول.

ب- د معلوماتو او شمېرو(اعدادو) وړاندې کول.

ج- د شمېرو(اعدادو) او معلوماتو مطالعه او څیړنه(تحقیق).

د- د شمېرو(اعدادو) او معلوماتو نتیجه ګیري، تفسیر او تعبیر.

هـ- د تحلیل شوو شمېرو(اعدادو) او معلوماتو په نظر د تفاهیمو لاسته راوړنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بل عبارت احصاییه د علم یا د علمي میتودونو له مجموعې څخه عبارت ده، چې د معلوماتو او شمېرو د انسجام، څرګندولو او تحلیل په غرض، د استنتاج او تصمیم نیونې په یوه یا څو ځایونو کې د تحلیل شوو معلوماتو او شمېرو(اعدادو) د نظریاتو په اړه راټولیږي.

**د احصایې سیر او تکامل ته لنډه کتنه**

په لرغونو ټولنو کې احصاییه د نفوسو د شمیرلو په مقصد، د مکلفیت د تعمیل او د مالیاتو د ورکړې یا د وګړو د عسکري خدمتي دورې د سرته رسولو لپاره کارول شوې ده. داریوش د مالیاتو د راټولونې او د کادستر د جوړونې لپاره یو شمېر وګړي وګمارل.

یوناني اسکندر احصاییه د اهمیت وړ بلله. امپراتور اګوست د لومړي ځل لپاره د خپلې امپراتورۍ د شتمنۍ بیلانس جوړ کړ، وروسته یې له مخې خپل پوځیان او کښتۍ وشمیرلې.

همدارنګه مصریانو، رومیانو او داسې نورو په بیلابیلو ځایونو کې له احصایې څخه استفاده کړې. د بیلګې په ډول د عدد سنجش د اوسط له قواعدو څخه په استفادې او د وسطي حد سنجش د لرغوني یونان د پیژندل شوي ریاضي دان فیثاغورث په زمانه کې ترسره شوي دی. په ځینو آثارو کې د احصاییوي سروې ګانو له عملیاتو څخه د بابلیانو د مدنیت په زمانه کې یادونه شوې ده: کله چې د ټولنیز ژوند اوضاع کړکیچنه شوه، د هغوی د اقوالو، بیانونو او استنباط د پایلو د ثقه والي لپاره د یوه کل عدد او رقم د څرګندولو په بڼه زیاتو غوښتنو پراختیا موندله.

که څه هم د علم له پراختیا سره د احصایې علمي بڼه له اتلسمې میلادي پیړۍ څخه پیل کیږي. خو ریښتینی انکشاف په هغه کې له شپاړسمې میلادي پیړۍ څخه را په دېخوا پیل شو، او لګښتونه په ریښتیني انکشاف کې هغه مهال دي چې د لویدیځو اروپایي هیوادونو بیلابیل حکومتونو د خپلو ښاریانو د وګړو په اړه د معلوماتو راټولولوته لېوال شول. د احصایې ثبت او فیات په انګلستان کې په ۱۵۳۲ میلادي کال کې ترسره شوي او په هغه پسې په فرانسه کې یې رواج پیدا کړی دی.

په سویډن کې د نفوس د احصایې نیونې نسبتاً عصري بڼه په کال ۱۷۸۴میلادي کې پیل شوه. د احصایې د علم د ودې او پراختیا په برخه کې ډیرو پوهانو او علماوو ګټور کارونه کړي دي چې د هغوی له جملې ادلف کویت لت (۱۷۹۶ –۱۸۷۴) یو تن بلژیکي عالم لومړنی احصاییه پوه و، چې د شمېرو او ارقامو د راټولونې په اړه یې احصاییوي نوي اصول په کار واچول. باید یادونه وشي چې په ځینو شخصي آثارو کې یې کویت لت ته د نوې احصایې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

علم د پلار خطاب کړی دی هغه د یوه احصاییوي مرکزي کمیسیون بنسټ کیښود چې په تدریج سره د یوه ځمونه یې سازمان په توګه د زیاترو هېوادونو د احصاییوي تأسیساتو د منځ ته راتلو لپاره د استفادې وړ وګرځېد.

برنولي (۱۷۰۰ – ۱۷۸۲) میلادي او لاپلاس هم د احصایې د علمي قوانینو له موسسینو څخه ګڼل کیږي چې د احتمالاتو سنجش او ریاضي ګډون په احصاییه کې د نیونې لارې او د اندازه نیونې دقیق روشونه یې را مخ ته کړي دي.

په وروستیو کلونو کې احصاییه د یوه دسپلین په بڼه منځ ته راغله او په زیاتره نظري او علمي ځانګوکې یې ډېر زیات ارزښت لاسته راوړی دی. د دې پیړۍ په نیمایي کې د احصایې کورسونه په ترتیب سره د روحیاتو، ښوونې او روزنې او اقتصاد په دیپارټمنټونو کې او اوس د بیلابیلو هیوادونو د پوهنتونونو په زیاتره دیپارټمنتونو کې د هغه تدریس د یو اساسي مضمون په توګه ترسره کیږي، او په وروستیو کلونو کې د وخت له غوښتنو سره سم او احصاییوي پرسونل ته په اړتیا سره د احصاییوي مضامینو او اقتصادي ریاضیاتو په شمېر کې زیاتوالی راغی او د ۱۳۵۴هـ ش کال له پیل څخه را په دیخوا احصاییوي رشتوي مضامین او د احصایې او اکنومتري دیپارټمنتونه کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځي په چوکاټ کې منځ ته راغلي دي.

له احصایې څخه دګټې اخستنې موارد، په ټولنه اواقتصادي پلان جوړونه کې دهغې اهمیت:

څرنګه چې مخکې یادونه وشوه د احصایې تاریخي لرغونوالی ډېرو پخوانیو زمانوته رسیږي. پراختیا او له احصایې څخه د استفادې ځایونو هم بیلابیل پراونه وهلي دي او اوس هم د ودې په حال کې دي. په لرغونو ټولنو کې احصاییه د نفوسو د شمېرلو او مالیاتو د ورکړې په مقصد د مکلفیتونو لپاره کارول کېده. په منځنیو پیړیو کې د احصایې له نظره د کرنیزو ملکیتونو د اندازې ثبت اهمیت درلود.

یو دا چې د ساري ناروغیو تلفات او د هغه څرګندیدل په سمه توګه سنجش او وپیژندل شي او بل دا چې نفوس ډېر مهم قدرت ( د دولت لویوالی په خاصه توګه د هغه نظامي قدرت ) پیژندل کېده.

د ۱۷ مې میلادي پیړۍ په شاو خوا کې هغه سروې ګانې چې له نوې سرشمېرنې سره نږدې ورته والی درلود تر اجرا لاندې راغلې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه اقتصادي او سیاسي بدلونونه او تحولات چې د فرانسې له ستر انقلاب څخه وروسته په اروپا کې منځ ته راغلل او له ځنډه پرته له ۱۸۷۱میلادي کال څخه وروسته د احصاییو په راټولونه کې د تحول او چټکی پراختیا لاملونه په زیاتره اقتصادي او ټولنیزو سکتورونو کې مخکې له مخکې څخه آماده او چمتو شوي دي.

په تدریج سره احصاییوي معلومات چې غالباً د دولت اسرار پیژندل کېدل په ورځپاڼو او جرایدو کې خپاره شول او په ټولو ځایونو کې وویشل شول. د احصاییوي معلوماتو د صحت او اعتبار په اړه لازمې څېړنې ترسره شوې او احصاییوي روشونه د تیروتنو د کچې د تثبیت په مقصد تر مطالعې لاندې راغلل. په احصاییه او اقتصاد کې د ریاضي او احتمالاتو شاملول عمده ګامونه او د احصایې زیاته پراختیا وګڼل شوه. د احصایې اقتصادي څانګې(شعبات) د احصایې په ملي برخو کې په زیاتره هیوادونو کې تأسیس او د احصایې کانګرسونو او نړیوالو سازمانونو په کار پیل وکړ.

د کرنیزو ملکیتونو د دفترونو اسناد او د ځمکو د هستوګنو د مالکیت لیږدول، د وګړو د مال مکلفیت او د دولت د عوایدو مدرکونه یې وټاکل. له حیاتي احصاییو او د نفوسو د احوالو له ثبت سره مینه او علاقه له دوو پلوو څخه زیاته شوه.

د احصایې نړیواله لومړنۍ جلسه په ۱۸۵۳ میلادي کال کې د احصایې د نړیوال کانګرس تر سرلیک لاندې جوړه شوه.

په ۱۸۵۵ میلادي کال کې د احصایې نړیوال انستیتوت په لندن کې تأسیس شو. له دویمې نړیوالې جګړې وروسته (۱۹۴۷) میلادي کال څخه را په دیخوا د احصاییوي فعالیتونو د ورځنیو پراختیا او انکشاف چې د علمي تحقیقاتو او د نویو احصاییوي سیستمونو او روشونو په وړاندې په اقتصادي بیلابیلو هیوادونو کې په ملي او نړیواله سویه یو ځای و اختراع او له کمپیوټرونو او د حساب له ماشینونو څخه په استفادې د جدولونو په جوړولو او ترتیب او د شمېرو او ارقامو د سنجش اړوند مسایلو په حل کې بې سابقه بدلون یې په احصاییه کې منځ ته راوړی دی.

د نړۍ په زیاتره هیوادونو کې احصاییه د یوې اساسي او اړینې وسیلې په توګه د پلان جوړونې، کنټرول او نظارت، انسجام او د فعالیتونو او اجرااتو د لارښونې په اړه پیژندل شوې او احصاییوي اداراې او د پلان جوړونې سازمانونه هم مهاله او یو ځای پراخ شوي دي. زمونږ په ګران هېواد کې هم د احصایې مرکزي اداره د وخت د اعظمی صدارت تر مستقیم اثر

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندې په ۱۳۵۲ لمریز کال کې جوړه شوې او اوس د یوې خپلواکې ادارې په توګه په ځانګړې ډول د لاندینیو موخو په برخه کې فعالیت کوي.

۱- د متمرکز احصاییوي اوعلمي سیستم تأمین اوپراختیا، دهېواد اوسنیو شرایطو ته په پام سره د بین المللي معیارونو سره سم د اړتیا وړ ارقامو دوامداره احصایې د راټولولو، تصنیف، تجزیې، تحلیل، نشر او توزیع کول اوله هغې څخه په انکشافي ، اقتصادي اونورو ټولنیزو پروګرامونو دترتیب او پلانونې په موخه ګټه اخستل.

۲- د ادارې، موسسو او زیاتره وګړو د احصاییوي فعالیتونو علمي او مسلکي لارښوونې، بررسۍ او کتنې(نظارتونه) چې د احصاییوي معلوماتو او ارقامو په راټولونه کې برخه اخلي یاکار کوي.

۳- په ملي کچه د کمپیوټري خدماتو او فعالیتونو تنظیم او تمرکز.

٤- په ملي کچه د میتودولوژۍ تثبیت د احصایې ثبت او راټولونه حیاتي وقایع (پیښې) او د هغې تدریجي عمومیتوب.

٥- د دولت په انکشافي پلانونو کې شامل پروګرامونه او د پروژو د کار پرمختګ او تطبیق پورې اړوند د احصاییو او ارقامو راټولونه او د راپورونو د جوړولو او بررسۍ په منظور او په دې اړه لازم وړاندیزونه لوړ پوړو مقاماتو ته.

نن ورځ نه یواځې د احصایې له علمي روشونو څخه استفاده کول د پلان جوړونې په تخنیکونو کې زیات اهمیت لري، بلکې اغیزناک اقدامات د اقتصادي، مالي، بودجوي پولي، تجارتي او انکشافي سیاست ټاکل او طرحې پورې اړوند د دولت د عوایدو او لګښتونو اندازه نیونه او سنجش، د ژوند د سطحې او قیمتونو د شاخص تثبیتول او د تادیاتو د بیلانس تحلیل او ترتیب او داسې نور ټول د احصاییوي معلوماتو او شمېرو(اعدادو) په راټولونه، په ترتیب سره وړاندې کول، تحلیل اوپه علمي ارزیابیو متکي دي.

**د لومړي څپرکي د مطالبو لنډیز**

احصاییه عربي کلمه ده، چې لغوي معنا یې په دري ژبه کې د شمارش او یا امار اخیستنې په معنا ده. په پښتو ژبه کې د شمېر او یا شمیرلو په معنا راغلې او همدارنګه په آلماني ژبه کې د (Statistik) په نوم او په انګلیسي ژبه کې د(Statistice) کلمه د احصایې معنا افاده کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

احصایې د نن ورځې متداولې یا معمولې په معنا او مفهوم یعنې د روشونو مجموع د جدول بندۍ، تحلیل او د متداولې معلوماتو او څرګندولو د راټولونې په مقصد پېژندل شوې او احصاییوي تخنیکونه او توضیعي دستورالعملونه له شمېرو او ارقامو څخه د تصنیف او نتیجه ګیرۍ په مقصد چې په زیاته پیمانه شتون ولري، او همدارنګه باید یادونه وشي چې په لرغونو ټولنو کې له احصایې څخه د نفوسو د شمیرلو په مقصد، د مکلفیتونو او مالیاتو د ورکړې د ټاکلو او د وګړو د عسکرۍ خدمت د مکلفیت دورې سرته رسولو په غرض کار اخیستل کیده. د علومو له پراختیا سره د احصایې علمي بنه له اتلسمې میلادي پیړۍ څخه پیل کیږي خو په هغې کې ریښتینی انکشاف له شپاړسمې میلادي پیړۍ څخه را په دیخوا پیل شوی او له هغه مهاله تر نن ورځې د نړۍ په بیلابیلو هیوادونو کې له هغې څخه استفاده کیږي. څرنګه چې د نمونې په ډول په ۱۵۳۲میلادي کال کې ثبت او فیات په انګلستان کې ترسره شو چې وروسته په فرانسه کې یې هم رواج پیدا کړ.

په همدې ترتیب سره په ځینو هیوادونو لکه سویډن، ناروې، دنمارک کې هم زیات کارونه د احصایې د علم د پوهانو لخوا ترسره شوي دي. همدارنګه زیاتو علماوو او پوهانو هم د احصایې د علم په اړه نظریې او وړاندیزونه وړاندې کړي دي چې د هغوی له جملې څخه بلژیکي ردیف کویت (۱۸۷۴- ۱۷۸۶ میلادي) کال کې لومړنی احصاییه پوه و، چې د شمېرو او ارقامو د راټولونې په اړه یې احصاییوي نوي اصول په کار واچول.

په ځینو شخصي آثارو کې یې کویت لت ته د نوې احصایې د علم د پلار خطاب کړی دی. همدارنګه له نورو علماوو څخه لکه برنولي (۱۷۸۲ – ۱۷۰۰ میلادي) او لاپلاس (۱۹۴۹-۱۸۲۷ میلادي) هم د احصایې د عملي قوانینو د موسسینو له جملې څخه شمېرل کیږي نوم اخیستی شو. د احصایې له علم څخه د استفادې په اړه باید یادونه وشي چې د ننني نړۍ په زیاتره هیوادونو کې له احصایې څخه د یوې اساسي او اړینې وسیلې په توګه د پلان جوړونې، کنټرول، نظارت، انسجام او د فعالیتونو او اجرااتو د لارښونې په اړه استفاده کیږي.

زمونږ په ګران هیواد کې هم نن ورځ نه یواځې د احصایې له علمي روشونو څخه استفاده کول د پلان جوړونې په تخنیکونو کې زیات اهمیت لري، بلکې اغیزناک اقدامات د اقتصادي، مالي، بودجوي پولي، تجارتي او انکشافي سیاست ټاکل او طرحې پورې اړوند د دولت د عوایدو او لګښتونو اندازه نیونه او سنجش، د ژوند د سطحې او قیمتونو د شاخص تثبیتول او د تادیاتو د بیلانس تحلیل او ترتیب او داسې نور ټول د احصاییوي معلوماتو او شمېرو(اعدادو) په راټولونه، او ترتیب سره وړاندې کول، تحلیل اوپه علمي ارزیابیو متکي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لومړي څپرکي پوښتنې

۱- آیا په دري او پښتو کې د احصایې په لغوي معنا پوهیږئ ؟
۲- د احصایې کلمه د(Status) له کلمې څخه مشتق شوې ده هغه مفاهیم چې له دې کلمې څخه استنتاج کیږي، نومونه یې واخلئ ؟
۳- د احصایې په محدوده کې عامیانه مفاهیم توضیح کړئ؟
٤- احصاییه په پراخ مفهوم سره تعریف کړئ؟
٥- په لرغونو ټولنو کې احصاییه د کومو مقصدونو لپاره کارول کېده؟
٦- د احصایې ریښتینی انکشاف له کوم وخت څخه پیل شوی او د هغه لامل څه و؟
۷- د هغو مشهور علماوو او پوهانو نومونه چې د احصایې په علمي پراختیا کې یې څرګنده ونډه درلوده واخلئ؟
۸- د احصایې اهمیت د ژوند په ټولو مسایلو کې په عمومي توګه او د پلان جوړونې په برخه کې په لنډه توګه توضیح کړئ ؟
۹- د مرکزي احصایې د ادارې ځانګړې موخې او دندې څه دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دويم څپرکی

## احصاييوي عملېږ او تحقيقاتي پړاوونه

**ټوليزه موخه:**

احصاييوي عملېږ او تحقيقاتي پړاوونه.

**د زده کړې موخې:** محصلين د دې څپرکي په پای کې وکولای شي چې:

- د احصاييوي ارقامو د راټولونې پړاوونه عملي کړي.
- د احصاييوي ارقامو د تحليل او شننې لارې توضيح کړي.
- له احصاييوي ارقامو او شمېرو څخه لازمې نتيجه ګيرۍ ترلاسه کړي.
- احصاييوي بڼې(شکلونه) او ارقام څرګندکړي.
- احصاييوي بيلابيل ګرافونه انځور کړي.

### احصاييوي عملېږ او تحقيقاتي پړاوونه

لکه څرنګه چې په مخکني څپرکي کې وويل شول، احصاييه له علمي لارو او روشونو سره سر او کار لري چې د هغې په اساس معلومات او شمېرې راټولېږ، ترتيب او په لنډه توګه وړاندې او تحليل کيږي او نظر هغه ته نتيجه ګيري او تصميم نيونه تر سره کيږي. د دې عمليو او ترتيباتو د ترسره کولو لپاره بايد لاندې پړاوونه ووهل شي:

الف- د موخې تثبيت او ټاکل.

ب- د تجربې طرح يا ټاکل.

ج- د شمېرو(اعدادو) او معلوماتو راټولونه.

د- د جدول بندۍ تصنيف، د پايلو څرګندول تحليل او توضيح.

هـ- ديادوشويو پړاوونو تصميم او نتيجه ګيري چې هر يو په لنډه توګه توضيح کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**الف- د موخې تثبیت یا ټاکل:** احصاییوي تحلیل په شمېرو او ارقامو پیل کیږي او د اړتیا وړ معلوماتو او شمېرو د راټولونې په غرض له ټولو څخه مخکې دولت باید واضح کړي چې په کومه موضوع کې تحقیقات یا څېړنې کوي. څېړونکي یواځې د ستونزو د سم تعریف او توضیح په صورت کې کولای شي تشخیص کړي چې څه ډول شمېرې او معلومات د اړتیا وړ دي.

په هغه صورت کې چې موضوع په پیل کې په وضاحت سره تشخیص او تثبیت شوې نه وي راټولې شوې شمېرې شاید بې ځایه وي یا د ښه څرګندولو په ځای موضوع نوره هم پېچلې کړي. باید ښه څرګنده شي چې دلاسته راغلو احصاییوي پایلو کیفیت او څرنګوالی د راټولو شوو شمېرو په ثقه والي او مناسب والي باندې متکي دی. چې په خپل وار سره د مطرح موضوع په سم تشخیص او طرحې پورې اړه لري. په هغه صورت کې احصاییوي تخنیکونه حتا په زیات دقت سره نه شي کولای نظر دې شمیروته ګټورې پایلې د تصمیم نیونې په غرض د اړوندو ستونزو(موضوع) په اړه چمتو کړي.

**ب- د تجربې طرح یا ټاکل:** کله چې د پام وړ موضوع په دقیقه توګه طرح شوه څېړونکی باید تصمیم ونیسي، چې د اړوندو کتنو یا مشاهداتو مجموع په عمومي بڼه یا د هغې یوه برخه مطالعه یا تر کتنې لاندې راولي. کله چې ټولې کتنې یا مشاهدات مطالعه کړي د (ټولیز شمار)په نوم او که چیرې د هغې یوه برخه تر کتنو لاندې راولي اړوند روش د (نمونه ګیری) په نوم یادوي. ټولیز شمار په عمل کې اکثراً، زیات وخت او لګښت غواړي یا حتا د هغه تطبیق ځینې وخت هم د امکان وړ نه وي. د هغه پر ځای ناچاره باید مطالعه د نمونه ګیری (سمپل) له لارې ترسره شي.

په نمونه ګیری کې هڅه کیږي تر څو د نمونوي شمېرو پر اساس چې له مشاهداتو څخه نمونه ګیري شوې تصمیم پیل شي. نو په دې اساس نمونه باید له اړوندو کتنو یا مشاهداتو څخه سم استازیتوب وکړي. د داسې یوې نمونې اخیستنه د احصایې د تیوري احصاییوي عمده برخه جوړه وي او یو شمېر پوښتنې رانغاړي لکه، نمونه باید تر کومې اندازې لویه وي په څه ډول شمېرې باید راټولې شي. دا شمېرې څه ډول راټولې شي. دا ډول پوښتنې د احصایې په هغې څانګې پورې تړاو لري چې د نمونې د طرحې یا(د تجربې طرح) په نوم یادیږي. د نمونې طرح باید په پوره دقت سره ترسره شي پرته له هغه نه شو کولای مطلوبې نتیجه ګیری ته ورسیږو.

د غیرناڅاپي یا غیر تصادفي نمونه ګیري، په خپل وار سره اتفاقي نمونه ګیري په مختلفو بڼو ویشل کیږي. لکه ساده ناڅاپي یا اتفاقي نمونه ګیري او مقیده ناڅاپي یا اتفاقي نم نمونې طرح کیدای شي په بېلابېلو بڼو ترسره شي. لکه ناڅاپي(یا تصادفي) نمونه ګیري ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګیري، یواړخیزه، دوه اړخیزه او څو اړخیزه او مکرره نمونه ګیري، همدارنګه غیر اتفاقي نمونه ګیري د توپیر لرونکي یا تفاوتي نمونه ګیری په بڼه په صحیح او ډاډ سره نیول کیږي چې هر یو د دغو نمونه ګیری لارې د ځانګړو ښېګڼو یا مزایاوو او نیمګړتیاو لرونکې دي چې تر یوه حده پورې د کتنو یا مشاهداتو په ډول او د احصاییوي سروې په موخې پورې اړه لري.

**ج- د احصائیوي شمېرو(اعدادو) او معلوماتو راټولونه:** د احصائیوي څېړنو درېیم پړاو له طرحې شوې تجربې سره سم د شمېرو او معلوماتو له راټولونې څخه عبارت دی. دا پړاو نظر بل هر یو احصاییوي څېړنیز پړاو ته زیات وخت او زیات لګښت غواړي. په دوو مخکینیو پړاوونو کې ځینې د موخې په ټاکلو او تثبیت کې او د نمونې په طرح او شننه کې اړینه ده. د مطالعې اړوندې موضوع په اړه څېړونکی یا محقق باید د معلوماتو او پوره پوهې لرونکی وي او له خپل قضاوت څخه هم ګټه واخلي او د شمېرو او معلوماتو د راټولونې پر خلاف او حتا یوه ښه پایله لاسته راتلای شي، چې په دې برخه کې باید شخصي قضاوتونه ذیدخل نه وي.

احصاییوي شمېرې او معلومات په بیلابیلو لارو، بیلابیلو موخو ته په کتو سره راټولیږي.

په عمومي توګه د معلوماتو لاسته راوړنه او د شمېرو راټولونه په دوو بڼو ترسره کیږي:

الف- مستقیم

ب- غیر مستقیم

په مستقیمه بڼه څېړونکی کولای شي شمېرې او معلومات د ملاقاتونو، مصاحبو یا نمونوي سروې ګانو یا کتنو (مشاهداتو) له لارو راټول کړي.

په غیرمستقیمه توګه څېرونکی کولای شي، معلومات د لیکنو، پوښتنپاڼو (استعلامونو)، فورمو، د نشراتو له اخځ لیکونو، سرچینو او داسې نورو څخه په استفادې لاسته راوړي.

دیادولو وړ ده، چې د شمېرو او معلوماتو په راټولونه کې بهتره ده، چې په هره برخه کې اصل زمان، سموالی او اقتصادي والی په پام کې ونیول شي.

که چیرې لومړنۍ راټولې شوې شمېرې اوږدې وي، باید هغوی د ترتیبولو په غرض لنډې(خلاصه) کړل شي. لکه اوږدې سمې شمېرې د ۱۰،۱۰۰ یا ۱۰۰۰ او داسې نورو په واحدونو لنډې او خلاصه شي یا اوږدې اعشاري خانې، له امکاناتو سره سم او په لاس کې د شته وسایلو په مرسته لومړۍ، دویمې او درېیمې نږدې خانې ته نږدې کړل شي.

**د- د احصاییوي شمېرو(اعدادو) ترتیبول:** له لنډیز وروسته شمېرې باید واضح او د ویلو وړ ولیکل شي، او د تحلیل او څرګندولو د آسانولو لپاره دې ترتیب شي، که چیرې شمېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظر کمیت او شمېر (تعداد) ته ترتیب او تصنیف شي هغه لړۍ یا سلسله چې لاسته راځي د پیښې د بیا ویشنې یا د فریکونسۍ د ویشنې په نوم یادیږي. په وروستیو څپرکو کې به یې په پوره ډول مطالعه کړو. همدارنگه که شمېرې نظر زمان ته ترتیب شي اړونده لړۍ یا سلسله یوه زماني لړۍ نومیږي. سربیره پر دې شمېرې د جغرافیايي او محیطي شرایطو موقعیت، سن، کیفیت او نورو خصوصیاتو په نظر نیولو سره ترتیب، دسته بندي او څرگندیږي.

د شمېرو او معلوماتو څرگندول کیدای شي د احصاییوي بیلابیلو بڼو او په بیلابیلو لارو لکه جدولونو، گرافونو او نورو هندسي بڼو په وسیله ترسره شي.

**هـ- د احصائیوي شمېرو(اعدادو) او معلوماتو تحلیل او څرگندونه:** په دې برخه کې د احصاییوي څیړنو د پړاو په اړه باید یادونه وشي چې د احصاییوي شمېرو او معلوماتو څرگندونه کیدای شي له لازم تحلیل څخه مخکې او حتا له نتیجه گیرۍ څخه وروسته هم تیار او آماده شي، نو نوموړې عملیې د احصاییوي څیړنې ډېر عمده پړاو یعنې د شمېرو او معلوماتو تحلیل ترسره کوي.

د تحلیل د څرنگوالي ډول تر زیات حده پورې په ټاکل شوې موخې یا طرح شوې موضوع او د موجوده شمېرو او معلوماتو په ډول پورې تړلی دی او کولای شي په بیلابیلو لارو ترسره شي.

د بیلگې په ډول ځینې مطروحه موضوعات داسې دي چې راټول شوي معلومات او شمېرې له ترتیب، توحید او څرگندولو وروسته د ځینو شمېرو د مقیاسونو یا مشخصاتو په کار اچولو لکه د اوسطونو، انحراف یا خورتیا(پراگندگي) یا فیصدیو او نور سنجش غوښتنه کوي.

دا مشخصات که په نمونوي شمېرو متکي وي د احصاییوي مشخصو(Statisties) په نوم او که چیرې له کتنو یا مشاهداتو او د مشاهداتو د ټولې مجموعې له شمېرو څخه لاسته راغلي وي پارامتر نومول کیږي.

**و- د نتیجه گیرۍ او تصمیم پړاو:** که چیرې د ټولو کتنو یا مشاهداتو نمونه یا تجربه په ځان کې راونغاړي او ځینې احصاییوي تحقیقات په یوه سروې کې د کلي شمار په بڼه وي د پام وړ سروې وروستنی پړاو ته تشریحي احصاییه یعنې څلورم پړاو چې پورته یې یادونه شوې جوړوي. په بل عبارت په څلورم پړاو کې د کتنو یا مشاهداتو د مجموعې خصوصیات او مشخصات توضیح او تشریح شوي او نظر هغه ته د طرح شوې موضوع په اړه تصمیم نیول کیږي. د دې پر خلاف که چیرې سروې نمونوي وي او یواځې د کتنو یا مشاهداتو له مجموع څخه یوه برخه په ځان کې راونغاړي، په دې حالت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تشریحي احصایه د څېړنې یا تحقیق وروستنی پړاو نه دی د احصاییوي عملیو او مطالعو زیاته غوښتنه کوي، ځکه له مطالعې او د نمونې له تحلیل څخه موخه د نتیجه ګیرۍ د مشاهداتو یوه مجموعه او د تصمیم پیل د همغو مشاهداتو په اړه وي.

**د احصائیوي بڼو (شکلونو) په مرسته دشمېرو وړاندې کول:** احصاییوي شمېرې او معلومات له راټولونې څخه وروسته باید په ترتیب، توحید او تصنیف سره وړاندې شي. البته د شمېرو څرګندونه چې وروسته به هم وویل شي له تحلیل څخه مخکې یا وروسته تر سره شي. د شمېرو څرګندونه عموماً په دوو لارو ترسره کېږي.

۱- په شفاهي یا لفظي توګه.

۲- په لیکل شوې بڼه د احصاییوي بڼو په وسیله.

**احصایوي بڼې بیلابیل ډولونه لري چې، په عمومي توګه په دوو ډلو ویشل کېږي:**

الف- احصائیوي جدولونه.

ب- احصائیوي ګرافونه.

**الف- احصاییوي جدولونه او د شمېرو(اعدادو)جدول بندي:** جدول بندي د تحلیل او پرتلې په غرض د معلوماتو او شمېرو سیستماتیک او منظم ترتیبول دي. احصاییوي جدولونه که څه هم نظر لیکل شوو شمېرو او موخې یا طرح شوې موضوع ته زیات دي او په عمومي توګه پر دوو ډولونو باندې ویشل کېږي.

**عمومي جدول او خصوصي جدول:**

په عمومي جدول کې معمولاً لومړنۍ شمېرې یا اصلي شمېرې ترتیب او لیکل شوې دي او زیاتره د مأخذونو او سرچینو د ښودلو لپاره د عمومي مقصدونو په خاطر کار ترې اخیستل کېږي په داسې حال کې چې په خصوصي جدولونو کې شمېرې او معلومات ترتیب او لنډ (خلاصه)شوي دی او د مشخصو مقصدونو لپاره د استفادې وړ ګرځي.

د یوه احصاییوي جدول د جوړولو لپاره باید لاندې ټکي په پام کې ونیول شي:

**عنوان:** هر احصاییوي جدول باید یو عنوان ولري. د یوه جدول عنوان باید په لنډه او واضح توګه د هغه په پورتنۍ برخه کې ولیکل شي او باید درې څیزونه واضح کړي.

**الف-** په جدول کې د لیکل شویو اعدادو محتوا او د بحث موضوع.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ب-** هغه محل یا ځای چې شمېرې (اعداد) په ځان کې رانغاړي.
**ج-** هغه مهال یا وخت چې د هغوی په وسیله یې لیکل شوې شمېرې په ځان کې رانغاړلې دي.

**مأخذ یا سرچینه**

کله چې لومړني یا اصلي اعداد د لومړي ځل لپاره د څېړونکي په مرسته راټول شوي وي کېدای شي پرته د اخځلیک یا سرچینو له یادولوڅخه په یوه جدول کې ولیکل شي، خو په هغه صورت کې چې لیکل شوې شمېرې لومړنۍ شمېرې نه وي. باید دهغوی سرچینې او مأخذ د جدول په ښکته برخه او له لمن لیکونو څخه مخکې په واضح توګه ولیکل شي.

**یادښت یا لمن لیک (پاورقی):** که په یوه جدول کې لیکل شوې شمېرې زیاتې تشریح او څرګندولوته د یادښتونو او لمن لیکونو په بڼه اړتیا پیدا کړي. دا یادښتونه باید په وضاحت سره د جدول په ښکته برخه کې راوړل شي او وروسته په اخځلیک یا سرچینې کې ځای پرځای شي.

**د جدولونو خانې (ستون) او قطارونه:** هر احصائیوي جدول خانې(ستونونه) اوقطارونه لري، چې د هغوی شمېر په هماغه جدول کې دلیکل شوو شمېرو او معلوماتو په اندازې او د موضوع په څرنګوالي پورې اړه لري. د جدول خانې او قطارونه باید د زیات وضاحت لپاره د فرعي سرلیکونو لرونکې وي. کله چې د خانو او قطارونو شمېر زیات وي، ښه ده چې د فهرست ،څرګندولو او پرتلنې لپاره تصنیف او نمره بندي شي.

**د کچې (مقیاس) واحد:** په جدول کې باید د مقیاس واحد یا واحدونه په څرګنده توګه د جدول تر اصلي عنوان لاندې او یا د هرې خانې تر فرعي عنوانونو لاندې ولیکل شي. د بیلګې په ډول که د یوه جدول لیکل شوې شمېرې په فیصدۍ سره سنجش شوې وي، په دې حالت کې یواځې د مقیاس یو واحد(فیصدي)، شتون لري او د جدول تر اصلي عنوان لاندې توضیح شوې دي.

**مجموع:** د یوه جدول خانې(ستونونه) او قطارونه په عمومي توګه په هغه جدول کې د لیکل شوو شمېرو د مجموعې لرونکي وي البته د شمېرو په مجموعه کولو کې د یوه جدول په خانو او قطارونو کې د یوه ګډ مقیاس واحد شتون شرط دی. ځکه نشو کولای چې بیلابیل او متفاوت مقیاس درلودونکي واحدونه مجموعه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د جدول نمونه:** د پرمخ تللو هیوادونو د داخلي محصولاتو دمجموعي ودې د میتود وړاندوينه جدول ۱۹۶۰ تر ۱۹۷۹ کلونو کې شوې ده.

| کلونه | مخ پروده هیوادونه: په عمومي توګه | مخ پروده هیوادونه: افریقا | مخ پروده هیوادونه: لاتینه امریکا | مخ پروده هیوادونه: د آسیاجنوب او لویدیځ | مخ پروده هیوادونه: د اسیاختیځ | دمخ پروده هیوادونه پرته د نفتو یا تیلو له صادراتو څخه | هغه هیوادونه چې ډیره لږه پراختیا یې موندلې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۹۷۰-۱۹۶۰ | 5.5 | 4.6 | 5.5 | 4.7 | 8.7 | 5.2 | 3.1 |
| ۱۹۸۰-۱۹۷۰ | 6.2 | 5.3 | 5.9 | 5.4 | 9.0 | 5.4 | 3.1 |
| ۱۹۷۸ | 5.2 | 4.8 | 4.6 | 6.8 | 3.2 | 5.3 | 3.3 |
| ۱۹۷۹ | 5.3 | 5.3 | 6.3 | 4.8 | 3.0 | 5.2 | 2.4 |
| ۱۹۸۰ | 5.9 | 6.1 | 5.8 | 5.3 | 7.0 | 5.7 | 2.6 |
| ۱۹۸۱ | 6.0 | 6.3 | 5.6 | 6.1 | 7.0 | 5.4 | 3.6 |

**سرچینه:** د UNCTA د سکرتریت سنجشونه دې د ملي او نړیوالو رسمي سرچینو د شمېرو(اعدادو) په اساس ولیدل شي.

**ب- احصائیوي ګرافونه:** ګرافونه د دوو یا زیاتو اوښتونکو (متحولو) تر منځ د اړیکې له جولیزې څرګندونې څخه عبارت ده. د ګرافونو ډولونه او بڼې ډیرې زیاتې دي. د اوښتونکي یا متحول د پېښیدو په شمېر، د شمېرو په څرنګوالي او د موضوع په ډول پورې اړه لري، چې په بیلابیلو بڼو، نظر موخو ته په خاصه توګه رسم اوڅرګندیږي.څو ډوله احصاییوي ساده ګرافونه او معمولي چارتونه په وروستي څپرکي کې توضیح کیږي.

**خطي ګرافونه:** په دې ډول ګرافونوکې لکه له نامه څخه یې چې څرګندیږي، د خطي اوښتونکو یا متحولو تر منځ اړیکې دي. د شمېرو بدلونونه او تحولات د مستقیمو کرښو په مرسته ښودل کیږي. دبېلګې په ډول که چیرې اړیکې د تابع او متحول y او خپلواک اوښتونکی او خطي X تابع کوونکی تر منځ وي دا ډول اړیکې معمولاً د مستقیمې کرښې د یوې معادلې په وسیله په لاندې بڼه څرګندیږي.

$$y = ax + b$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې ځای کې a او b ثابت دي لومړنی د عمودي قاطع په نوم او دويم د x د ضريب په نوم ياديږي.


**بيلګه:** د $y = 2x - 5$ معادلې ګراف رسم کړئ؟

د دې معادلې ګراف څرنګه چې په شکل کې ښودل شوی، کولای شو په دوو طريقو انځور کړو لومړی د x د متفاوتو قيمتونو په وضع کولو سره د y ارزښتونه پيدا کوو.

دا قيمتونه د x او y د وضعيه کمياتو په محورونو کې د ټکو په مرسته په نښه (نقطه ګذاري) کوو.

| | |
|---|---|
| $x$ | $-3,-2,-1,0,1,2,3,4,15$ |
| $y$ | $-11,-9,-7,-5,-3,-1,1,-315$ |

په دويمه طريقه کې څرنګه چې ورکړل شوې معادله د مستقيمې کرښې يوه معادله ده او د اړوندې مستقيمې کرښې د انځورلو لپاره کفايت کوي، ترڅو هغه دوه ټکي چې په هغوی کې مستقيمه کرښه د x او y د محورونو په توګه قطع کوي، وټاکو. يعنې که د x=0 په معامله کې وضع شي نو y=-5 وي او بر خلاف که y=0 وي $x=\frac{5}{2}$ کيږي. دا دوه ټکي (0 , -5) او (2,5 , 0) په ګراف کې په ترتيب سره د A اوB په تورو ښودل شوي دي. د دغو دوو ټکو له نښليدو يا اتصال او د هغوی اوږدوالی يا امتداد دوو خواوو ته مطروحه مستقيمه کرښه انځور کيږي.




(۱-۲) بڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library


**هندسي مشخصې او د ګرافونو ترسيم:**

په ياد بايد ولرو چې په احصاييوي ګرافونو کې هم لکه الجبري توابع په عمومي توګه د تابع متحول په عمودي محور کې او خپلواک يا مستقل متحول يا تابع کوونکی په افقي محور کې ښودل کيږي.

**د بيلګې په ډول:** د يوه هيواد نفوس په تيرو ۶۰ کلونو کې په لاندې توګه ورکړل شوی دی، چې د هغه ارقام ميليون وګړي دي.

| کال X | 1300 | 1310 | 1320 | 1330 | 1340 | 1350 | 1360 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| نفوس (ميلان) Y | 12 | 15 | 18 | 22 | 28 | 33 | 37 |


پورتني معلومات کولای شو په بل ګراف کې د ټکو ايښودو(نقطه ګذاري) په بڼه انځور کړو.




بڼه(۲-۲)


(c) ketabton.com: The Digital Library

او همدارنگه کولای شو د عمودي کرښو په ځای مستطیل شکله بڼې هم انځور کړو.




بڼه(۳-۲)

پورتني معلومات کولای شو په بل ګراف کې د عمودي او مستقیمو کرښو په بڼه انځور کړو.





بڼه (۴-۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پورتنيو ګرافونو سربيره له نورو بڼو او همدارنګه له نښو(علايمو) او سمبولونو څخه هم کولای شو ګټه واخلو. يا په پورته ګرافونو کې کولای شو زياتره معلومات د بيلابيلو رنګونو په وسيله سره ځای په ځای کړو. د بيلګې په ډول کولای شو د هر کال د سن ترکيب او يا د نفوس جنس په يوه مستطيل کې په بيلابيلو رنګونو يا د متفاوتو خط کارونو په وسيله وښيو.

همدارنګه کولای شو احصاييوي معلومات او شمېرې په يوه دايره کې څرګندې کړو.

**د بيلګې په ډول:** فرض کړئ د يوه هېواد ۴۵٪ فيصده مجموعي شتمني مصرفي مواد ۳۵ فيصده يې اومه مواد او ۲۰ فيصده نور يې ماشين آلات جوړوي کولای شو دا شمېرې د يوې دايرې په وسيله څرګندې کړو




بڼه(۵-۲)

او يا کولای شو پورتني معلومات په يوه مستطيل يا مربع کې څرګند کړو.

| |
|---|
| مصرفي مواد 45% |
| اومه مواد 35% |
| ماشين آلات 20% |

يا په بل عبارت د دايروي ګرافونو ترسيم کولای شو د هر ټولګي له فريکونسي او د فريکونسي له مجموعې څخه په استفادې سره ترسره کړو لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\alpha = \frac{f}{n} \times 360$$

F- فریکونسي

n- د فریکونسي مجموع

**د بیلګې په ډول:** د 75 تنو محصلینو نمرې په لاندې ډول دي.

| ټولګی | فریکونسي F |
|---|---|
| 0 – 10 | 5 |
| 11 – 20 | 10 |
| 21 – 30 | 15 |
| 31 – 40 | 20 |
| 41 – 50 | 25 |
| مجموع | 75 |

$$\frac{5}{75} \cdot 360 = 24$$

$$\frac{10}{75} \cdot 360 = (48)$$

$$\frac{15}{75} \cdot 360 = 72$$

$$\frac{20}{75} \cdot 360 = 96$$

$$\frac{25}{75} \cdot 360 = \frac{120}{360}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د دویم څپرکي د مطالبو لنډیز**

په دې څپرکي کې احصاییوي عملیې او تحقیقاتي پړاوونه تر مطالعې او بررسۍ لاندې نیول شوي دي. چې په هغه کې علمي لارې(طریقې) او روشونه په واضح توګه تشریح شوي دي، چې د هغې په اساس راټول شوي معلومات او شمېرې ترتیب، خلاصه، تحلیل او څرګندې شوې دي، چې نظر هغه ته نتیجه ګیري او د تصمیم نیونه ترسره کیږي. د دې عملیو او ترتیباتو د ترسره کولو لپاره باید لاندې پړاوونه ووهل شي:

الف- د موخې تثبیت یا ټاکل

ب- د تجربې طرح یا ټاکل.

ج- د شمېرو(اعدادو) او معلوماتو راټولونه.

د- جدول بندي او تصنیف.

هـ- تصمیم نیونه او نتیجه ګیري.

له دغو پړاوونو څخه هر یو ټول په مفصله توګه په دې څپرکي کې تر بررسۍ لاندې نیول شوي دي.

په احصاییوي تحلیل کې شمېرې او ارقام له هغه څخه پیل کیږي او د اړتیا وړ شمېرو او معلوماتو د راټولونې په غرض لومړی له ټولو څخه مخکې څېړونکی باید واضح کړي چې څه ډول موضوع څېړي، نو په دې اساس لومړی باید پوښتنه یا موضوع ډېره واضح او په دقیقه توګه طرح او وټاکي. که چیرې موضوع په پیل کې واضح او روښانه نه وي او په سمه توګه تشخیص او تثبیت شوې نه وي راټولې شوې شمېرې شاید بې ځایه وي او موضوع نوره هم پیچلې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دويم څپرکي پوښتنې

۱- فرض کړئ د کابل په ښار کې د هر وګړي د عايد کچه معلومه وئ. آيا په دې اړه ویلای شئ چې څه ډول عمليه بايد د احصاييوي تحقيقاتو په اصل کې ترسره کړئ؟

۲- احصاييوي جدول څه دی او څه ځانګړنې بايد ولري. کولای شئ دغه ځانګړنې په يوه فرضي جدول کې پرته له شمېرو څخه وړاندې کړئ؟

۳- په يوه ګراف کې لاندې ټکي د ليک نښو په مرسته په نښه(نقطه ګذاري)کړئ؟

(0 , 0 ) , (-5 , 10) , (3 , -4) , ( -2 , -2) , (3 , -5) , (5 , 4)

۴- لاندې معادله يوه تابع ده د هغه ګراف رسم کړئ؟

$y = 6 + 3x$

۵- د غنمو توليدات په شپږو کلونو ۱۳۵۰- ۱۳۵۵ کې په لاندې توګه ورکړل شوي دي؟

| کال | 1350 | 1351 | 1352 | 1353 | 1354 | 1355 |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د غنموتوليد | 5 | 10 | 15 | 20 | 25 | 30 |

۶- د بانک د چک ۲۵ فيصده مجموعي پور اوږد مهاله پورونه، د هغه ۱۵ فيصده د ميليون تنو پورونه منځ مهاله او ۶۰ فيصده د هغه بدلون مهاله پورونه جوړوي دغه معلومات په دوو وسيلو يعنې يوه دايره او يو مستطيل يا مربع کې څرګند کړئ ؟

۷- تحقيقاتي پړاوونه توضيح کړئ او د هغوی له جملې څخه د موخې د ټاکلو او تثبيت په اړه معلومات وړاندې کړئ؟

۸- د ۱۰۰ تنو محصلينو نمرې په يو دايروي ګراف کې وښيئ ؟

| ټولګی | فريکونسي F |
|---|---|
| 0 – 20 | 10 |
| 21 – 40 | 15 |
| 41 – 60 | 25 |
| 61 – 80 | 20 |
| 81 - 100 | 30 |
| مجموع | 100 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# درېیم څپرکی

## د پېښېدو د تکرار توزیع (د فریکونسي توزیع)

**عمومي موخه:**
په احصائیه کې فریکونسي او له هغې څخه د استفادې ځایونه

**د زده کړې موخې:** محصلین د دې څپرکي په پای کې کولای شي:

- د فریکونسی مفهوم توضیح کړي.
- د شمېرو د راټولونې، توحید او تصنیف په اړه معلومات وړاندې کړي.
- احصاییوي ټولګي او د هغه ځانګړنې توضیح کړي.
- د ټولګي د ګرافیکي څرګندونو په اړه توضیحات وړاندې کړي.
- د فریکونسیو د ګراف منحني ترسیم کړي.
- نسبي فریکونسي او مجموعي فریکونسي توضیح کړي.

### د پېښېدو د تکرار توزیع (د فریکونسي توزیع)

**تصمیمونه:** د فریکونسیو مفهوم او ډولونه

احصاییوي نتیجه ګیری او تصمیمونه د مطروحه موضوع په راټولو شوو شمېرو او ارقامو باندې متکي دي. د اړتیا وړ شمېرو ډول به په طرح شوي موضوع پورې اړوندېږي، او راټولې شوې شمېرې امکان لري یو یا دوه اوښتونکي یا متحوله راونغاړي لکه: شمېرې یا اعداد د یو شمېر وګړو د قد، وزن، عمر ، د یو شمېر کارکووونکو تنخوا یا اجوره، د یو ګروپ مامورینو معاش، د یوه ټولګي د محصلینو په یوه مضمون کې د آزموینې نومرې او داسې نورو په اړه ټولې شمېرې یا اعداد یو متحوله وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دا ډول شمېرو کې زیاتره مسایل د هغوی د اوسط د هر واحد وېشنه او د هغوی د انحراف او د خورتیا یا پراګندګۍ د څرنګوالي په اړه نظر وسط ته تر بحث لاندې راځي. یا شمېرې د وګړو د عاید او لګښت، د محصلینو قد او وزن او د یوې پلورل شوې متاع قیمت او شمېر، د یوه هیواد واردات او صادرات او داسې نورو په اړه د دوه متحوله شمېرو بیلګې دي.

هغه شمېرې چې د بیلګې په ډول د غوښې قیمت، یا د یوې اندازې وریجو قیمت رانغاړي یا د یوه هیواد ملي محصولات، واردات او صادرات رانغاړي. دوه متحوله شمېرې ګڼل کیږي.

په احصاییه کې د شمېرو توضیح او تشریح د درې ډوله عمده مقیاس او اندازه نیونې غوښتنه کوي دا مقیاسونه د فریکونسي وېشنه یا توزیع، اوسط ګیري او د شمېرو د خپرېدو یا پراګندګۍ څخه عبارت او د بحث وړ دي.

که چیرې شمېرې څرنګه چې مخکې هم وویل شول په دې منظور نظر د هغوی د کمیت اندازې ته ترتیب او توضیح شي. دغه عملیه د پېښیدلو د بیا ویشنې یا د فریکونسي ویشنې په نوم یادیږي، چې د فریکونسیو د ویشنې تحلیل په مفصله توګه او له عملي بیلګو سره د دې څپرکي په پاتې شوو برخو کې تر مطالعې لاندې راځي.

**دشمیرو(اعدادو) راټولونه او توحید:**

د شمېرو راټولونه په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه معمولاً په ناځاپي او خوره(پراګنده) بڼه ترسره کیږي. لومړنۍ شمېرې له راټولولو څخه وروسته باید ترتیب، توحید او لنډې یا خلاصه کړل شي تر څو څرګندول، تحلیل او نتیجه ګیري آسانه کړي

د بیلګې په ډول یوه احصاییوي موضوع داسې طرح شوې چې د ۵۰ تنو محصلینو د ریاضي مضمون د آزموینې د پایلو د څرنګوالي په اړه ده، په دې منظور یوه نمونوي سروې طرح او تطبیقیږي نظر دې سروې ته د ۵۰ محصلینو د آزموینې د پایلو په اړه معلومات د نمونې په توګه راټولیږي. فرض کړئ چې راټول شوي معلومات هغه شمېرې دي چې د هغې لومړۍ بڼه په لومړي جدول کې څرګندې شوې دي.

**لومړی نمونوي جدول**

| |
|---|
| 23,65,51,52,74,72,63,60,21,31,36,80,79,82,41,69,29,28,30,40,42,57,54,58 59,64,63,70,7,74,83,82,32,36,37,43,40,38,51,54,59,60,58,61,72,90,85,84, 95,100 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ترتیب شوو شمېرو(اعدادو) دويم جدول**

| |
|---|
| 21,23,28,29,30,31,32,36,36,37,38,40,40,42,43,50,15,51,52,54,54,57,58,58,5 |
| ,9,60,60,61,62,63,63,64,64,70,71,71,72,74,74,74,79,80,82,83,84,85,90,91,95 |
| 100 |

باید یادونه وشي چې شمېرې کولای شو په متزایده (صعودي)توګه جوړې کړو یعنې له کوچني عدد څخه پیل او په ترتیب سره په لوی عدد پای ته ورسیږي. یا بر عکس شمېرې کولای شو په نزولي توګه جوړې کړو داسې چې لوی عدد لومړی او په ترتیب سره شمېرې یا اعداد یو په بل پسې ولیکو تر څو کوچني عدد ته ورسیږو. د لومړي جدول شمېرې له خلاصیدو وروسته په متزایده یا صعودي بڼه ترتیب او په دویم جدول کې لیکل شوې دي.

دویم جدول د لومړي جدول په پرتله ځینې ښیګڼې لري ځکه په هغه کې کولای شو د متحول ځینې ځانګړنې په ښه توګه اوډېر ژر تشخیص کړو. دغو ترتیب شوو شمېروته په کتو سره پوهېدی شو چې پراخوالی(وسعت) یعنې د لوی او کوچني عدد تر منځ توپیر (د لږي او زیاتې نمرې تر منځ توپیر) له ۷۹ څخه عبارت دی.

**د شمېرو(اعدادو) تصنیف:**

که چیرې د شمېرو تعداد لږ یا د نمونې اندازه کوچنۍ وي د شمېرو ترتیب د دویم جدول په بڼه او د هغه څرګندونه به نسبتاً آسانه او ګټوره وي او که چیرې د شمېرو تعداد ډېر زیات یا د لومړي نمونوي جدول نمونه چندانې مفهوم نه شي افاده کولای البته له څه دقت وروسته کولای شو کوچنی او لوی عدد په دې جدول کې تشخیص کړو یا حتا د شمېرو اوسط د مجموع په اخیستلو سره او د هغوی په تعداد باندې ویشل سنجش کړو له دې څخه زیات نشو کولای له نوموړي جدول څخه ګټه واخلو.

له ورکړل شوو شمېرو څخه د ښې او زیاتې استفادې لپاره په لومړي نمبر جدول کې باید هغوی په منظمه توګه ترتیب او لنډ یا خلاصه کړو د شمېرو د خلاصه کولو یوه لار د هغوی د افاده کولو اړوند د ۱۰۰۰ واحدونو دور دی.

د ۱۰۰۰ په واحدونو باندې د شمېرو د ترتیبولو او خلاصه کولو څخه وروسته د زیات ګډون یا شمولیت لپاره د شمېرو د اعشارې په تحلیل او څرګندولو کې درې خانې په دوو خانو اختصار پیدا کړی داسې چې د اعشاري دریېمه خانه دویمې خانې ته نږدیوالی یا تقرب ورکړل شوی دی. په دې تقرب ورکولو کې که چیرې د دریېمې خانې شمیره یا رقم له ۵ څخه کوچنۍ وي له

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه څخه تیرېږو او پر خلاف دهغه که دغه شمیره یا رقم له ۵ څخه لوی وي وروستۍ شمیره یا رقم یعنې د اعشاري دویمې خانې شمېرې ته د یوه په زیاتیدو سره ارتقاء ورکړل شوې ده. د بیلګې په ډول د 66,029 عدد په 66,03 او د 69,242 عدد په 69,24 لنډ یا مختصر شوي دي. د لومړي جدول شمېرې له لنډیز یا خلاصه کیدو او ترتیبولو وروسته کولای شو په دویم جدول کې په لاندې بڼه وښیو.

**د شمېرو(اعدادو) نمونوي دویم جدول**

| 21 - 30 | 31 - 40 | 41 - 50 | 51 - 60 | 61 - 70 | 71 - 80 | 81 – 90 | 91 – 100 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 21 | 31 | 40 | 51 | 61 | 71 | 82 | 91 |
| 23 | 32 | 42 | 51 | 62 | 71 | 83 | 95 |
| 28 | 36 | 43 | 52 | 63 | 72 | 84 | 100 |
| 29 | 36 | 50 | 53 | 63 | 74 | 90 | 3 |
| 30 | 37 | 4 | 54 | 64 | 74 | 4 | |
| 5 | 38 | | 57 | 64 | 79 | | |
| | 40 | | 58 | 69 | 80 | | |
| | 7 | | 58 | 70 | 7 | | |
| | | | 59 | 8 | | | |
| | | | 59 | | | | |
| | | | 60 | | | | |
| | | | 60 | | | | |
| | | | 12 | | | | |

د شمېرو د ثبت جدول د زیاتو ښیګڼو لرونکې وي لکه:

**الف**- په آسانۍ سره کولای شو هغه شمېرې چې معمولاً ثبتې شوې وي اصلاح یا اړوندې خانې یا ستون ته ولیږدوو.

**ب**- که لومړنې ټولګې د ډاډ وړ نه وي کولای شو هغوی په اسانۍ سره د دویم ځل لپاره تصنیف کړو.

**ج**- کولای شو هغه عدد چې د ټولګې په وسط کې ځای په ځای شوی د هماغه ټولګې له اوسط سره پرتله کړو.

که د شمېرو تعداد نسبتاً لوی وي، د شمېرو ترتیب د نوموړي جدول په بڼه ستومانه کار دی او د زیات وخت غوښتنه هم کوي، سربیره پر دې له نسبتاً محدودې استفادې څخه پرته نشو کولای له هغه څخه بل کار واخلو. نو په دې اساس اړینه ده چې شمېرې په لنډه توګه سره داسې ترتیب شي تر څو د هغه څرګندول آسانه شي او وتوانیږي زیات او ژور

(c) ketabton.com: The Digital Library

تحلیل ترسره شي تر څو د شمېرو د پیچلو اړیکو خصوصیات کشف او توضیح شي.
دشمیرو د څرګندولو لنډول او په عین حال کې ساده کول د هغوی د خاصیت او څرنګوالي له لاسه ورکولو پرته اساسي موضوع د پیښیدلو بیا وېشنه(د فریکونسي وېشنه)ده.
یعنې شمېرې د ټولګیو په بڼه (چې ځینې یې د ټولګي، پوړ،ګروپ او ډلې په نوم هم یادیږي) سمبال شوي. په هر ټولګي پورې اړوند د مشاهداتو یا واقعاتو د پیښېدلو(وقوع یا فریکونسي) تکرار یا زیاتوالی تثبیت او وټاکل شي.
په هغه جدول کې چې شمېرې په دې بڼه ترتیب، تصنیف او څرګندیږي، د پیښیدلو(وقوع) د تکرار جدول (د فریکونسي جدول)نومیږي.
مخکې له دې چې شمېرې د صنف بندۍ په بڼه ولیکو باید د ثبت جدول د جوړولو طرز چې د درېیم جدول په مرسته ښودل شوی دی په پام کې ونیول شي. په دې عملیه کې ټولګي په افقي بڼه (د جدول د خانو یا ستونو له عنوان سره ورته یا مشابه)د جدول په پورته برخه کې ترتیب شوی او هغه شمېرې یا اقلام چې په هر ټولګي پورې اړه لري، تر هماغه ټولګي لاندې ثبت شوې دي. وروسته په هر ټولګي پورې اړوند د اقلامو شمېر شمېرل کیږي او د هغوی مجموع په هماغه ټولګي پورې اړوند د اقلامو په ښکتنۍ برخه کې د دوو لیندیو(قوسونو) تر منځ لیکل کیږي چې دغې مجموعې ته د هر ټولګي فریکونسي وایي.
د دویم جدول او د ثبت د جدول پایلې اوس کولای شو د فریکونسۍ په یوه جدول لکه څلورم جدول(د فریکونسي جدول) کې وښیو.

**څلورم جدول:** د ریاضي په مضمون کې د۵۰ تنو محصلینو د آزموینې د نومرو د فریکونسۍ جدول

| د وګړو د (فریکونسیو) شمېر | نمرې |
|---|---|
| 5 | 21 – 30 |
| 7 | 40 31 |
| 4 | 41 – 50 |
| 12 | 51 – 60 |
| 8 | 61 – 70 |
| 7 | 71 – 80 |
| 4 | 81 – 90 |
| 3 | 91 – 100 |
| **50** | **مجموع** |

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینې تخنیکي اصطلاحات او مفاهیم د فریکونسي د جدول په اړه شتون لري. دا مفاهیم لاندې توضیح کیږي اود زده کړې په باب یې له محصیلینو څخه جدي غوښتنه کیږي ترڅو په سمه توګه یې زده کړي.

**ټولګی(صنف):** د دوو شمېرو په وسیله هر ټاکل شوی واټن لکه 30 – 21 او یا 91 – 100په احصائیه کې دټولګي یا صنف، پوړ یا ګروپ په نوم یادیږي.

**د ټولګي(صنف)حدود:** هغه دوه شمېرې چې یو ټولګی رانغاړي د هماغه ټولګي حدود نومول کیږي.د ټولګي کوچنۍ عدد د ښکتني حد په نوم او لوی عدد د هماغه ټولګي د پورتني حد په نوم یادیږي.لکه په ټولګي کې 30 – 21 چې له 21 تر 30 لوستل کیږي ښکتنی حد یې ۲۱ او پورتنی حد یې ۳۰ دی.

**د ټولګي درجه:** د بحث وړ ټولګي د ښکتني حد اوسط او د مخکنیو ټولګیو پورتنی حد د ښکتني سرحد په نوم او همدارنګه د دې ټولګي د پورتني حد اوسط او د وروستني ټولګي ښکتنی حد د اړوند ټولګي د پورتني سرحد په نوم یادیږي. د بیلګې په ډول په ټولګي کې60 – 51 لرو چې:

$$\text{ښکتنی سرحد} = \frac{60+41}{2} = 50.5$$

$$\text{پورتنی سرحد} = \frac{51+70}{2} = 60.5$$

په شمېرو کې اوړده یا متمادي ټولګي چې د مخکني ټولګي پورتنی حد او د وروستني ټولګي ښکتنی حد او همدارنګه د مخکني ټولګي پورتنی حد د وروستني ټولګي له ښکتني حد سره یو شان دي، په یوه ټولګي پورې اړوند حد او سرحد هم له یوبل سره مساوي دي. په ځینو حالاتو کې د ډېر کوچني ټولګي ښکتنی حد (او ښکتنی سرحد ) او یا د ډېر لوی ټولګي پورتنی حد (او پورتنی سرحد) خلاص او یا نا معین وي.

**دټولګي(صنف)واټن** :د یوه ټولګي واټن د هماغه ټولګي د ښکتني حد توپیر د مخکني ټولګي له ښکتني حد څخه عبارت دی. د بیلګې په ډول په دوو مخکینیو ټولګیو کې د هر ټولګي واټن له ۱۰ نمرو څخه عبارت دی. په بیلګه کې د دواړو ټولګیو د پورتنی حد تر منځ توپیر هم ۱۰ نمرې دي. په اوږدو یا متمادي شمېرو کې د ټولګیو واټن ټول یو شانته دی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

د (ګڼه واټن) په نوم یادیږي.

د ټولګیو واټن کولای شو د هغوی د اوسط تر منځ د توپیر په پام کې نیولو سره هم سنجش کړو.

**د ټولګي(صنف)پراخوالی**:د ټولګي پراخوالی د هماغه ټولګي د پورتني سرحد او ښکتني سرحد ترمنځ له توپیر څخه عبارت دی. دبیلګې په ډول په ټولګي کې 60 – 51 لرو چې:

$60{,}50 - 50{,}5 = 10{,}0$

د ټولګي پراخوالی

په دې بیلګه کې د ټولګي واټن او د ټولګیو پراخوالی یوله بل سره مساوي دي خو دا حالت به په ټولو ځایونو کې صدق ونه کړي. په ځانګړي توګه په هغه حالاتو کې چې شمیرې او ټولګي سره غیر متمادي وي یعنې اوږدې نه وي.

**د ټولګي(صنف)فریکونسي**: د یوه ټولګي فریکونسي د هغو پیښو(واقعاتو) او کتنو(مشاهداتو) له زیات تکرارڅخه عبارت ده، چې په هماغه ټولګي پورې اړه لري. لکه په څلورم جدول کې د ټولګي (فریکونسي) 60 – 51عبارت له ۱۲ تنو محصلینو څخه دي. یعنې د ۵۰ تنو محصلینو له جملې څخه ۱۲ تنه یې له 60 – 51 پورې د نمرو لرونکي دي.

**دټولګي(صنف)منځ یا وسط** : د یوه ټولګي وسط یا منځنی ټکی د هماغه ټولګي د حدودو له اوسط څخه عبارت دی. دبیلګې په ډول دټولګي اوسط یا وسط له60 – 51 څخه عبارت دی یعنې: $\frac{51+60}{2} = 55{,}5$ (د ټولګي وسط )

د فریکونسۍ په عددي وېشنه کې ستونزې: کله چې وغواړو د فریکونسۍ یو جدول جوړ کړو له څو عمده ستونزو سره مخامخ کیږو یو له دغو ستونزو څخه د ټولګیو د مناسب شمېر یا تعداد ټاکل دي.

که څه هم په دې برخه کې کومه عمومي قاعده شتون نه لري. د امکان تر حده باید هڅه وشي تر څو له سم قضاوت څخه کار واخیستل شي. د ټولګیو شمېر نباید هغومره ډېر وي چې د ټولګیو فریکونسي ګانې و نه توانیږي سمبال شي. ځکه د شمېرو د تصنیف او ترتیب اساسي موخه د هغوی د ویشنې د څرنګوالي او بڼې تشخیص کول دي. همدارنګه د ټولګیو شمېر نباید هغومره لږ وي چې شمېرې له لازم حد څخه زیاتې لنډې یا خلاصه کړو چې ځینې ګټور معلومات له لاسه ورکړو.

په عمل کې باید کوښښ وشي چې د ټولګیو شمېر له پنځو څخه لږ او له پنځلسو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زيات نه وي.

د ټولګيو د ټاکلو لپاره کولای شو په ځينو ځايونو کې له لاندې فورمول څخه استفاده وکړو.

$$K = 1 + 3,3 Log n$$

چې په دې ځای کې په کار اچول شوې نښې يا علايم K د ټولګيو اټکل شوی شمېر اوn د واقعاتو يا مشاهداتو مجموعي شمېر په نمونه کې ( د فريکونسي مجموعه) اعشاري Log (معمولي لوګارتم د ۱۰ پر پايه يا قاعده باندې دی. کله چې د ټولګيو شمېر وټاکل شو، د ټولګي واټن هم کيدای شي وټاکو، د زياتې آسانۍ او سهولت له پاره په وروستيو سنجشونو او عمليو کې بايد د ټولګيو واټن پر يوه ښه عدد تبديل شي. او د امکان په صورت کې د فريکونسۍ يو جدول بايد د ټولګيو د ټولګي واټن(ګډ واټن) ترتيب شي څکه د دغه واټن ګډوالی، داسې چې وروسته به يې ووينو د ټولګيو د فريکونسيو ګانو پرتله او همدارنګه د ځينو احصاييوي مقياسونو سنجش او تطبيق آسانوي.

**د فريکونسۍ د ويشنې ګرافيکي څرګندونه:** د فريکونسۍ وېشنه کولای شو د ګرافونو په مرسته هم څرګنده کړو. د احصائيوي شمېرو او معلوماتو ګرافيکي څرګندونه (څرنګه چې په مخکني څپرکي کې مطالعه شوه) په بيلابيلو بڼو او ډولونو ترسره کيږي. د فريکونسۍ د ويشنې څرګندونه په درې معمولي بڼو د هستوګرام يا مستطيلي ګرافونو، بارچارت او د پالګن د فريکونسۍ د متن په مرسته وي.

**هستوګراف:** ديوه احصائيوي ګراف دفريکونسۍ يو هيستوګراف يا هيستوګرام له يو شمېر مستطيلونو څخه جوړ شوی دی. لکه:

**الف-** مستطيلونه په عمودي ډول پر افقي محور(xمحور) باندې داسې ځای پرځای شوي دي، چې د هغوی عرض د ټولګيو(صنفونو)د واټن له اندازې سره مساوي او دهغوی وسط د ټولګيو د وسطي ټکي پر سر وي.

**ب-** د مستطيلونو شمېر د ټولګيو له شمېر سره سم د فريکونسۍ په يوه وېشنه کې وي.

د يو هيستوګرام په ترسيم کې بايد لاندې ټکي په پام کې ونيول شي:

**الف-** د ټولګيو فريکونسۍ د (y) په عمودي محور کې او ټولګي يا د ټولګيو واټن د (x) په وسطي محور کې وضع شي. د ويشنې هيستوګرام۵-۳جدول د۱-۳په کارکې څرګند شوي دي.

د y د محور مقياس بندي بايد له صفر سره پيل او له انقطاع پرته دوام پيدا کړي.


**ب-** په افقي محور کې بايد يو واټن د ټولګيو د نيم يا يوه بشپړ واټن په اندازه د مستطيل په دواړو خواوو کې کيښودل شي.

**د بيلګې په ډول:** د ۲۳ تنو محصلينو د رياضي مضمون نمرې په لاندې جدول کې ترتيب

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوې دي، د هغه هستوګرامونه ترسیم کړئ.

| ټولګي | د ټولګیو وسط | فریکونسۍ |
|---|---|---|
| 1 – 5 | 3 | 2 |
| 6 – 10 | 8 | 5 |
| 11 – 15 | 13 | 8 |
| 16 – 20 | 18 | 5 |
| 21 - 25 | 23 | 3 |




**د پالګن فریکونسیو ګانو منحني:**


د فریکونسي وېشنه د پالګن د فریکونسي د منحني په وسیله هم کولای شو څرګند کړو. په هغه صورت کې چې د فریکونسي هستوګرام رسم شوی وي دا منحني په آسانۍ سره کولای شي د رسم د ټکو په نښلولو سره مستطیلونه لاسته راوړي.

زیاتره وختونه، د پالګن د فریکونسي منحني له مستطیل یا مستقیمو کرښو پرته څرګندیږي. البته اوس د هغه د رسمولو طریقه آسانه ده. د ټولګیو د وسطي ټکو او د هر ټولګي د اړوندې فریکونسي په نظر یو شمېر ټکي لاسته راځي، که چیرې دغه ټکي له یو بل سره ونښلوو د پالګن فریکونسي لاسته راځي.

څرنګه چې په شکل کې لیدل کیږي د پالګن د فریکونسي پای په دواړو لورو کې له افقي محور سره نښلول شوی دی. د دې منظور لپاره په فرضي ټولګیو کې وسطي ټکي په پام کې نیسو د افقي محور پر مخ یې په نښه کوو او د منحني انجام له مستقیمې کرښې


(c) ketabton.com: The Digital Library

سره يې نښلوو.




**د بار چارت ګراف:** د يوې فريکونسۍ د ويشنې د ښرګندولو بله لار د بارچارت د ګراف په وسيله ده. په دوو لاندې بڼو کې د مستطيلونو پر ځای عمودي کرښې انځورېږي.
د هرې عمودي کرښې پايې د ټولګي پر وسطي ټکي باندې په افقي محور کې ځای په ځای شوي، او د هغې د اړوندې فريکونسۍ ارتفاع ښيي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




**الف - نسبي او غونډې شوې یا متراکمې(مجموعي)فریکونی:** د یوه ټولګي نسبي فریکونسي د هماغه ټولګي د فریکونسي نسبت د ټولو ټولګیو د فریکونسي له مجموع څخه عبارت دی او معمولاً په فیصدی څرګندیږي، مثلاً د لومړي ټولګي نسبي فریکونسي زمونږ مخکینی بیلګه عبارت ده له:

$$\text{نسبي فریکونسي} = \frac{\text{د لومړي ټولګي فریکونسي}}{\text{د فریکونسیو مجموع}} \times 100$$

$$\text{د لومړي ټولګي فریکونسي} = \frac{2}{33} = \times 100 = 8.69\%$$

**ب- غونډ شوې یا متراکمې (مجموعي)فریکونسی:** د متراکمې یا مجموعي فریکونسیو وېشنه په دوو لارو ښودل کېږي، یعنې د متزایدې (زیاتیدونکې) متراکمې فریکونسي وېشنه او د ښکته کیدونکې (متناقصې) متراکمې فریکونسي وېشنه ترسره کیږي.

په متزایدو فریکونسیو ګانو کې له لومړنی فریکونسي یا د ټولګي له کوچنی فریکونسي څخه پیل شوې او په ترتیب سره د هر وروستي ټولګي له فریکونسي سره جمع او د اړوند ټولګي پر وړاندې ځای پرځای شوي دي. لکه:

**د ۲۳ تنو محصلینو د نمرو د متزایدې متراکمې فریکونسي جدول**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| متزایده متراکمه فریکونسی | د فریکونسي (شمېر ) | نومرې |
|---|---|---|
| 2 | 2 | 1 – 5 |
| 7 | 5 | 6 – 10 |
| 15 | 8 | 11 – 15 |
| 20 | 5 | 16 – 20 |
| 23 | 3 | 21 – 25 |
| | 23 | مجموع |

په دویم حالت کې، یعنې د متناقصې یا متوالي متراکمې فریکونسي په ترتیبولو کې، ټولې فریکونسۍ ګانو مجموع د لومړي ټولګي پر وړاندې ځای په ځای شوي دي او په ترتیب سره د هر ټولګي فریکونسي د پاتې شوو له مجموع څخه تفریق او د اړوند ټولګي په وړاندې لیکل شوي دي. لکه: د لومړي ټولګي نزولي متراکمه فریکونسي ۲۳ یعنې د فریکونسي مجموع منفي د لومړي ټولګي له فریکونسي څخه او په همدغه ترتیب سره د هغو فریکونسیو له حال څخه وروستي ټولګي هم تفریق کېږي او په همدغه ډول تر پنځم ټولګي پورې وړاندې ځي، چې له ۳ تنو محصلینو سره مساوي کېږي او په جدول کې په مفصله توګه ښودل شوي دي.

**د ۲۳ تنو محصلینو د نومرو د نزولي متناقصې متراکمې فریکونسي جدول**

| متزایده متراکمه فریکونسي | فریکونسي (شمېر ) | د (ټولګي) نومرې |
|---|---|---|
| 23 | 2 | 1 – 5 |
| 21 | 5 | 6 – 10 |
| 16 | 8 | 11 – 15 |
| 8 | 5 | 16 – 20 |
| 3 | 3 | 21 - 25 |
| | 23 | مجموع |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د درېیم څپرکي د مطالبو لنډیز**

په درېیم څپرکي کې د شمېرو د بررسۍ او تحلیل اړوند ټول موضوعات د موضوع بیا ویشنې (د فریکونسي ویشنې) په مرسته وې. په نوموړي څپرکي کې د شمېرو تشریحي معیارونو او مقیاسونو په خپل وار سره د اړوندو شمېرو څرنګوالی او معلومات راټول کړي او د راټولو شوو شمېرو سربېره امکان لري یو، دوه یا زیات متحوله په ځان کې راونغاړي لکه شمېرې د یو شمېر وګړو د قد، وزن یا عمر، د یو شمېر کارګرانو تنخوا یا اجورې، د یوه ټولګي د ۵ تنو محصلینو د آزموینې نومرې په یوه مضمون کې او داسې نورو په اړه ټولې شمېرې یا اعداد یو متحوله وي..

په زیاتره ځایونو کې د دوو یا زیاتو متحولونو تر منځ اړیکې په احصاییه کې د بحث لپاره مطرح کیږي د یو متحوله شمېرو په توضیح او تشریح کې د زمان عامل ذیدخل نه وي د درې ډولونو عمده اندازه ګیرۍ د مقیاس غوښتنه کوي. دا مقیاس د فریکونسۍ وېشنه، اوسط نیونه او د بحث وړ شمېرو انحراف یا خورتیا (پراګندګي) څخه عبارت دي.

که چیرې شمېرې داسې وي چې مخکې هم وویل شول په دې منظور باید نظر د هغوی اندازې او کمیت ته ترتیب او توضیح شي. دغه عملیه د پېښیدلو(وقوع) بیا وېشنې یا د فریکونسي وېشنې په نوم یادیږي. که څه هم په مخکني څپرکي کې د احصاییوي تحقیقاتو د پړاوونو په اړه په مختصره توګه بحث وشو او د فریکونسۍ د راټولونې په اړه اساسي عملیې په مفصله توګه او په عملي بیلګو سره په پاتې برخو کې تر مطالعې لاندې راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د درېيم څپرکي پوښتنې

۱- د فريکونسۍ د ويشنې مفهوم په مختصره توګه تشريح کړئ؟

۲- دغه ۱۷,۹۵,۳۸,۲۷,۷(۴۸+(۱۱,۵۷,۳۴,۲۲ شمېرې يا اعداد ترتيب کړئ او د شمېرو پراختيا(وسعت)يې تثبيت کړئ ؟

۳- لاندې اصطلاحات تعريف کړئ؟ د ټولګي حدود، د ټولګي ښکتنی سرحد، د ټولګي واټن ، د ټولګي وسط ، د ټولګي فريکونسي.

۴- د ۷۵ تنو محصلينو نومرې لاندې په جدول کې تصنيف شوې دي، د هغوی زياتيدونکې (صعودي) فريکونسي پيدا کړئ؟

| ټولګی | F | F صعودي |
|---|---|---|
| 0 – 10 | 5 | |
| 11 – 20 | 10 | |
| 21 – 30 | 15 | |
| 31 – 40 | 20 | |
| 41 - 50 | 25 | |
| | 75 | |

۵- احصاييوي جدول تعريف کړئ، په څو ډوله دي د هغه د مهمو ټکو نوم واخلئ؟

۶- د ۸۰ تنو محصلينو نومرې په لاندې ډول ورکړل شوي دي، د هغوی نزولي متناقصه فريکونسي پيدا کړئ ؟

| ټولګی | F | F فريکونسي |
|---|---|---|
| 0 – 10 | 5 | |
| 11 – 20 | 10 | |
| 21 – 30 | 15 | |
| 31 – 40 | 20 | |
| 41 – 50 | 30 | |
| | 80 | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شلورم څپرکی

## د مرکزي ګرځېدنې(ګردش) مقیاسونه

**عمومي موخه:**
د شمیرو یا اعدادو د بیلابیلو اوسطونو لاسته راوړل او ټاکل

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای ته رسیدو او زده کیدو سره محصلین کولای شي:

- د اوسطونو ډولونه توضیح او معرفي کړي.
- د شمېرو یا اعدادو حسابي اوسط لاسته راوړي او د حسابي اوسط خواص معرفي کړي.
- د شمېرو یا اعدادو هندسي اوسط محاسبه کړي.
- د شمېرو هارمونیکي اوسط محاسبه کړي.
- میدیان یا د فریکونسۍ وسط تعریف او محاسبه کړي.

### د مرکزي ګرځېدنې (ګردش) مقیاسونه

اوسطونه:په مخکني څپرکي کې مو ولوستل چې په نمونې یا کتنو(مشاهداتو) پورې اړوندې شمېرې څرنګه راټولې، ترتیب او څرګندیدی شي، د فریکونسۍ وېشنه البته نه یواځې د شمېرو منسجم کول او د راټولولو لار ده، بلکې توضیحي او تشریحي مقیاس هم دی په زیاترو ځایونو کې یواځې یو مقیاس یا یوې مشخصې ته اړتیا لرو تر څو هغې ته په کتو سره د بلې لړۍ یا سلسلې شمېرې مطالعه کړو. دا عدد باید له هغو ټولو شمېرو څخه استازیتوب وکړي چې د هغې په وسیله تشریح کیږي، په دې منظور نوموړی عدد باید تمایل او همدارنګه د لړۍ یا سلسلې د شمېرو وېشنه د یو مرکزي یا وسطي ارزښت په شاو خواکې وښيي. له دې پلوه استازی عدد د (مرکزي ګرځیدنې مقیاس) په نوم یا معمولاً د اوسط په

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوم يادوي. په بل عبارت د يو سلسله شمېرو اوسط عبارت دی له:

يو ارزښت يا يو عدد دی چې له ټولو شمېرو څخه استازيتوب وکړي او څرنګه چې دا عدد د کميت يا څومره والي له پلوه د اړوندو شمېرو د لړۍ يا سلسلو په وسط يا مرکز کې ځای لري ځيني وختونه د مرکزي تمایل(ګرايش)د مقياس په نوم هم يادېږي.

اوسطونه د هغوی د رياضي صبغې (رنګ) له پلوه په دوو عمده ګروپونو ويشل کيږي:

لومړی ګروپ هغه چې د حساب او سنجش له مخې د شمېرو د اوسط په حيث راوځي او دويم ګروپ چې منځنی موقعيت لري.

لومړی ګروپ په: حسابي اوسط، هندسي اوسط، مربعي اوسط او هارمونيکي اوسطونو کې شامل دي.

او دويم ګروپ  ميديان (د فريکونسي وسط) مود ( د فريکونسۍ زياتوالی) او داسې نور په ځان کې رانغاړي، چې په دې څېرکي کې له نوموړو اوسطونو څخه هر يو تر بحث لاندې راولو. خو مخکې له هغه بايد د$\Sigma$  علامه چې په زياتره په عباراتو او احصاييوي افادوکې په کاريږي توضيح شي. دغه علامه چې د سيمګا په نوم يادېږي، معمولاً د مجموع يا جمع کولو په مفهوم  په کاريږي.

**د بيلګې په ډول: که لس عدده ولرو او هر يو يې په** $x_1 \left(i = 1,2,..........10\right)$ افاده کړو او وغواړو د دغو اعدادو مجموع پيدا کړو. کولای شو وليکو $x_1 + x_2 + .............x_{10} = \sum_{i=1}^{10} xi$

**حسابي اوسط:** حسابي اوسط د ډيرو ساده او معمولي اوسطونو له ډول څخه عبارت دی.

د يوې لړۍ يا سلسلې د شمېرو حسابي اوسط د اړوندو شمېرو يا اعدادو له مجموع څخه د هغوی د شمېر يا تعداد له تقسيم څخه عبارت دی. که اندازه يا کچه په n او شمېرې يا اعداد په (x) او حسابي اوسط په $\bar{x}$ وښيو د شمېرو يا اعدادو حسابي اوسط عبارت دی له:

$$\bar{x} = \frac{\sum^{n} x_i}{n}$$

معمولاً که اته عدده 20, 5 , 8 , 13 , 7 , 2 , 15 , 10 ولرو نو حسابي اوسط به يې عبارت وي.

له: $\bar{x} = \frac{10 + 15 + 2 + 7 + 13 + 8 + 5 + 20}{8} = \frac{80}{8} = 10$

**د حسابي اوسط خواص:** د حسابي اوسط د سنجش کولو په  دې ساده طرز کې بايد څو ټکي په نظر کې ولرو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**الف-** حسابي اوسط له ټولو شمېرو يا اعدادو څخه استازيتوب کوي د ترتيب شوو شمېرو د لړۍ يا سلسلې وسطي عدد بايد د پرتلنې وړ وي.

**ب-** که چيرې د حسابي اوسط ارزښت د لړۍ له ټولو شمېرو سره بدل کړو د شمېرو يا اعدادو مجموع بدلون نه کوي، ځکه $\bar{x} = \sum x$ يا $\bar{x} = \frac{\sum x}{n}$.

**ج-** د حسابي اوسط بل عمده خصوصيت دا دی چې د انحراف يا د شمېرو د توپير مجموع پر هغه باندې صفر کيږي.

**لکه:** د مخکنيو اتو(۸) عددونو په اړه لرو چې:

$$\sum(x - x) = (x_1 - \bar{x}) + (x_2 - \bar{x}) + ...............(x_8 + \bar{x}) = 0$$

$$= (10 - 10) + (15 - 10) + (2 - 10).....(20 - 10) = 0$$

که څه هم د حسابي اوسط پورتنی فورمول ډېر ساده دی، خو زياتره وخت د هغو شمېرو په اړه چې د هغوی شمېر يا تعداد لږ وي په آسانۍ سره تطبيقيږي، خو که چېرې د شمېرو تعداد ډېر زيات شي د مجموع کولو ساده عمليه ډېره ستونزمنه او تقريباً ناممکنه کيږي. که چېرې د شمېرو تعداد زيات وي د اړوندو شمېرو د فريکونسۍ د ويشنې يو ساده او اغيزمن روش تشکيل او له هغه وروسته د حسابي اوسط سنجش کوي.

دفريکونسۍ په يوه توزيع کې دحسابي اوسط دري عمده لارې شتون لري. يعنې:

۱- اساسي لاره يا طريقه

۲- د فرضي اوسط لار يا طريقه

۳- د کود بندۍ لاره يا طريقه

**۱- اساسي لاره:** دا لاره يا طريقه د مخکنۍ بيلګې په اړه يعنې د رياضي په مضمون کې د ۵۰ تنو محصلينو د نومرو پايلې توضيح کوي. دا طريقه څلور ساده پړاوونه تر بحث لاندې نيسي.

**الف-** (x) يا د ټولګيو وسط تثبيت کړئ.

**ب-** د (x) دټولګي وسط او (F) پورې د اړوندو فريکونسيو ګانو حاصل ضرب يعنې (Fx) پيدا کړئ.

**ج-** د (Fx) مجموع يعنې (ΣFx) بايد پيدا کړئ.

**د-** وروسته دغه مجموع د فريکونسيو ګانو پر مجموع باندې تقسيم کړئ. چې په دې ځای کې $n = \sum F$ وي په پايله کې حسابي اوسط عبارت دی له:

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\bar{x} = \frac{\sum Fx}{\sum F}$$

**د ۱۳۷۷نه تر ۱۳۷۸پورې د ۵۰ تنو محصلینو د ریاضي مضمون د نومرو د پایلو د حسابي اوسط سنجش (په اساسي طریقه)**

| د محصلینو نومرې | د فریکونسي ګانو تعداد f | د ټولګي وسط x | Fx |
|---|---|---|---|
| 21 -30 | 5 | 25,5 | 127,5 |
| 31 – 40 | 7 | 35,5 | 248,5 |
| 41 – 50 | 4 | 45,5 | 182 |
| 51 – 60 | 12 | 55,5 | 666,0 |
| 61 – 70 | 8 | 65,5 | 524 |
| 71 – 80 | 7 | 75,5 | 52,85 |
| 81 – 90 | 4 | 85,5 | 342 |
| 91 – 100 | 3 | 95,5 | 286,5 |
| **مجموع** | **50** | - | **2905** |

$$\bar{x} = \frac{\sum Fx}{F} = \frac{2905}{50} = 58,1$$

**د فرضي اوسط لاره یا طریقه**

د حسابي اوسط د موندنې لنډه لار یا د فرضي اوسط طریقه د هغه د ریاضي په خصوصیاتو بانديې متکي ده. څرنګه چې په مخکیني فورمول کې وویل شول د شمېرو د توپیر مجموع نظر د هغوی حسابي اوسط ته مساوي په صفر کیږي، نو په دې اساس کیدای شي وواېو چې د شمېرو د توپیر او یوې لړۍ مجموع نظر بل هر عدد ته د هغوی له اوسط نه پرته به د صفر په خلاف وي.

**لکه:** د مخکینۍ بیلګې د اتو ۸ عددونو په اړه مو ولیدل چې $\bar{x} = 10$ , $\sum(x_1 + \bar{x}) = 0$ و اوس یو بل عدد لکه: ۱۳ د یوه فرضي اوسط په توګه انتخاب کړئ، په (x) یې افاده کړئ د هر عدد توپیر یا انحراف نظر دغه ته حسابي فرضي اوسط نوموو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$d = x_1 - A$$

$$\sum d = \sum (x_1 - A) = (x_1 - A) + (x_2 - A) + .....(x_8 - A)$$

$$\sum d = \sum (x_1 - A) = (10 - 13) + (15 - 13) + (2 - 13) + (7 + 13)$$

$$+ (13 - 13) + (8 - 13) + (5 - 13) + (20 - 13)$$

$$= -3 + 2 - 11 - 6 + 0 - 5 - 8 + 7$$

$$-33 + 9 = -24$$

د توپیر مجموع یا د مجموع انحراف له (۲٤-) څخه عبارت دی او د هغې په اساس وسطي توپیر یا وسطي انحراف عبارت دی له:

که چیرې فرضي رابطه نظر دغه وسطي انحراف ته د هغه په فورمول کې وضع کړو حسابي رابطه لاسته راځي:

$$\bar{d} = \frac{\sum d}{n} = \frac{-24}{8} = -3$$

$$\bar{x} = A + \frac{\sum d}{n}$$

$$\bar{x} = 13 + \frac{-24}{8} = 10$$

$$\bar{x} = 10$$

کولای شو نوموړی فورمول په لړ انډول یا تعدیل سره د تصنیف شوو شمېرو په اړه پکار واچوو په دغه صورت کې کولای شو ولیکو.

$\bar{x} = A + \frac{\sum Fd}{\sum F}$ , $d = x - A$ د ټولګي وسط انحراف

**په دې ځای کې نښې یا علایم عبارت دي له:** A یو فرضي اوسط، F د ټولګي فریکونسي، d د ټولګیو وسط انحراف یا فرضي اوسط A او ΣF د فریکونسي ګانو مجموع.

پورتنی فورمول په مخکینۍ بیلګه کې یعنې د ریاضي په مضمون کې د ۵۰ تنو محصلینو د آزموینې پایلې پیدا کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په ۱۳۷۸کال کې د ۵۰ تنو محصلینو د ریاضي مضمون د نومرو د پایلو د حسابي اوسط سنجش په فرضي اوسطه طریقه**

| د ټولګیو د محصلینو نمرې | د فریکونسي تعداد F | د ټولګي وسط X | وسطي انحراف d | دفریکونسي او انحراف مجموعه Fd |
|---|---|---|---|---|
| 21 – 30 | 5 | 25.5 | - 30 | - 150 |
| 31 – 40 | 7 | 35.5 | - 20 | - 140 |
| 41 – 50 | 4 | 45.5 | - 10 | - 40 |
| 51 – 60 | 12 | 55.5 | 0 | 0 |
| 61 – 70 | 8 | 65.5 | + 10 | 80 |
| 71 – 80 | 7 | 75.5 | +20 | 140 |
| 81 – 90 | 4 | 85.5 | + 30 | 120 |
| 91 – 100 | 3 | 95.5 | + 40 | 120 |
| مجموعه | 50 | | | + 130 |

څرنګه چې په جدول کې لیدل کیږي لومړی د ټولګیو وسط تثبیتوو او د هغوی له جملې څخه یو د A د فرضي اوسط په توګه انتخابوو. په دې ځای کې $A = 5\;5,5$ دی. له وسطي انحراف څخه وروسته ټولګی نظر انتخاب شوي فرضي اوسط ته سنجش کوو.

بالاخره د هر ټولګي د فریکونسیو د حاصل ضرب مجموع له اړوند انحراف سره پیدا کوو او په پایله کې لرو چې:

$$\bar{x} = A + \frac{\sum Fd}{\sum F}$$

$$\bar{x} = 55,5 + \frac{150}{50}$$

$$\bar{x} = 55,5 + 2,6 = 58,7$$

**د کود بندۍ لاره یا طریقه:**

که چیرې د ټولګي واټن د فریکونسي په یوه وېشنه کې ګډ وي کولای شو حسابي اوسط ډېر ژر او آسانه سنجش کړو. کله چې د ټولګي واټن ګډ وي د وسط(انحراف) تر منځ توپیر په یوه ټولګي کې د هغه له بل ټولګي سره ثابت او د ټولګي له پراخوالي یا وسعت سره مساوي وي. د فریکونسۍ په وېشنه کې زمونږ د بحث وړ بېلګه چې په مخکینۍ بیلګه کې ښودل شوې د ګډ انحراف ۱۰ نومرې د ټولګیو د وسط ترمنځ او د ټولګیو له پراخوالي(وسعت) سره مساوي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې پلوه د يوه ټولګي انحراف نظر بل ټولګي ته کولای شو د ټولګيو د واټن په اساس افاده کړو.

د حسابي اوسط سنجش د کود بندۍ د طريقې په وسيله يا په لنډه توګه د لاندې عمليو په مرسته ترسره کيږي:

۱- لکه مخکينۍ طريقه د مرکزي ټولګي له وسط څخه يو د A فرضي اوسط په توګه انتخابوو.

۲- انحراف نظر انتخاب شوي فرضي اوسط ته د ټولګي د واټن پر واحدونو څرګنديږي.

۳- د هر ټولګي انحراف نظر فرضي اوسط ته يا د اړوند ټولګي ضرب شوې فريکونسي د Fd په ستون يا خانه کې څرګند شوی دی.

٤- د لړۍ يا سلسلې مجموع انحراف له فرضي اوسط څخه د ټولګي د واټن پر واحدونو باندې د هر ټولګي د انحراف له حاصل جمع څخه د هغه له فريکونسي سره يعنې $\sum F\bar{d}$ لاسته راتلای شي.

۵- که چيرې مجموعي انحراف (د فريکونسي) پر تعداد وويشو وسطي انحراف لاسته راځي. $\frac{\sum Fd}{\sum F}$ وسطي تعداد دی چې نظر هغه ته اړوند قيمتونه د ټولګي د واټن د واحدونو له فرضي اوسط څخه انحراف لري. بايد د دويم ځل لپاره د C ټولګي د ګډ واټن اندازه ضرب شي. تر څو وسطي انحراف په اصلي واحدونو تبديل شي يعنې:

$$\frac{\sum F\bar{d}}{\sum F}\cdot C$$

بالاخره د A د فرضي اوسط په زياتولو سره په پورتني فورمول کې مطلوبه حسابي اوسط لاسته راځي په هغه صورت کې کولای شو نوموړې طريقه په لاندې توګه تر کتنې لاندې راولو.

$$\bar{x} = A + \frac{\sum F\bar{d}}{\sum F}$$

همدارنګه کولای شو نظر فرضي اوسط ته انحراف د لاندې فورمول په مرسته پيدا کړو.

$$\bar{d} = \frac{\bar{x} - A}{C}$$

**بيلګه:** نوموړې طريقه په مخکينۍ بيلګه يعنې درياضي په مضمون کې د ۵۰ تنو محصلينو د آزموينې پايلې وګورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په ۱۳۸۷ کال کې د ۵۰ تنو محصلینو د ریاضي مضمون د آزموینې د پایلو حسابي اوسط سنجش**

| د ټولګیو نمرې | فریکونسي F | د ټولګي وسط X | انحراف نظر فرضي اوسط ته | Fd |
|---|---|---|---|---|
| 21 – 30 | 5 | 25.5 | - 3 | - 15 |
| 31 – 40 | 7 | 35.5 | - 2 | - 14 |
| 41 – 50 | 4 | 45.5 | - 1 | - 4 |
| 51 – 60 | 12 | 55.5 | 0 | 0 |
| 61 – 70 | 8 | 65.5 | 1 | 8 |
| 71 – 80 | 7 | 75.5 | 2 | 14 |
| 81 – 90 | 4 | 85.5 | 3 | 12 |
| 91 – 100 | 3 | 95.5 | 4 | 12 |
| **مجموعه** | **50** | | | **+ 13** |

نو د ۵۰ تنو محصلینو د آزموینې د پایلو حسابي اوسط نظر د کودبندۍ طریقې ته عبارت دی له:

$$\bar{x} = A + \frac{\sum F\bar{d}}{\sum F} \cdot C$$

$$\bar{x} = 55{,}5 + \left(\frac{13}{15}\right) \cdot 10$$

$$\bar{x} = 55{,}5 + (0{,}26) \cdot 10$$

$$\bar{x} = 58{,}1$$

دروند یا ثقلت لرونکی حسابي اوسط:په ځینو ځایونو کې د مناسب اوسط پیدا کول اړین دي، تر څو هرې کتنې(مشاهدې) یا عدد ته ځانګړی وزن یا دروندوالی ورکړل شي. په دې حالت کې بهتره ده چې حسابي اوسط ته د(دروند یا ثقلت لرونکی حسابي اوسط) اصطلاح ورکړل شوې وای. د بیلګې په ډول فرض کړئ ۱۰ کورنۍ هره یوه په کال کې ۶۰۰۰ ۴ څـلور کورنۍ هره یوه۸۵۰۰ او یوه کورنۍ ۱۲۵۰۰ افغانۍ عاید لري په دې حالت کې د حسابي اوسط د سنجش لپاره بهتره ده د هرې کورنۍ د عاید نسبي اهمیت په پام کې ونیول شي. په دې منظور باید نوموړو عوایدو ته د اړوندو کورنیو له شمېر یا تعداد سره دروندوالی(ثقلت) او وزن ورکړل شي لکه لاندې فورمول:

$$\bar{x}w = \frac{\sum wx}{\sum w}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې ځای کې x د هر عدد قیمت، یعنې د کورنیو عایدات، w وزن یا دروندوالی چې ښه عاید ورکول کیږي یعنې په هر عاید پورې اړوند د کورنیو شمېر او $X_n$ دروند یا ثقلت لرونکی حسابي اوسط چې په پورتنۍ بیلګه کې عبارت دی له:

$$\bar{x}w = \frac{(60\times10)+(85\times4)+(12{,}5\times1)}{10+4+1} = \frac{1065}{15} = 71$$

**هندسي اوسط:** د یو سلسله شمېرو هندسي اوسط یعنې $x_1$ , $x_2$ .........$x_n$ د نوموړو شمېرو د حاصل ضرب له جذر څخه عبارت دی. یعنې په تصنیف شوو شمېرو کې هندسي اوسط عبارت دی له:

$$G = \sqrt[n]{(x_1)(x_2)\ldots\ldots(x_n)}$$

G له هندسي اوسط څخه عبارت دی، n په نمونه کې د کتنو(مشاهداتو) یا شمېرو تعداد، x د شمېرو قیمت د بیلګې په ډول د درې عددونو ۲،۴ او ۸ هندسي اوسط عبارت دی له:

$$G = \sqrt[3]{(2)(4)(8)} = \sqrt[3]{64} = 4$$

**په داسې حال کې چې د هغه حسابي اوسط:** $\bar{x} = \frac{2+4+8}{3} = 4.7$ وي.

په عمومي توګه د مثبتو شمېرو د هرې سلسلې حسابي اوسط د هغه له هندسي اوسط څخه لوی وي. مګر داچې د سلسلې ټولې شمېرې له یو بل سره مساوي وي. که چیرې د سلسلې شمېرې ټولې یو شان وي د نوموړې سلسلې حسابي اوسط او هندسي اوسط هم له یوبل سره مساوي وي.

$$\neq\leq G \leq \bar{x}$$

**هارمونیکي اوسط:** که چیرې د یوې ورکړل شوې سلسلې شمېرې معکوسې کړو د هغوی حسابي اوسط سنجش کوو او د دویم ځل لپاره معکوس نیول کیږي.
د هغه پایله د هارمونیک اوسط په نوم یادوي.

$$H = \frac{n}{\frac{1}{x_1}+\frac{1}{x_2}\ldots\ldots\frac{1}{x_n}} = \frac{N}{\Sigma\frac{1}{x_1}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د بیلګې په ډول د لاندې شمېرو ۲،۴،۸ هارمونیکي اوسط عبارت دی له:**

$$H = \frac{n}{\frac{1}{2}+\frac{1}{4}+\frac{1}{8}} = \frac{3}{\frac{4+2+1}{8}} = \frac{3}{\frac{7}{8}} = \frac{3 \cdot 8}{7} = \frac{24}{7} = 3.4$$

**مربعي اوسط:** مربعي اوسط د کتنو(مشاهداتو) یا شمېرو مربع او یا د حسابي اوسط مربع له جذر څخه عبارت دی یعنې:

$$x^{-2} = \sqrt{\frac{x_1^2 + x_2^2 + x_3^2 ........x_n^2}{n}} = \sqrt{\frac{\sum x^2}{n}}$$

**د بیلګې په ډول د 7 , 5 , 4 , 3 , 1 شمېرو مربعي اوسط عبارت دی له:**

$$x^{-2} = \sqrt{\frac{1^2 + 3^2 + 4^2 + 5^2 + 7^2}{5}} = \sqrt{\frac{100}{5}} = 4.27$$

**میدیان (د فریکونسي اوسط):** تر اوسه پورې مو چې کوم اوسطونه مطالعه کړل هغه سنجش شوي اوسطونه دي، چې نظرټولو شمېرو یا کتنو(مشاهداتو)ته د مشخصو فورمولونو په مرسته یوه نښه یا نمونه محاسبه کیږي. پر خلاف د دې په ځینو ځایونو کې د سنجش شوو اوسطونو پر ځای د شمېرو یا کتنو (مشاهداتو) وسطي موقف لکه میدیان، د فریکونسي وسط یا مود(دفریکونسي زیاتوالی یاکثرت)،چې وروسته به مطالعه شي.

میدیان یوه لړۍ یا سلسله شمېرې چې نظر د هغوی کمیت ته سمبال شوي، یا د نوموړې لړۍ یا سلسلې له وسطي(منځنۍ) عدد څخه عبارت دی. په بل عبارت میدیان د هغه عدد له قیمت څخه عبارت دی، چې اړونده لړۍ یا سلسله داسې په دوو برخو ویشي، چې لږ تر لږه د لړۍ پنځوس فیصده اجزاء مساوي یا له هغه څخه لویه وي.

**دبیلګې په ډول:**

10 , 2 , 6 , 4 , 8 , 7 , 9 , 6 , 3

باید په یاد ولرو چې د میدیان په تثبیت کې لومړی باید له ټولو څخه شمېرې یا اعداد ترتیب کړو.

**پورتنۍ شمېرې له ترتیب څخه وروسته عبارت دي له:**

2 , 3 , 4 , 6 , 6 , 7 , 8 , 9 , 10

(c) ketabton.com: The Digital Library

میدیان د تعریف له پلوه د هغه عدد له ارزښت څخه عبارت دی چې د لړۍ یا سلسلې په وسط کې ځای پر ځای شوی وي، یعنې ۶ دی.

همدارنګه په لاندې شمېرو کې: 9 , 12 , 7 , 15 , 5 , 18 , 5 چې شمېرې له ترتیب څخه وروسته عبارت دي له:18 , 15 , 12 , 11 , 9 , 7 , 5 , 5

په پورتنۍ بیلګه کې د شمېرو توکیز(اجزایي) شمېر ۸ عدده دي او د هغوی په وسط کې یو واحد عدد شتون نه لري بلکې دوه عدده ۹ او ۱۱ ځای پر ځای شوي دي په دې حالت کې د میدیان ارزښت د هغو دوو عددونو له وسط څخه عبارت دی چې د لړۍ یا سلسلې په وسط کې واقع شوې دي، یعنې:

$$Med = \frac{9+11}{2} = \frac{20}{2} = 10$$

**د دوو پورتنیو بیلګو په پام کې نیولو سره کولای شو داسې نتیجه ګیري وکړو :**

په یوه سلسله ترتیب شوو شمېرو کې چې د هغوی توکیز(اجزایي) شمېر طاق وي. میدیان د هغه عدد له ارزښت څخه عبارت دی، چې په منځ کې ځای پر ځای کیږي. که چیرې د یوې لړۍ یا سلسلې توکیز(اجزایي) شمېر جفت وي د هغه میدیان د هغو دوو شمېرو له اوسط څخه عبارت دی چې د اړوندې سلسلې په وسط کې واقع شوی دی.

د فریکونسي په یوه وېشنه کې، د تصنیف شوو شمېرو میدیان کولای شو په لاندې طریقه پیدا کړو. د تصنیف شوو شمېرو میدیان د لاندې فورمول په مرسته سنجش کیږي.

$$Med = L_i + \left( \frac{\frac{\sum f - \sum fi}{2}}{Fm} \right) \cdot C$$

**چې په دې ځای کې:** Li د میدیان د ټولګي ښکتنی سرحد(ښکتنی حد په هغه صورت کې چې شمېرې اوږدې یا متمادي وي)، n د فریکونسي مجموع یا $(\sum F)$،$(\sum F)$ د میدیان په ټولګي کې د مخکې فریکونسي ګانو له مجموع څخه عبارت دی، Fm د میدیان د ټولګي له فریکونسي څخه عبارت دی او C د میدیان د ټولګي د واټن له اندازې څخه عبارت دی.

**بیلګه:** میدیان د ریاضي په مضمون کې د ۵۰ تنو محصلینو د آزموینې پایلې د حسابي اوسط په سنجش کې پیدا کوو. د فورمول په مرسته د میدیان د پیدا کولو لپاره باید لومړی لاندې پړاوونه ووهو.

۱- لومړی باید د $\frac{\sum F}{2}$ قیمت پیدا کړو، یعنې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\frac{\sum F}{2}=\frac{(50)}{2}=25$$

۲- زیاتیدونکې(صعودي) متراکمه فریکونسي باید ترتیب کړو او د جدول په درېیم ستون کې باید ولیکل شي.

۳- د میدیان پړاوونه باید وټاکو چې د هغه د متراکمې فریکونسۍ لومړنی ټولګی له $\frac{\sum F}{2}$ څخه زیات وي. په بل عبارت لومړنی ټولګی چې $\frac{\sum F}{2}$ د هغې په متراکمه فریکونسي کې شامله وي، داسې چې په جدول کې لیدل کیږي، د څلورم ټولګي متراکمه فریکونسي چې ۲۸ کسان دي له ۲۵ کسانو څخه زیات دي. نو څلورم ټولګی میدیان یادیږي.

۴- د میدیان د ټولګي ښکتنی سرحد باید تثبیت شي، یعنې:

$$Li=\frac{51+50}{2}=\frac{101}{2}=50.5$$

۵- د میدیان له ټولګي څخه مخکې د فریکونسي ګانو مجموع(د مخکني ټولګي متراکمه فریکونسي) عبارت دي له:

$$\sum Fi=5+7+4=16$$

۶- د میدیان د ټولګي د واټن اندازه، یعنې $C=31-21=10$

۷- د میدیان د ټولګي فریکونسي دې وټاکل شي یعنې: $Fm=12$

چې د هغه پورتني پړاوونه کولای شو د لاندې جدول لپاره په لاندې توګه تشریح کړو.

**په ۱۳۷۸ کال کې درياضي په مضمون کې د ۵۰ تنو محصلينو د آزموينې د پايلو د ميديان سنجش**

| د ټولګيو نمرې | فریکونسي F | صعودي متراکمې فریکونسي ګانې |
|---|---|---|
| 21 – 30 | 5 | 5 |
| 31 – 40 | 7 | 12 |
| 41 – 50 | 4 | 16 |
| 51 – 60 | 12 | 28 |
| 61 – 70 | 8 | 36 |
| 71 – 80 | 7 | 43 |
| 81 - 90 | 4 | 47 |
| 91 – 100 | 3 | 50 |
| مجموع | 50 | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اوس لاسته راغلي قيمتونه په فورمول کې وضع کوو:**

$$Med = Li + \left(\frac{\sum F - \sum Fi}{Fm}\right) \cdot C$$
$$= 50.5 + \left(\frac{25-16}{12}\right) \cdot 10$$
$$= 50.5 + \left(\frac{9}{12}\right) \cdot 10$$
$$= 50.5 + 7.5$$
$$Med = 58.0$$

1. $\frac{\sum F}{2} = \frac{50}{2} = 25$

۲. صعودي متراكمې فريكونسۍ ګانې دې ترتيب شي:

۳. $(51-60)$يعنې د ميديان ټولګی دې تثبت شي.

۴. $Li = \frac{50+51}{2} = 50.5$ د ټولګي ښکتنی سرحد

5. $\sum Fi = 5+7+4 = 16$
6. $C = 31-21 = 10$
7. $Fm = 12$

**مود ( د فريكونسۍ زياتوالی يا کثرت)**

مود په يوه سلسله شمېرو کې له هغه عدد يا قيمت څخه عبارت دی، چې له بل هر عدد يا قيمت څخه زيات ځرګنديږي. په بل عبارت مود له هغه ارزښت څخه عبارت دی چې زياتره معمول وي. په ځينو لړيو يا سلسلو کې امکان لري يو يا څو موده شتون ولري يا حتی پرته له مود څخه وي، لکه:

2 , 1 , 3 , 4 , 4 , 5 , 7 , 8

په پورته لړۍ کې مود د ۴ عدد دی، ځکه چې له نورو شمېرو څخه زيات ځرګند شوی دی او په دې لړۍ کې يو مود شتون لري. په داسې حال کې چې د نورو شمېرو په لړۍ کې يعنې:

2 , 3 , 4 , 5 , 7 , 9 , 9 , 10 , 11 , 11 , 15

په پورته لړۍ کې دوه موده شتون لري او د ۹ او ۱۱ له عددونو څخه عبارت دي او د لاندې سلسلې پر خلاف:

3 , 5 , 4 , 6 , 7 , 9 , 10

مود شتون نه لري، ځکه چې هر عدد يواځې يو ځل ځرګند شوی. په تصنيف شوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمېرو کې کولای شو مود د الجبري فورمول په وسیله سنجش کړو.

د تصنیف شوو شمېرو مود د لاندې فورمول په وسیله لاسته راتلای شي.

$$Med = L_i + \left(\frac{\Delta_1}{\Delta_1 + \Delta_2}\right) \cdot C$$

**چې په دې ځای کې ورکړل شوې نښې یا علایم عبارت دي له:**

$L_i$- د مود د ټولګي ښکتنی سرحد.

$\Delta_1$- د مود د ټولګي د فریکونسي توپیر د هغه د مخکني ټولګي له فریکونسي سره.

$\Delta_2$- د مود د فریکونسۍ توپیر د هغه د وروستي ټولګي له فریکونسي سره.

C- د مود د ټولګي د واټن له اندازې څخه عبارت دی.

د فورمول په مرسته د مود د سنجش کولو لپاره لومړی باید د مود ټولګی په اړونده وېشنه کې وټاکو. د مود ټولګی په یوه وېشنه کې له هغه ټولګي څخه عبارت دی چې د زیاتې فریکونسي لرونکي وي او زمونږ په مخکینۍ بیلګه کې د څلورم ټولګي د ریاضي په مضمون کې د ۵۰ تنو محصلینو د آزموینې د نمرو سنجش ټاکل یعنې(۵۰.۵)نمرې دي.

د مود د ټولګي د فریکونسي توپیر د هغه له مخکیني ټولګي سره، یعنې (8 = 4 – 12) همدارنګه د مود د ټولګي د فریکونسي توپیر د هغه له وروستي ټولګي سره، یعنې(8 – 12 = 4) دی. د مود د ټولګي د واټن اندازه ۱۱=۳۱-۲۰ دی.

د پورتنیو قیمتونو په وضع کولو سره په دغه فورمول کې لرو چې:

$$Med = L_i + \left(\frac{\Delta_1}{\Delta_1 + \Delta_2}\right) \cdot C$$

$$Med = 50.5 + \left(\frac{8}{8+4}\right) \cdot 10$$

$$= 50.5 + \left(\frac{8}{12}\right) \cdot 10$$

$$= 50.5 + \left(\frac{80}{12}\right) \cdot 10$$

$$= 50.5 + 6.66$$

$$\text{Med} = 57.16$$

**کارتیل (څلور یو)، دسیل (لس یو) او پرسانیتل (سل یو)**

که چیرې یوه سلسله شمېرې نظر کمیت ته ترتیب شوې وي، د اړوندې سلسلې وسطي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارزښت یا میدیان په دوو مساوي برخو ویشي.

که چیرې د ورکړل شوې سلسلې نور ارزښتونه په څلورو مساوي برخو وویشي دا ارزښتونه معمولاً په $Q_1$ , $Q_2$ , $Q_3$ افاده شوي او د لومړي کارتیل، دویم کارتیل او درېیم کارتیل په نومونو یادیږي.

په تصنیف شوو شمېرو کې لومړی کارتیل د لاندې فورمول په وسیله سنجش کیږي.

$$Q = Li + \left( \frac{\frac{n}{4} - \sum Fi}{Fq_1} \right) \cdot C$$

پورتنی فورمول د میدیان د موندنې له فورمول سره زیات ورته والی لري. په دې ځای کې نښې یا علایم عبارت دي له $Q_1$ لومړی کارتیل، $L_i$ د لومړي کارتیل د ټولګي ښکتنی سرحد، $\sum F_1$ د ټولګیو د فریکونسي مجموع د لومړي کارتیل له ټولګي څخه مخکې (د مخکیني ټولګي متراکمه فریکونسي)، $Fq_1$ د لومړي کارتیل د ټولګي فریکونسي او C د کارتیل د ټولګي د واټن اندازه.

**بیلګه:** په مخکینۍ بیلګه کې، یعنې د ۵۰ تنو محصلینو د نمرو سنجش د ریاضي په مضمون کې لومړی کارتیل عبارت دی له:

$$\frac{n}{4} = \frac{\sum F}{4} = \frac{50}{4} = 12.5$$

لیدل کیږي چې د $\frac{n}{4}$ قیمت د درېیم ټولګي په متراکمه فریکونسي کې ورکړه ده، نو په دې اساس د لومړي کارتیل ټولګی له(50 – 41) نمرو څخه عبارت دي.

$$Li = 40.5$$

$$\sum Fi = 5 + 7 = 12$$

$$\sum Fi = 4$$

$$C = 10$$

نو له همدغې لارې څخه کولای شو د دویم او درېیم کارتیل ارزښت هم سنجش کړو او درېیم کارتیل کولای شو د لاندې فورمول په مرسته پیدا کړو.

$$Q_3 = Li + \left( \frac{\frac{3n}{4} - \sum Fi}{Fq_3} \right) \cdot C$$

همدارنګه یو سلسله شمېرې او یا د یوې فریکونسي وېشنه کولای شو په ارزښتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

يعنې په لسو مساوي برخو او لس يو يا (دسيلونو) يا په سلو مساوي برخو( سل يووم او يا پرسانتيلونو) وويشو او د دسيلونو او پرسانتيلونو د موندنې لار د کارتيلونو د ميديان د موندنې له طريقو سره ورته يا مشابه دي.

**مثلاً:** لس يو يا لومړی دسيل $D_1$ د لاندې فورمول په وسيله پيدا کيږي:

$$D_1 = Li + \left( \frac{\frac{n}{10} - \sum Fi}{FD_1} \right) \cdot C$$

فرضاً شپږم دسيل $D_6$ عبارت دی له:

$$D_6 = Li + \left( \frac{\frac{6n}{10} - \sum Fi}{FD_6} \right) \cdot C$$

او اووم پرسانتيل $D_7$ عبارت دی له:

$$D_7 = Li + \left( \frac{\frac{7n}{100} - \sum Fi}{Fq_7} \right) \cdot C$$

بايد پام وکړو چې د دسيلونو په سنجش کې د فريکونسي مجموع په ۱۰ او د پرسانتيلونو په سنجش کې په ۱۰۰ وېشل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د څلورم څپرکي د مطالبو لنډيز**

په مخکيني څپرکي کې مو وليدل چې په نمونې يا کتنو(مشاهداتو) پورې اړوندې شمېرې څرنګه راټولې، ترتيب او څرګنديږي.

(د فريکونسي وېشنه) البته د فريکونسي وېشنه نه يوازې د شمېرو د منسجم کولو او راټولونې لار ده، بلکې تشريحي او توضيحي مقياس هم دی. په زياتو ځايونو کې يوازې يو مقياس يا تشريحي مشخصې ته اړتيا لرو او نظر هغې ته د بلې سلسلې شمېرې مطالعه کوو.

دا عدد بايد له هغو ټولو شمېرو څخه استازيتوب وکړي چې د هغې په وسيله تشريح کيږي. په دې منظور نوموړی عدد بايد تمايل (ګرايش) او همدارنګه د سلسلې د شمېرو وېشنه د وسطي يا مرکزي يوې برخې په شاو خواکې وښيي. له دغو دوو عددونو څخه استازی د مرکزي تمايل (ګرايش) مقياس په نوم يا معمولاً د (اوسط) په نوم ياديږي. په بل عبارت د يو سلسله شمېرو اوسط له يوه قيمت يا يوه عدد څخه عبارت دی چې له ټولو شمېرو څخه استازيتوب وکړي.

اوسطونه د هغوی د رياضي اړخونو له پلوه په دوو عمده ګروپونو باندې ويشل کيږي.

د هغه په لومړي ګروپ کې حسابي، هندسي، هارمونيکي او مربعي اوسطونه شامل دي چې په مفصله توګه مطالعه شوي او د هغه دويم ګروپ ميديان(د فريکونسي وسط)، مود(د فريکونسي زياتوالی يا کثرت) او داسې نور رانغاړي، چې هغوی هم په دې څپرکي کې په مفصله توګه تر مطالعې او بررسۍ لاندې راغلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څلورم څپرکي پوښتنې:

۱- اوسطونه څه مفهوم لري او په څو ګروپونو وېشل شوي دي ؟
۲- د لاندې شمېرو حسابي اوسط او هندسي اوسط سنجش او پرتله کړئ؟

3 , 5 , 6 , 7 , 10 , 12

۳- د نوموړو شمېرو هارمونيکي او مربعي اوسط هم پيدا کړئ او د څلور ډولو اوسطونو پرتله څنګه نتيجه ګيري کوي؟
٤- د ۱۰۰ تنو محصلينو د رياضي مضمون د آزموينې پايلې په لاندې توګه ورکړل شوي دي.

| د محصلينو شمېر | نمرې |
|---|---|
| 7 | 31 – 40 |
| 11 | 41 – 50 |
| 35 | 51 – 60 |
| 37 | 61 – 70 |
| 17 | 71 – 80 |
| 8 | 81 – 90 |
| 5 | 91 – 100 |
| **100** | **مجموع** |

الف- د محصلينو حسابي اوسط سنجش کړئ.
۱- ٥ طريقه
ب- د نوموړو شمېرو ميديان او مود پيدا کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم څپرکی

## د خورېدو(پراګندګۍ) مقیاسونه

**عمومي موخه:**

د خورېدو(پراګندګۍ) د مقیاسونو توضیح او تعریف

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې محصلین کولای شي:

- انحراف یا خورېدنه (پراګندګي)توضیح کړي.
- د شمېرو(اعدادو)وسعت یا پراخ والی لاسته راوړي.
- د انحرافاتو ډولونه توضیح او محاسبه کړي.

### د انحراف یا خورېدلو مقیاسونه

**انحراف یا خورېدل:** په تیرو څپرکو کې د اوسطونو او فریکونسیو د ویشنې په اړه اړین توضیحات او تشریحات ورکړل شوي دي او له هغوی څخه مو هر یو په مفصله توګه مطالعه کړل. که څه هم د یوه اوسط عمده ځانګړنې دادي چې د یوې لړۍ یا سلسلې له ټولو کتنو(مشاهداتو) یا شمېرو څخه په ښه توګه استازیتوب وکړي خو د اړوندې سلسلې ټولې شمېرې په عمومي ډول د سنجش شوي اوسط په څېر ارزښت نه لري.

دا شمېرې په متفاوتو اندازو سره د انحراف وسطي ارزښت یا مرکزي ارزښت لرونکي دي، چې د هغوی دغه توپیر د انحراف یا خورېدا په نوم یادیږي.

د انحراف یا خورېدواندازه په ځینو ویشنو کې کیدای شي زیاته یا لږه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

البته د شمېرو د خورېدو (پراګندګۍ) او متحول سنجش زیاتې طریقې شتون لري چې په دې ځېرکي کې له هغوی څخه ځینې چې له پراخوالي(وسعت)، د کارتیلونو په نظر انحراف، وسطي انحراف، معیاري انحراف او د انحراف ضریب څخه عبارت دي. مطالعه کوو.

**پراخوالی (وسعت):** د انحراف یا خوېدوا ډېر ساده مقیاس د اړوندې سلسلې د کوچني او لوی عدد تر منځ له توپیر څخه عبارت دی، لکه:

پراخوالی یا وسعت په لاندې شمېرو کې 2 , 3 , 5 , 7, 11 , 29 , 35 عبارت دي

له 33 = 2 − 35

په تصنیف شوو شمېرو کې پراخوالی یا وسعت د کوچني ټولګي د ښکتني حد تر منځ او د لوی ټولګي د پورتني حد تر منځ له توپیر څخه عبارت دی.

**نظر کارتیلونو ته انحراف:** نظر کارتیلونو ته انحراف په یوه وېشنه کې د کارتیلونو تر منځ پراخوالی ( وسعت)،د هغه د درېیم کارتیل او لومړي کارتیل ترمنځ له توپیر څخه عبارت دی یعنې :

$$QD = Q_3 - Q_1$$

زیاتره وخت د پراختیا(وسعت) په ځای د کارتیلونو ترمنځ د دې پراختیا(وسعت) اوسط سنجش او د کارتیلونو د وسعت اوسط یا د کارتیلونو د انحراف په نوم یادیږي یعنې:

$$QD = \frac{Q_3 - Q_1}{2}$$

**وسطي انحراف:** وسطي انحراف یا انحراف نظر اوسط ته څرنګه چې له نامه څخه یې څرګندیږي، د انحراف له حسابي اوسط یا د یوې سلسلې د شمېرو مطلقه توپیر نظر یوه وسطي عدد ته لکه حسابي اوسط یا له میدیان څخه عبارت دی.

په تصنیف شوو شمېرو کې وسطي انحراف په هغه صورت کې چې $\bar{x}$ وسطي ارزښت وي د لاندې فورمول په وسیله سنجش کیږي.

$$MD = \frac{\sum(x-\bar{x})}{n} = \frac{\sum(x)}{n} = \frac{\sum(d)}{n}$$

چې په دې ځای کې MD وسطي انحراف، x د یوې لړۍ یا سلسلې شمېرې، $\bar{x}$ حسابي اوسط، n د شمیروتعداد او d یا $x_i - \bar{x} = x$

**د بیلګې په ډول:** د 11 , 8 , 6 , 3 , 2 شمېرو انحراف پیدا کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی باید د شمېرو حسابي اوسط سنجش شي:

$$\bar{x} = \frac{\sum x}{n} = \frac{2+3+6+8+1}{5} = 6$$

وروسته د شمېرو مطلقه انحراف نظر اوسط ته محاسبه کوو.

$$MD = \frac{(2-6)+(3-6)+(6-6)+(11-6)+(8-6)}{5} = \frac{14}{5} = 2.8$$

يعنې ورکړل شوې شمېرې د۲.۸په اندازه له حسابي اوسط څخه انحراف لري.
کولای شو وسطي انحراف نظر میدیان ته هم سنجش کړو يعنې:

$$AD = D = \frac{\sum (y - med)}{n}$$

**لکه:** په پورتنيو شمېرو کې میدیان د ۶ عدد دی. څرنګه چې $\bar{x} = med$ دی په دې بیلګه کې دواړه ډوله وسطي ارزښتونه مساوي دي.

همدارنګه کولای شو وسطي انحراف په تصنیف شوو شمېرو کې د لاندې فورمولونو څخه د یوه فورمول په وسیله سنجش کړو.

$$MD = \frac{\sum F(x-\bar{x})}{F} = \frac{\sum F(d)}{\sum F}$$

$$AD = \frac{\sum F(x - med)}{\sum F} = \frac{\sum F(d)}{\sum F}$$

په دوو پورتنيو فورمولونو کې F د ټولګيو فريکونسي، x د ټولګي وسط، $\bar{x}$ او med په ترتیب سره حسابي اوسط او د ویشنې اړوند میدیان دي. د تمرین لپاره دوه نوموړي فورمولونه د مخکینۍ بیلګې په اړه، يعنې د ۵۰ تنو محصلينو د نمرو سنجش د رياضي په مضمون کې تطبیق کړئ.

**معیاري یا ستندرد انحراف:** معیاري یا ستندرد انحراف د انحراف ډېر مهم مقیاس دی او نظر اوسط ته د انحراف یوه ځانګړې بڼه ده. د معیاري انحراف او وسطي انحراف ترمنځ توپیر دا دی چې په لومړني کې د انحراف مربع نظر حسابي اوسط ته سنجول کیږي، په داسې حال کې چې دویم یې له مطلقه انحراف څخه کار اخلي. معیاري انحراف په خپل وار سره د بل مهم مقیاس مربع جذر يعنې واریانس دی.

د واریانس معیاري انحراف په یوه سلسله شمېرو کې د لاندې فورمول په وسیله سنجش کیږي:

$$\delta^2 = \frac{\sum (x-\bar{x})^2}{n}$$

$$\delta = \sqrt{\frac{(x-\bar{x})^2}{n}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې ځای کې $\delta$ د ګاما په نوم یوناني کوچنی توری معیاري انحراف او $\delta^2$ واريانس افاده کوي. د بيلګې په ډول 11 , 8 , 6 , 3 , 2 شمېرو واريانس او معياري انحراف په لاندې توګه لاسته راځي.

$$\bar{x} = \frac{\Sigma x}{n} = \frac{30}{5} = 6$$

$$\delta^2 = \frac{(2-6)^2 + (3-6)^2 + (6-6)^2 + (11-6)^2 + (8-6)^2}{5} = \frac{54}{5} = 10.8$$

$$\delta = \sqrt{\delta^2} = \sqrt{10.8} = 3.29$$

_همدارنګه د لاندې فورمول په مرسته:

$$d^o = \sqrt{\frac{\Sigma (x-\bar{x})^2}{n}} = \sqrt{\frac{\Sigma x^2 - \frac{\Sigma (x)^2}{n}}{n}} = \sqrt{\frac{\Sigma x^2}{n} - \left(\frac{\Sigma x}{n}\right)}$$

$$d = \sqrt{\frac{234}{5} - \left(\frac{30}{5}\right)^2} = \sqrt{90.8} = 3.29$$

همدارنګه د معياري انحراف ستون هم د لاندې فورمول په وسيله پيدا کوو.

$$\delta = \sqrt{\frac{\Sigma d^2}{n} = \left(\frac{\Sigma d}{n}\right)^2}$$

**لکه:** د ۵ مخکنیو شمېرو په اړه لرو چې:

| x | d | $d^2$ |
|---|---|---|
| 2 | -1 | 1 |
| 3 | 0 | 0 |
| 6 | 3 | 9 |
| 8 | 5 | 25 |
| 11 | 8 | 64 |
| | 15 | 99 |

$d = x - A$

$A = 3$

$$\delta = \sqrt{\frac{\Sigma d^2}{n} - \left(\frac{\Sigma d}{n}\right)^2}$$

$$\delta = \sqrt{\frac{93}{5} - \left(\frac{15}{5}\right)^2}$$

$$\delta = \sqrt{10.8} = 3.29$$

د تصنيف شوو شمېرو معياري انحراف پورتنيو فورمولونو ته ورته(مشابه) هم کولای شو په ځو لارو سنجش کړو. په هغه صورت کې چې د ټولګي وسط او اړوندې فريکونسي ګانې په کار واچوو کولای شو له لاندې فورمول څخه استفاده وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\delta = \sqrt{\frac{\sum F(x-\bar{x})^2}{\sum F}} = \sqrt{\frac{\sum Fd^2}{\sum F}}$$

په دې ځای کې د F فریکونسی، x د ټولګي وسط او $\bar{x}$ د اړوندې ویشنې حسابي اوسط دی او $d = x - \bar{x}$ وضع شوي دي دا فورمول څرنګه چې د مخکني فورمول په اړه ورکړل شوی دی کیدای شي داسې ولیکل شي:

$$\delta = \sqrt{\frac{\sum Fx^2}{\sum F}\left(\frac{\sum Fx}{\sum F}\right)^2}$$

$$Va = \frac{\text{وسطي انحراف}}{\text{حسابي اوسط}} = \frac{MD}{\bar{x}}$$

په مخکینۍ بیلګه کې مونږ په 11 , 8 , 6 , 3 , 2 شمېرو کې د هغه حسابي اوسط $\bar{x} = 6$ او د هغه وسطي انحراف $MD = 2.8$ پیدا کړی و، چې د هغوی په وضع کولو سره به وسطي انحراف عبارت وله، یعنې:

$$Va = \frac{MD}{\bar{x}} = \frac{2.8}{6} = 0.0466 \quad , \quad 46.6\%$$

همدارنګه وسطي انحراف نظر میدیان ته د لاندې فورمول په مرسته پیدا کولای شو:

$$Va = \frac{AD}{\bar{x}}$$

همدارنګه کولای شو د انحراف ضریب نظر کارتیلونو ته هم سنجش کړو چې پهVq افاده کیږي او د درېیم کارتیل او لومړي کارتیل د نسبت توپیر د هغوی پر مجموع باندې وي یعنې:

$$V_q = \frac{Q_3 - Q_1}{Q_3 + Q_{48}}$$

او همدارنګه معیاري انحراف د ټولګیو د موقعیتونو په اساس، یعنې د ټولګیو د واټن په واحدونو باندې څرګندولای شو. په هغه صورت کې د ټولګیو ګډ واټن لیکو چې:

$$\delta = \sqrt{\frac{\sum Fd^2}{\sum F} - \left(\frac{\sum Fd}{\sum F}\right)^2} \cdot C$$

په دې ځای کې $\bar{d}$ د ټولګي د واټن واحد په نظر انحراف او C د ټولګیو ګډ واټن دی باید یادونه وشي چې د پورتنیو فورمولونو د واټن ځوابونه ورته یا مشابه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نسبي انحراف (د انحراف ضریب):** د نسبي انحراف له مقیاسونو څخه چې په عمل کې ډېر زیات په کارېږي، یو هم د انحراف ضریب دی. دا ضریب معمولاً په V افاده شوی چې د معیاري انحراف نسبت پر حسابي اوسط باندې عبارت دی، یعنې:

$$V = \frac{\text{معیاري انحراف}}{\text{حسابي اوسط}} = \frac{\delta}{\bar{x}}$$

**لکه:** که د طب د ډاکټرانو د کلني عاید ویشنې معیاري انحراف۱۵۰۰ افغانۍ او د پوهنتون د استادانو ۱۰۰۰ افغانۍ وي او د لومړي ګروپ د کلني عاید حسابي اوسط مثلاً ۷۵۰۰ او د دویم ۳۶۰۰ وي، وبه لیدل شي چې د استادانو په عاید کې نسبي انحراف نظر د طب د ډاکټرانو عاید ته زیات دی یعنې:

$$V_1 = \frac{1500}{7500} = 0.02 \quad , \quad 2\%$$

$$V_2 = \frac{1000}{3600} = 0.028 \quad , \quad 2.8\%$$

د خورېدنې(پراګندګي) بل نسبي مقیاس چې ډېری معمول دی، د وسطي انحراف د ضریب په نوم یادېږي. دا ضریب په لاندې $V_a$ کې افاده شوی او د وسطي انحراف نسبت پر حسابي اوسط عبارت دی.

**د پنځم څپرکي د مطالبو لنډیز**

په څلورم څپرکي کې مو د فریکونسۍ د ویشنې توضیح او تشریح د اوسطونو په مطالعې سره مطالعه او بررسي کړه اوسط یو ګټور او مهم مقیاس دی او د اړوندو شمېرو د لړۍ د مرکزي تمایل د څرنګوالي په اړه د پام وړ نقش لري.

که څه هم د یوه وسط عمده خصوصیت دا دی، چې ترڅو د یوې لړۍ له ټولو کتنو(مشاهداتو) یا شمېرو څخه په ښه توګه استازیتوب وکړي. خو د لړۍ ټولې شمېرې په عمومي توګه د سنجول شوي اوسط د عین ارزښت لرونکې نه دی. دا شمېرې په متفاوتو اندازو سره له وسطی ارزښت یا مرکزي ارزښت څخه انحراف کوي، البته د انحراف او خورېدنې(پراګندګي) اندازه او څرنګوالی نظر د ویشنې ډول او اړوندې سلسلې ته فرق کوي.

په دې اساس د یوې فریکونسي د ویشنې د خصوصیاتو یا د دوو یا څو ویشنو د پرتلنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زياتې تشريح له پاره د انحراف د درجې مقياس او اندازه ګيرۍ يا د ويشنو خورېدنې ته اړتيا لرو.

په حقيقت کې د فريکونسي د ويشنې بيلابيلې بڼې د انحراف د متفاوتو درجو او اندازو زيږنده ده، سربيره پر دې د احصايې زياتره ميتودونه او تحليلي وسايل د انحراف له مقياسونو او خورېدنې(پراګندګي) څخه په خپل وار سره بناء شوي دي. د وسطي ارزښت موندنه د شمېرو د اندازې يا خورېدو له پوهيدو پرته نظر هغه ته د لږ علمي مفهوم لرونکي وي.

غوره داده، چې سربيره په اوسطونو د تحول او خورېدنې درجه او اندازه ګيري نظر هغوی ته مطالعه شي.

په دې څپرکي کې لومړي د انحراف يا مطلقې خورېدنه څلور ډوله مقياسونه معرفي کيږي.

د انحراف پراخوالی(وسعت) نظر کارتيلونو، وسطي انحراف او معياري انحراف ته د انحراف يا نسبي خورېدل (پراګندګي) درې ډوله مقياسونه مطالعه کيږي. د انحراف ضريب، د وسطي انحراف ضريب او د انحراف ضريب نظر کارتيلونو ته تر مطالعې لاندې راغلل.

**وسعت:** د انحراف يا خورېدو ډېر ساده مقياس له هغه پراخوالی(وسعت) څخه عبارت دی وسعت په يوه سلسله شمېرو کې د اړوندې سلسلې د کوچني او لوی عدد تر منځ له توپير څخه عبارت دی. د پراخوالي(وسعت) د سنجش پيرودل (اخيستل) په يوه سلسله اړوندو شمېرو کې د هغه په ساده والي پورې تړلي دي په ځينو ځايونو کې په خاصه توګه اعظمي او اصغري حد، د قيمتونو تحول په مارکيټ کې يا د اورښت د حرارت درجه، د توليد د کيفيت يا جنسيت کنټرول، يا حتا د اوسط په اټکل يا تخمين کې په کاريږي.

**لکه:** 12 , 10 , 9 , 8 , 2 يا 10 = 2 – 12 وسطي انحراف يا انحراف نظر اوسط ته څرنګه چې له نوم څخه يې څرګنديږي د انحراف حسابي اوسط يا د يو سلسله شمېرو مطلقه توپير نظر يوه وسطي ارزښت ته لکه حسابي اوسط يا ميديان دی، چې د لاندې فورمول په مرسته سنجش کيږي:

$$MD = \frac{\Sigma(x-\bar{x})}{n} = \frac{\Sigma(x)}{n} = \frac{\Sigma(d)}{n}$$

معياري انحراف يا ستندرد انحراف د انحراف ډېر اړين مقياس دی او د انحراف يوه ځانګړې بڼه نظر اوسط ته ده. معياري انحراف په خپل وار سره د بل مهم مقياس مربع جذر يعنې واريانس دی او د لاندې فورمولونو په مرسته څرګنديږي.

$$\delta = \sqrt{\frac{(x-\bar{x})^2}{n}} \quad , \quad \delta^2 = \frac{\Sigma(x-\bar{x})^2}{n}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پنځم څپرکي پوښتنې:

۱- انحراف یا خورېدل په یو سلسله شمېرو(اعدادو)کې څه مفهوم لري؟
۲- انحراف یا مطلقه او نسبي خورېدل څه شی دی، او په څو ډوله سنجش کېدای شي ؟
۳- پراخوالی(وسعت) او هغه شمېرې چې نه وي تصنیف شوې، د فریکونسي په یوه وېشنه کې څرنګه سنجش کیږي؟
٤- انحراف نظر کارتیلونو ته څه شی دی او څه مفهوم لري؟
۵- وسطي انحراف نظر میدیان ته سنجش کړئ؟
٦- معیاري انحراف تعریف کړئ او په څو ډوله کیدای شي چې سنجش شي؟
۷- د لاندې شمېرو معیاري انحراف پیدا کړئ؟ 8 , 6 , 9 11 , 6
۸- د فورمول په اساس د ۷۵ تنو محصلینو د نمرو معیاري انحراف چې د شمېرو په جدول کې تصنیف شوي، پیدا کړئ ؟

| ټولګی | فریکونسي F |
|---|---|
| 0 – 10 | 5 |
| 11 – 20 | 10 |
| 21 – 30 | 25 |
| 41 – 50 | 20 |
| میزان | F = 60Σ |

$$\delta = \sqrt{\frac{\sum d^2}{\sum F} - \left(\frac{\sum Fd}{\sum F}\right)^2}$$

۹- د ۷۵ تنو محصلینو د نمرو معیاري انحراف په تصنیف شوي جدول کې د هغوی د ټولګیو د موقعیتونو په اساس پیدا کړئ؟

$$\delta = \sqrt{\frac{\sum d^2}{\sum F} - \left(\frac{\sum Fd}{\sum F}\right)^2} \cdot C$$

| ټولګی | F |
|---|---|
| 0 – 10 | 5 |
| 11 – 20 | 10 |
| 41 – 50 | 20 |
| | F = 45Σ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دويمه برخه

## د احتمالاتو تيوري

### مقدمه

د احصايې او احتمالاتو تيوري د يوې جدي اړتيا په توګه د اقتصادي او صنعتي مسايلو د حل لپاره له يوې ورځې، بلې ورځې ته شهرت لاسته راوړي او د تعليمي برنامو تطبيقول په ښوونځيو او پوهنتونو کې د احصايې او احتمالاتو له تدريس او زده کړې سره سمې تر سره کيږي.

همدا اوس په ټول افغانستان کې د رياضياتو، اقتصاد، کمپيوټر، کرنيزو علومو زدکړه د احصايې او احتمالاتو د تيوري له زدکړې سره يو ځای وړاندې ځي ځکه چې په دې ټولو تخصصي، اقتصادي، صنعتي او د رياضياتو په څانګو کې له بحثونو څخه بيلې زدکړې لکه تصادفي کميتونه، د پېښو(حوادثو) ترتيب او ترکيب او د پېښېدو احتمال نشي کيدای.

د احصايې د علم د ټولو علمي څانګو له جملې څخه زياتره د احتمالاتو له تيوري څخه مرسته اخلي ځکه چې د احصايې د علم بنسټ د راټولو شوو موادو په رڼا کې منطقي او عملي تصميم نيونه او مسلم حقايق جوړوي که چيرې مسلم او موثق حقايق ميسر نه شي تصميم نيوونکي وګړي به مجبور او مکلف وي تر څو د تيرو وګړو په تجربو او يا اټکلونو(حدسياتو) باندې تکيه وکړي، چې د داسې دقت او مؤثريت په ځايونو کې به لاسته راغلې پايلې په کافي اندازه د قناعت وړ نه وي، بلکې په يوې ټاکلې اندازې سره به د پېښو(حوادثو) د پېښېدو احتمال ممکن وي. هغه پايلې چې په داسې حالاتو کې لاسته راځي د دوو ډولونو تيروتنو تر تاثير لاندې به وي.

يو له مخکې څخه قضاوت او ذهني قضاوتونه او له علمي تحليل او شننې څخه مخکې د تصميم نيوونکو وګړو د شخصي تمايلاتو دخيلول چې په دې حالت کې تصميم نيوونکی وګړی غواړي پيښې (حوادث) او اتفاقات د هغه له ګټو او غوښتنو سره سم ترسره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بل په دقیقه او اصولي توګه د احتمالاتو د فن په کار نه اچونه ځکه چې احتمالات د یوه علم په اندازه چې د ریاضیاتو له جز څخه دی، د اساساتو او اصولو لرونکي دي، چې باید د علم په اندازه تر استفادې لاندې راشي او د اړتیا وړ پدیدې د علمي اوزارو او وسایلو په مرسته چې هماغه علمي قواعد او فورمولونه دي تحلیل او تجزیه شي.

په دې اساس د اقتصادي ډګر کارکوونکي د بانکدارۍ او تجارت په څانګه کې او هغه محاسبین چې د جاري حسابونو او پروژو بیلانس سنجش کوي مکلف دي تر څو د پېښو(حوادثو) او بدلونونو په هکله د احصایې او احتمالاتو د علم په اساس وړاندوینه وکړي. او تطبیقي او مطروحه پلانونه د دې علم په رڼا کې طرح کړي.

د احصایې او احتمالاتو علم پراخه ساحه او زیاتې برخې تر مطالعې لاندې راولي. دا روښانه ده چې په یوه لنډه تعلیمي دوره کې د ادارې او حسابدارۍ په انستیتوتونو کې د دې ټولو برخو ښوونه غیرممکن او د عملي کیدو وړ نه ده، خو هغه څه چې په منظور شوي مفرداتو او د تعلیمي پلان په چوکاټ کې په نظر کې نیول شوي دي په عمومي ځایونو کې د ادارې او حسابدارۍ د انستیتوتونو فارغان کولای شي د اقتصاد د څانګو د متخصصینو او چارواکو تر نظر لاندې دندې ترسره کړي چې له لاسته راغلو پایلو څخه ډاډمن او باخبره وي.

میر محمد شاه رفیعي

**د دویمې برخې عمومي موخه:**

په اقتصادي امورو (چارو) کې د احتمالي بدلونونو وړاندوینه او لاسته راوړنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## د احتمالاتو مفاهیم

**عمومي موخه:**

له احتمالاتو څخه مفهوم او مطلب څه دی ؟

**د زده کړې موخې:** محصلین د دې څپرکي په پای کې کولای شي:

- احتمالات تعریف کړي.
- د احتمالاتو د علم مفهوم توضیح کړي.
- د احتمالاتو کلاسیک، احصاییوي او هندسي مفاهیم توضیح او تشریح کړي.
- د هغو پدیدو ډولونه چې په احتمالاتو کې تر استفادې لاندې راځي، توضیح کړي.

**د احتمالاتو مفاهیم:**

څرنګه چې د هندسې په علم کې تعریف، ټکی، کرښه او ټولې هندسي بنې ډېرې پیچلي دي. په هماغه ډول د احتمالاتو د تیوري تعریف هم په واضح توګه آسانه او ساده کار نه دی. سربیره پردې ستونزې ,تجربو راښودلې چې د انسان په ذهن او خیالونو کې د احتمال کلمه تر یوه ځایه اشنایي لري او د پېښو(حوادثو) د پیښیدنې احتمال له بیلګو څخه د وګړو او د وګړو د ګروپونو تر منځ د مباحثو په ترڅ کې یادیږي.

**د بیلګې په ډول:** ویل کیږي چې د A فوټبال ټیم په نړیوالو سیالیو کې د بریالیتوب چانس نه لري.

نن ورځ د بایللو امکان شته یا احمد په پارلماني ټاکنو کې ۸۰ فیصده د بریالیتوب چانس لري.... له دې پلوه د احتمال د ټاکلو او تثبیت لپاره له موجوده تجربو او توپیرونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه استفاده کيږي خو هغه توپيرونه او تجربې چې د وګړو لخوا په کار اچول کيږي، په تيرو تجربو او يا لاسته راغلو موادو او امکاناتو باندې متکي دي، چې په تجربوي احتمالاتو(Experimental Probability) پورې اړه لري، او هم يو شمېر توپيرونه او اجراات د ارقامو او موثقو معلوماتو له کتنې څخه پرته ترسره کيږي، چې له ذهني احتمالاتو (Theoretical Probability) څخه چې په موجوده پروګرام کې شامل نه دي عبارت دي.

له دې امله چې د هر علم پېژندنه او د استعمال ځايونه په يو شمېر مفاهيمو، پيژندګلويو(متعارفاتو) او موضوعه اصولو متکي دي. نو په دې اساس په دې ځای کې هم د ځينو مفاهيمو درک او پوهېدنه حتمي او ضروري ده.

**د رياضياتو له پلوه د احتمالاتو مفهوم:**

د احتمال کلمه په عاميانه ژبه کې د ممکن او ځينې وخت د ګمان او اټکل په مفهوم کارول شوې ده، او نظری اړخ لري خو په علمي ژبه کې د احتمال يا نه ځرګنديدنې (عدم ظهور) کلمه يوه مشخصه پايله او يوه ناڅاپي يا اتفاقي تجربه ده او دغه مفهوم د عاميانه مفهوم پر خلاف يو کميتي مفهوم دی، چې د شمېرو او ارقامو په مرسته افاده کيږي. د معاصرو رياضياتو له ميتودونو څخه په استفادې سره د تشخيص او ارزيابۍ(ارزونې) وړ دی. د ناڅاپي يا اتفاقي تجربو د پايلو د ځرګندونې او يا نه ځرګندونې درجه(ظهور يا عدم ظهور)معمولاً د فيصديو په ارقامو، پر عام کسر او يا اعشاري کسر ښودل کيږي، چې د دوو لاندې مشخصو لرونکې دي.

١- د يوې ناڅاپي تجربې يو له ممکنه پايلو څخه د ځرګندېدو يا نه ځرګندېدو(ظهور يا عدم ظهور) احتمال بايد له صفر څخه لوی او له يوه څخه کوچنی وي.

٢- د ناڅاپي تجربې لپاره يوه له ممکنه پايلو څخه د ځرګندېدو احتمال او د نه ځرګندېدو احتمال بايد له يوه سره مساوي وي.

که چيرې :

A- د يوې ناڅاپي(اتفاقي) تجربې يو له ممکنه پايلو څخه.

P (A) – د A د پايلې د ځرګندېدو احتمال.

$P(\overline{A})$ - د A د پايلې د نه ځرګندېدو احتمال وي.

**نو:**

$$1-0 \le P(A) \le 1$$
$$2-P(A)+P(\overline{A})=1$$

او که چيرې د A پايلې د ځرګندېدو يا نه ځرګندېدو چانس له يو بل سره مساوي وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو کولای شو د A پایلې د څرګندېدو یا نه څرګندېدو احتمال په کمیتي توګه په لاندې ډول افاده کړو:

$$P(A) = P(\overline{A}) = \frac{1}{2} = 0.5 \Rightarrow 50\ \%$$

د پورتنیو مطالبو د توضیح لپاره لاندنیو تعریفونو ته پاملرنه وکړئ:

a- **قطعي پدیدې (Sample):** هغو پدیدو یا پېښو ته قطعي پدېدې وایي چې پایله یې په بشپړه توګه معلومه، مشخصه او ټاکل شوې وي، داسې چې دا پایله د هغې له پېښېدو څخه مخکې په قطعي توګه مشخصه کړای شو. لکه دا چې یوه منه د باد له امله له ونې څخه راشکېږي، حتماً د ځمکې پر مخ رالوېږي او یا که د اوبو د تودوخې درجه د سانتي ګرید سلو درجو ته ورسېږي نو حتماً په بخار بدلېږي.

b- **تصادفي پدیدې:** هغو ناڅاپی پدیدو او یا پېښو ته ویل کیږي چې د آزمایښت پایله د هغه له پېښېدو څخه مخکې په قطعي توګه مشخصه نشو کړای او په دې ډول پایلو کې د( $\varnothing$ ) سیټ غیرممکن دی، د ناڅاپي تجربو مطالعه د احتمالاتو د تیوري اساس او بنسټ جوړوي او د مطلب د ساده کیدو لپاره فرض کیږي چې د ناڅاپی تجربو پایلو شمېر محدود( متناهي) وي.

**د بیلګې په ډول:** که په یوه کڅوړه کې دوه سرې مرۍ، درې سپینې مرۍ او څلور شنې مرۍ وي او وغواړو له کڅوړې څخه یوه مرۍ بهر کړو هیڅ کله نشو کولای وواېو چې دغه مرۍ به کوم رنګ ولري.

C- **د نمونې فضاء:** د S ست ته د یوې تجربې د نمونې فضاء ویل کیږي په هغه صورت کې چې د تجربې ممکنه هر حالت د Sد ست له یوه عنصر سره سمون ولري او بالعکس د دې سیټ له عناصرو څخه هر یو له یوې تجربې سره مطابقت وکړي یعنې دا چې:

که چیرې $a_1$ , $a_2$.......$a_n$ ټولې د یوې ناڅاپي تجربې ممکنه پایلې وي.

مجموعه : $S = \{a_1, a_2, a_3, \ldots\ldots\ldots\ldots, a_n\}$

د نمونې د فضاء په نوم لوستل کیږي. د S هر غړی یو ټکي له نمونه یي فضاء څخه نومول کیږي په بل عبارت د نمونې فضاء د یوې ناڅاپي پدیدې له ټولو ممکنه پایلو څخه عبارت دی او د نمونې فضاء هر فرعي سیټ ته یوه پیښه یا یوه پدیده وایی او همدارنګه یونامتناهي Set د حقیقی شمېرو د انټروالونو په بڼه، د ټرلې نمونې فضاء هندسي بڼې او یا حجمونه جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پیښه او ناڅاپي پیښه:**

د نمونې فضاء هر فرعي سیټ یوه پیښهاو یا پدیده نوموي او د ټولنیزو علومو له پلوه پدیده په بیلابیلو بڼو د ماهیت او واقعیتونو انعکاس او تبارز وي او د ناڅاپي تجربو مطالعه د احتمالاتو د تیوري اصول او بنسټ جوړوي.

که چیرې S د یوې ناڅاپي(تصادفي) تجربې د نمونې فضاء وي A یوه ناڅاپي پیښه لوستل کیږي، یواځې $A \subset S$ دهغه پر اساس ویلی شو چې:

که A د یوې ټاکلې ناڅاپي تجربې څخه یوه پیښه وي، د دې تجربې په هرځل سرته رسولو کې ویل کیږي، د A پیښه منځ ته راغلې ده، که چیرې لاسته راغلې پایله د S غړی وي.

**بیلګه:** کله چې یوه سکه پورته واچوو د ښکته راتلو په وخت یا د سکې مخ(R) او یا د سکې شا(P) راځي، نو په دې تجربه کې د نمونې فضاء چې دوه عنصره Set دی، په لاندې توګه ښودل کیږي.

$$S = \{P, R\} \Rightarrow \quad n(S) = 2 = 2$$

**بیلګه:** که چیرې یوه سکه دوه ځله پورته واچوو(یا دوه سکې یوځل واچوو) د هغې د نمونې فضاء هغه سیټ دی چې له څلورو عنصرو څخه جوړ شوی وي داسې چې:

$$S = \{(R,P),(R,P),(P,R),(P,R)\} = n(S) = \overset{2}{2} = 4$$

**بیلګه:** کورنۍ درې بچیان غواړي، د نوموړو بچیانو د نمونې فضاء عبارت ده له: که زوی په P او جنۍ په D وښیو مونږ به ولرو:

$$S = \{(P,P,P),(P,P,D),(P,D,P),(P,D,D),(D,P,P),(D,P,D),(D,D,P),(D,D,D)\}$$

$$=> n(S) = \overset{3}{2} = 8$$

**Note:** که S یو سیټ وي او د n عنصر لرونکی وي د هغه د فرعي ستونو شمېر د $2^n$ له فورمول څخه لاسته راځي، یعنې:

$$n(S) = 2^n$$

**بیلګه:** په یوه کڅوړه کې ۳ سرې مرۍ او دوه شنې مرۍ دي، دوه مرۍ په ناڅاپي توګه پورته کوو د نمونې فضاء څرنګه ده.

$$n(S) = (5.2) = C_3^5 =>$$

$$= \frac{5i}{(5-2)i} = \frac{5i}{3i \cdot 2i} = \frac{1\cdot 2\cdot 3\cdot 4\cdot 5}{1\cdot 2\cdot 3\cdot 1\cdot 2} = 10$$

$$=> \{R_1R_2, R_1R_3, R_2R_3, R_1g_1, R_1g_2, R_2g_2, R_3g_2, g_1g_2\}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**احتمال (Probability):**

که چیرې د یوې پیښې د پیښیدنې لپاره، د مساعدو امکاناتو شمېر S او نا مساعده حالات F وي.

د مساعدو او نا مساعدو د پیښیدلو احتمال عبارت دی له:

$$P(F)=\frac{F}{F+S}, P(S)=\frac{S}{S+F}$$

که یوه پیښه نامساعد حالت ولري، د هغه د مساعد والي احتمال(۱) دی او که چیرې پیښه مساعد حالت ونه لري، د حادثې د مساعد والي احتمال صفر دی په دې اساس $0\leq P(S)\leq 1$ او همدارنګه:

$$P(S)+P(F)=\frac{S}{S+F}+\frac{F}{S+F}=1$$

**د احتمال کلاسیک مفهوم:** د لرغونو علماوو په نظر د یوې ناڅاپي پیښې د څرګندېدو احتمال د مساعدو پایلو نسبت د نوموړې پیښې د مساوي پېښېدو (وقوع) پر ممکنه پایلو څخه عبارت دی. که چیرې د یوې A د ناڅاپي پیښې د څرګندېدو احتمال په P(A)، د A د ناڅاپي پیښې د مساعدو پایلو شمېر په N(A) او د A د ناڅاپي پیښې د ممکنه پایلو شمېر په N(S) وښیو نو کولای شو د احتمالاتو لرغونی(کلاسیک) مفهوم د یوه عمومي فورمول په اساس په لاندې توګه افاده کړو.

$$P(A)=\frac{N(A)}{N(S)}$$

**بیلګه:** د ادارې او حسابدارۍ انستیتوت د محاسبې په څانګه کې ۱۰۰ تنه دي ۶۰ تنه نجونې او پاتې نورېې هلکان دي. که چیرې د یوه هیواد یو تحصیلي بورس دې څانګې ته ورکړل شوی وي او له محصلینو څخه یو تن په ناڅاپي توګه وټاکل شي، څومره احتمال لري چې :

**الف**- یوه نجلۍ په دې بورس کې کاندیده شي.

**ب**- یوه نجلۍ دې بورس ته کاندیده نه شي.

**ج**- د ټولګي اول نمره دې بورس ته کاندید شي.

**حل**

$$N(S)=100$$
$$N(A)=60$$
$$N(B)=40$$
$$N(\overline{A})=1$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**الف-**

$$P(B)=\frac{N(B)}{N(S)}$$

$$P(B)=\frac{60}{100}=0.6=60\%$$

**ب-**

$$P(\overline{B})=1-P(B)=1-0.6=0.4=40\%$$

**ج-**

$$P(A_1)=\frac{N(A)}{N(S)}=\frac{1}{100}=0.01=1\%$$

**د احتمال احصاييوي مفهوم:** د يوې ناڅاپي تجربې د ځرګندېدو يا نه ځرګندېدو احتمال د هغه په لرغوني مفهوم په دوو لاندنيو فرضيو متکي دی.

۱- د هغه ټولګي يا جمعيت د عناصرو شمېر چې تر احصاييوي مطالعې لاندې راځي بايد محدود وي.

۲- د ناڅاپي تجربې له پايلو څخه هر يو بايد د مساوي ځرګندېدو چانس ولري.

زياتره وخت په عمل کې هغه ټولګي يا جمعيتونه چې تر احصاييوي مطالعې لاندې راځي د هغوی د عناصرو شمېر غير محدود او بې شميره زيات وي او د ټولګي د ځرګندېدو قواعد او جوړ شوي عناصر ټاکل شوي نه وي(غيرمعين) وي او د هغوی د ځرګندېدو يا نه ځرګندېدو په اړه بشپړ معلومات په واک کې نه وي.

په داسې ځايونو کې نشو کولای د يوې ناڅاپي پيښې د ځرګندېدو يا نه ځرګندېدو احتمال د هغه پر لرغوني مفهوم مشخص کړو.

دا ايجابوي تر څو د A د ناڅاپي(اتفاقي) پيښې د ځرګندېدو يا نه ځرګندېدو احتمال د نسبي فريکونسي په مرسته مشخص شي.

که د A د ناڅاپي پيښې مطلقه فريکونسي په F(A) او د A د ناڅاپي پيښې نسبي فريکونسي په f(A) په نښه کړو، نو د رياضي له مخې د A د ناڅاپي پيښې نسبي فريکونسي په لاندې توګه افاده کولای شو.

$$f(A)=\frac{F(A)}{n}$$

د احصايې د علماوو په عقيده که چيرې د n نمونه ورو، ورو لويه شي او بالاخره لايتناهي ته نږدې شي،

د A د ناڅاپي پيښې نسبي فريکونسي ورو، ورو يوه سرحدي ارزښت ته نږدې کيږي چې هغه کولای شو د A د ناڅاپي پيښې د ځرګندېدو يو اټکلي ارزښت ومنو چې په لاندې توګه افاده کيږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\lim_{n \to \infty} f(A) = \frac{F(A)}{n} \approx P(A)$$

**بیلګه:** یوه تصدي د موټر پرزې تولیدوي. د تصدۍ د تولیداتو د کنټرول شعبه دنده لري تر څو د تصدۍ ورځني تولیدات مخکې له دې چې بازار ته وړاندې شي د تخنیکي کیفیت له پلوه تر احصاییوي آزمایښت لاندې راولي. د تصدۍ د کنټرول آمر د ۱۰۰۰ واحدو په سایز(اندازه) یوه نمونه د تصدۍ له ورځنیو تولیداتو څخه اخلي او تر بررسۍ لاندې یې راولي.

له اخیستل شوي نمونې څخه د هغه ۹۵۰ واحده له نورم سره سم او ۵۰ واحده نورېې د نورم پر خلاف ټاکل شوي وي. که چیرې یو پیریدونکی تصدۍ ته مراجعه وکړي او د تصدۍ له ورځنیو تولیداتو څخه د نمونې په توګه یو واحد غوره کړي او د هغه تخنیکي کیفیت تر مطالعې لاندې ونیسي څومره احتمال لري چې:

**الف-** اخیستل شوی واحد د نورم پر خلاف په تولیداتو پورې اړوند وي.

**ب-** هغه واحد چې انتخاب شوی د نورم سره سم د تولیداتو له جملې څخه وي.

$F(A) = 950$

$F(\overline{A}) = 50$

**حل**

**الف-**

$$f(A) = \frac{F(A)}{n} = \frac{950}{1000} = 0.95$$

$$P(A) \approx f(A) = 0.95 = 95\%$$

**ب-**

$$P(\overline{A}) = 1 - P(A)$$

$$P(\overline{A}) = 1 - 0.95 = 0.05 = 5\%$$


$$P(\overline{A}) = \frac{F(\overline{A})}{n} = P(\overline{A}) \approx f(\overline{A}) = \frac{50}{1000} = 0.05 = 5\%$$

**د احتمالاتو هندسي مفهوم: یوه** ناڅاپي تجربه په نظر کې نیسو چې د هغې ممکنه پایلې د S یوه هندسي بڼه جوړوي. فرض کوو چې A یوه ناڅاپي پیښه ده چې په یوې یا څو ناڅاپي تجربو پورې تړلې ده او د S د ساحې یوه برخه رانغاړي.

په دې صورت کې د A د ناڅاپي پیښې د څرګندېدو احتمال د هغې د هندسي مفهوم عبارت دی له:

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$P(A)=\frac{m(A)}{m(S)}$$




په پورتني فورمول کې m(A) د A او m(S) د S د ساحې اندازه جوړوي.

د احتمالاتو هندسي مفهوم د نمونې فضاء او پیښې تر منځ د رابطې مشخص کوونکې ده.

**بیلګه:** که یو کروندګر ۳۰۰۰۰ متر مربع ځمکه پیاز کري او له ټول حاصل څخه د ځمکې ۱۰ متر مربع د یوې بېلې موافقې له مخې، د حاصلاتو له لاسته راوړنې څخه مخکې تر ارزیابۍ لاندې راولي تر څو د پیازو د وزن او اندازې له معلومولو وروسته د هغه د پلورلو او یا اجارې په اړه تصمیم ونیسي. نوموړی کروندګر ۶۰۰۰ متره مربع ځمکه له کیمیاوي سرې(کود) څخه په استفادې، ۱۰۰۰۰ متر مربع ځمکه له حیواني سرې(کود) څخه په استفادې او پاتې ۱۴۰۰۰ متر مربع ځمکه یې پرته له کومې سرې څخه کرلې ده. کروندګر به هغه وخت ګټه ترلاسه کړي چې نمونه د ځمکې له یوې برخې سره تصادف کوي چې په هغه کې کیمیاوي سره یا حیواني سره استفاده شوې وي څومره احتمال لري :

**الف-** نمونه د ځمکې له هغې برخې سره تصادف کوي چې په هغې کې له کیمیاوي سرې استفاده شوې ده.

**ب-** نمونه د ځمکې له هغې برخې سره تصادف کوي چې په هغې کې له حیواني سرې استفاده شوې ده.

**ج-** نمونه د ځمکې له هغې برخې سره تصادف کوي چې له سرې پرته کرل شوې ده.

$m(S)=30000m^2$ د ټولې ځمکې مساحت

$m(A)=6000m^2$ هغه ځمکه چې له کیمیاوي سرې سره کرل شوې ده

$m(B)=10000m^2$ هغه ځمکه چې له حیواني کود سره کرل شوې ده

$m(C)=14000m^2$ پرته له سرې څخه کرل شوې ځمکه

**حل**

**الف-**

$$P(A)=\frac{m(A)}{m(S)}=\frac{6000}{30000}=0.2=20\%$$

**ب-**

$$P(B)=\frac{m(B)}{m(S)}=\frac{10000}{30000}=\frac{1}{3}=0.333=33.3\%$$

**ج-**

$$P(C)=\frac{14000}{30000}=0.4666=46.66\%$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د لومړي څپرکي د مطالبو لنډيز**

د پيښود ټاکلو او تثبيت او د پېښو(حوادثو) د څرګنديدلو لپاره له هغو تجربو او توپيرونو څخه چې د وګړو لخوا په کار اچول کيږي ګټه اخيستل کيږي چې له ټولو څخه زيات په تيرو تجربو او په لاسته راغلو موادو او امکاناتو متکي وي. ياد شوي مراتب په تجربوي احتمالاتو پورې اړه لري.

احتمال د نالوستي يا عاميانه له پلوه د ممکن، ګمان او اټکل(حدس) په معنا کارول کيږي خو په علمي ژبه کې د رياضي په خاصه معنا کارول کيږي چې معنا يې د يوې ناڅاپي(اتفاقي) مشخصې پايلې او يوې تجربې د څرګندېدو يا نه څرګندېدو (ظهور يا عدم ظهور) د ډاډ درجه ده.

د احتمال رياضيکي مفهوم يو کميتي مفهوم دی چې د شمېرو او ارقامو په مرسته افاده کيږي.

- هغه پديدې چې د هغوی پايلې په بشپړه توګه معلومې او مشخصې وي د قطعي پديدو يا پېښو(حوادثو) په نوم ياديږي.
- که چيرې د يوې تجربې او يا پيښې له پېښېدو څخه مخکې د هغې پايله مشخصه کړای نه شي، د ناڅاپي(تصادفي) پديدې په نوم ياديږي چې په دې ډول پايلو کې د خالي ست حصول غيرممکن وي.
- د يوې تجربې د ممکنه ټولو پايلو څخه لاسته راغلې مجموعه د هغې تجربې د نمونه يي فضاء په نوم ياديږي او له يوې تجربې څخه د لاسته راغلو پايلو څخه هره يوه د نمونې د فضاء يو غړی دی. او له نمونه يي فضاء څخه هر فرعي ست د يوې ناڅاپي(تصادفي) پيښې په نوم ياديږي.

که چيرې د يوې پيښې پېښېدنه مساعد حالت ونه لري، د هغې د مساعدوالي احتمال ۱ دی او که چيرې پيښه مساعد حالت ونه لري د پيښې د مساعد والي احتمال صفر دی.

خو د پخوانيو علماوو په نظر د يوې ناڅاپي پيښې د څرګندېدو احتمال د مساعدو پايلو نسبت د نوموړې پيښې د مساوي پېښېدو (وقوع) پر ممکنه پايلو څخه عبارت دی.

احتمال د احصايې له پلوه د فريکونسۍ په مرسته مشخص کيږي او هغه هم عبارت دی له، مطلقه فريکونسۍ د دفعاتو پر شمېر باندې يعنې : $F(A)=\frac{F(A)}{n}$

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لومړي څپرکي پوښتنې

۱- یو عدد په ناڅاپي(تصادفي) توګه د$S=\{1,2,3,.....,9\}$ نمونې له فضاء څخه غوره کیږي که چیرې د غړو احتمال مساوي وي، احتمال دی چې غوره کړل شوی عدد له ۴ څخه لږ یا طاق وي څه شی دی ؟

۲- له a , b , c , I , j تورو څخه هر یو د یوه کارت پرمخ لیکو او د هغوی له ګډولو وروسته یو کارت د قرعې په ډول پورته کړو، مطلوب دی ټاکل.
الف- احتمال د دې چې د کارت پرمخ ټکی لرونکی توری وي.
ب- احتمال د دې چې د کارت پرمخ ټکی لرونکی توری نه وي.

۳- په یوه قطي کې ۵ سرې مرۍ، درې تورې مرۍ او دوه سپینې مرۍ دي، یوه مرۍ په ناڅاپي توګه له قطي څخه پورته کوو.
الف- د دې تجربې د نمونې فضاء ولیکئ؟
ب- پیدا کړئ چې دغه مرۍ به سره وي.

۴- له صفر څخه د ۳ شمېرو له منځ څخه په ناڅاپي توګه یو عدد انتخابیږي، مطلوبه ده د هغې احتمال محاسبه چې دغه عدد د ۱ او ۲ تر منځ غوره کړل شوی وي.

۵- دوه متحدالمرکزه دایرې چې د 5Cm او 10Cm شعاوو لرونکې دي په نظر کې نیسو که چیرې غشی د هدف(کوچنۍ دایرې) په لوري ګوزار شي او سل په سله کې د لویې دایرې پر مخ د لګیدلو وړ وي، احتمال د دې چې غشی په کوچنۍ دایرې ولګي څو دی.

۶- د قطعه بازۍ له یوه درجن څخه یوه پاڼه(پر) په ناڅاپي توګه انتخابیږي څومره احتمال لري چې :

الف- نوموړې پاڼه به یو غلام وي.
ب- نوموړې پاڼه به یو طوس وي.
ج- نوموړې پاڼه به د خښتې یوه پاڼه وي.
د- نوموړې پاڼه به لال نه وي.
هـ- د پشې یوه پاڼه به نه وي.
و- د خښتې لس تایي به نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم څپرکی

## د احتمالاتو د سنجش بنسټيز قواعد

**عمومي موخه:**

د احتمالي پيښو(حوادثو) او اتفاقاتو محاسبه او سنجش

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې محصلين کولای شي چې:

- د ناڅاپي پېښو(اتفاقي حادثو) مفهوم توضيح کړي.
- په احتمالاتو کې د قاعدې جمع توضيح او خپلواکې(مستقلې) ناڅاپي پيښې د قاعدې په اساس سنجش کړي.
- په احتمالاتو کې د ضرب قاعده توضيح او له يوبل څخه د خپلواکه ناڅاپي څو پېښو پېښېدنه د دغې قاعدې په مرسته سنجش کړي.
- د څو پېښو(حادثو) څرګنديدنه د جمع له قاعدې څخه په استفادې سنجش کړي.
- تړلې ناڅاپي پيښې توضيح او دا ډول پيښې د جمع او ضرب له قاعدې څخه په استفادې سنجش کړي.
- مجموعي احتمالات سنجش کړي.

په احصاييوي تحقيقاتو کې د ناڅاپي پېښو د اړوندو مسايلو د څرګندولو يا نه څرګندولو احتمال يواځې يوه ناڅاپی پيښه د بحث وړ نه ده، بلکې په زياتره ځايونو کې د دوو يا څو ناڅاپي پېښو د څرګندېدو يا نه څرګندېدو احتمال هم د علاقې وړ دي. هغه قواعد چې د هغې په مرسته د دوو يا څو ناڅاپي پېښو څخه د يوې د څرګندېدو احتمال سنجش کيږي، د جمع د قواعدو په نوم او هغه قواعد چې د هغې په مرسته د دوو يا څو ناڅاپي پېښو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د يو ځای څرګندېدو احتمال سنجش کيږي د احتمال د ضرب د قواعدو(د تقاطع قواعد) په نوم يادېږي چې دواړه قاعدې د نوې رياضي د يو سلسله نښو او سمبولونو په مرسته فورمول بندي کيږي.

که چيرې د Aاو B د دوو پېښو له څرګندېدو څخه د دغو دوو ناڅاپی پېښو څخه د يوې د څرګندېدو احتمال تر بحث لاندې وي د پېښو د جمع له قاعدې څخه استفاده کيږي چې په لاندې توګه افاده کيږي:

$P(A \vee B) <=> P(A \vee B)$

برعکس که چيرې د دواړو ناڅاپي پېښو د هم مهاله څرګندېدو احتمال مطلوب وي، د ناڅاپي پېښو د تقاطع له قاعدې څخه استفاده کيږي، چې د لاندې فورمول په مرسته افاده کيږي:

$P(A \cap B) <=> P(A \wedge B)$

د احتمالاتو د قواعدو سنجش د ناڅاپي پېښو د ډول په پام کې لرلو سره په دوو عمده ګروپونو ويشل کيږي:

- د خپلواکه(مستقله) ناڅاپي پېښو د احتمالاتو د سنجش قواعد.
- د تړلو(غير مستقله) ناڅاپي پېښو د احتمالاتو د سنجش قواعد.

د خپلواکه(مستقله) پېښو د احتمالاتو د سنجش قواعد

**۱- د خپلواکه(مستقله) ناڅاپي پېښو مفهوم:**

خپلواکه ناڅاپي پيښې هغه پيښې دي چې د يوې ناڅاپي پيښې څرګنديدنه د بلې ناڅاپي پيښې په څرګنديدو پورې تړلې نه وي. په بل عبارت د يوې پيښې د څرګندېدو احتمال د بلې پيښې د څرګندېدو احتمال متأثره نه کړي. لکه: فرض کوو، په يوه لوښي کې لس دانې مرمۍ په بشپړه توګه ورته يا مشابه چې له يوه څخه تر لس پورې د نمرو لرونکي دي شتون لري. که چيرې دوه مرمۍ په ناڅاپي توګه يو په بل پسې پورته شي او لومړۍ مرمۍ له کتو وروسته بيرته کيښودل شي د دې احتمال چې د لومړي ځل لپاره دويم نمبر مرمۍ او د دويم ځل لپاره پنځم نمبر مرمۍ څرګنده شي په دواړو صورتونو کې مساوي وي، که د دويم نمبر مرمۍ څرګنديدنه د A د ناڅاپي پيښې په توګه او د پنځم نمبر مرمۍ څرګنديدنه د B د ناڅاپي پيښې په توګه ومنو، نو د A د ناڅاپي پيښې او د B د ناڅاپي پيښې احتمال د رياضي له پلوه تر پورته شرايطو لاندې داسې څرګندولی شو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$P(A)=\frac{N(A)}{N(S)}=\frac{1}{10}$$
$$P(B)=\frac{N(B)}{N(S)}=\frac{1}{10}$$

**په خپلواکه(مستقله) ناخاپي پېښو کې د جمع قاعده:** په هغو حالاتو کې چې د دوو یا زیاتو پېښو یوځای پېښېدنه لکه AاوB متحمل وي په هغه صورت کې د A د پېښېدو احتمال له B سره عبارت دی له:

$$P(A\bigcup B)=P(A)+P(B)-P(A\bigcap B)$$

پورتنۍ رابطه هغه مهال ممکنه ده چې AاوB نښتي(متصلي) مجموعې وي یعنې ګډ توکي(عناصر) ولري او د لنډ یا مختصر فورمول $P(A\bigcup B)=-P(\overline{A}\bigcap\overline{B})$ لرونکې وي.

**خصوصي حالت:** که د A او B د پېښو پېښېدنه له یو بل څخه بیل او جدا ترسره شي یعنېAاوB منفصل ستونونه وي چې په غبرګه توګه پېښېدنه یوځای امکان ولري، یعنې که A پیښه شي B رامنځ ته نه شي او یا برعکس په هغه صورت کې د A د پېښېدو یا د B د پېښېدو احتمال عبارت دی له:

$$(A\bigcup B)<=>P(A\bigcup\overline{B}),\ P(A\bigcup B)=P(A\bigcup B)=P(A)+P(B)$$

که چیرې خپلواکې ناخاپي پیښې له دوو پېښو څخه زیاتې وي، په دې صورت کې د نوموړو پېښو اتحاد په لاندې توګه افاده کیږي:

$$P=(A_1\bigcup A_2\bigcup A_3......An)<=>P(A_1\bigcup A_2\bigcup A_3...An)=$$
$$=P(A_1)+P((A_2)+P(A_3)+......+P(A_n)$$

**بیلګه:** که $S=\{1,2,3,4,5,6\}$ و $A=\{2,3,4\}$ و $B=\{4,5,6\}$ وي.

محاسبه مطلوبه ده $P(A\bigcup B)=?$

**حل:**

$$A\bigcup B=\{2,3,4,5,6\}=>n(A\bigcup B)=5$$
$$P(A\bigcup B)=\frac{n(A\bigcup B)}{n(S)}=\frac{5}{6}$$

**بیلګه:** که $P(A)=\frac{1}{3},P(B)=\frac{1}{5},P(A\bigcap B)=\frac{1}{8}$ وي.

معلوم کړئ چې:

$$a-P(\overline{A})=?$$
$$b-P(\overline{B})=?$$
$$c-P(\overline{A}\bigcup\overline{B})=?$$
$$d-P(\overline{A}\bigcap\overline{B})=?$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**حل:**

$$a-P(\overline{A})=1-P(A)=1-\frac{1}{3}=\frac{2}{3}$$
$$b-P(\overline{B})=1-P(B)=1-\frac{1}{5}=\frac{4}{5}$$
$$c-P(\overline{A}\bigcup\overline{B})=P(\overline{A}\bigcup\overline{B})=1-P(A\bigcap B)=1-\frac{1}{8}=\frac{7}{8}$$
$$d-P(\overline{A}\bigcap\overline{B})=P(\overline{A}\bigcup\overline{B})=1-P(A\bigcup B)=1-\left[P(A)+P(B)-P(A\bigcap B)\right]$$
$$=1-\left[\frac{1}{3}+\frac{1}{5}-\frac{1}{8}\right]=\frac{71}{120}$$

**بيلګه:** په يوه لوښي کې د بليارد ۱۰ دانې سره توپونه، ۳۰ دانې سپين توپونه، ۲۰ دانې آسماني رنګه توپونه او ۴۰ دانې نارنجي رنګه توپونه شتون لري، يو توپ په ناڅاپي(اتفاقي) توګه انتخابيږي څومره احتمال لري چې:

**الف-** نوموړی توپ سور يا نارنجي وي.

**ب-** عدد سپين وي يا آسماني وي.

**ج –** توپ سور يا سپين يا آسماني وي.

**د-** آسماني نه وي.

**هـ-** سور يا آسماني نه وي.

**و-** سور، آسماني او سپين نه وي.

$N(R)=10 \qquad \mathrm{P(R)}=\frac{10}{100}=\frac{1}{10}$

$N(W)=30 \qquad \mathrm{P(W)}=\frac{30}{100}=\frac{3}{10}$

$N(B)=20 \qquad \mathrm{P(B)}=\frac{20}{100}=\frac{1}{5}$

$N(0)=40$

$N(S)=100 \qquad \mathrm{P(0)}=\frac{40}{100}=\frac{2}{5}$

**الف-**

$$P(0\vee R) <=> P(0\bigcup R)=P(0)+P(R)$$
$$P(0\vee R)=0.4+0.1=0.5=50\%$$

**ب-**

$$P(W\vee R) <=> P(W\vee B)=P(W)+P(B)$$
$$P(W\vee B)=0.3+0.2=0.5=50\%$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

ج-

$$P(R \vee W \vee B) = P(R \cup W \cup B) = P(R) + P(W) + P(B)$$
$$= 0.1 + 0.3 + 0.2 = 0.6 = 60\%$$

د-

$$P(\overline{B}) = 1 - P(B) => 1 - 0.2 = 0.8 = 80\%$$

هـ-

$$P(R \vee B) = 1 - P(R \vee B) = 1 - [P(R) + P(B)] =$$
$$= 1 - (0.1 + 0.2) => 1 - 0.3 = 0.7 = 70\%$$
$$P(R \vee B) = P(W \vee 0) => P(W) + P(0)$$
$$= 0.3 + 0.4 = 0.7 = 7\%$$

و-

$$P(R \vee B \vee W) = P(0) = \frac{40}{100} = 0.4 = 4\%$$

او یا

$$P(R \vee B \vee W) = 1 - P(R \vee B \vee W) = 1 - [P(R) + P(B) + P(W)] =$$
$$= 1 - (0.1 + 0.2 + 0.3) = 1 - 0.6 = 0.4 = 40\%$$

د خپلواکه(مستقله) ناخاپي پېښو د تقاطع قاعده(د ضرب قاعده)

که A او B دوه خپلواکه ناخاپي پيښې له یو بل څخه وي، د دواړو ناخاپي پېښو د یو ځای څرگندیدنې احتمال له هغوی څخه د هرې یوې د څرگندېدو احتمال له حاصل ضرب څخه عبارت دی چې د رياضي له پلوه کولای شو هغه په لاندې توگه افاده کړو:

$$P(A \wedge B) <=> P(A \cap B) => P(A) \times P(B)$$

که چیرې د خپلواکه(مستقله) ناخاپي پېښو شمېر له دوو پېښو څخه زیات وي پورتنی فورمول په لاندې بڼه پراختیا پیدا کوي:

$$P(A_1 \wedge A_2 \wedge A_3 \wedge \ldots\ldots.. \wedge A_n) <=> P(A_1 \cap A_2 \cap A_3 \ldots\ldots\ldots. \cap A_n)$$
$$= P(A_1) \times P(A_2) \times P(A_3) \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots P(A_n)$$

خو د شرطي احتمال په صورت کې (که د A احتمال پرځای د B پیښه شوې وي) په لاندې توگه تعریف شوی دی:

$$P\left(\frac{A}{B}\right) = \frac{P(A \cap B)}{P(B)}, P(B) \neq 0$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د طرفين او وسطين کولو په صورت کې لاسته راځي چې:**

$$P(A \cap B) = P(B)P\left(\frac{A}{B}\right)$$

**يعنې دا چې:** د دوو پېښو A اوB د پېښېدو احتمال له يو بل سره برابر دی يو له هغوی څخه د پيښې د احتمال د ضرب له حاصل سره ضرب په احتمال کې هغه چې د يوه له پېښېدو څخه وروسته، بله هم پيښه شي.

**نوټ:** که چيرې درې ناخپلواکه(غيرمستقلې) ناڅاپي پيښې د پام وړ وي د احتمال د جمع د قاعدې عمومي فورمول په لاندې ډول سره خپله بڼه بدلوي.

$$P(A \vee B \vee C) <=> P(A \cup B \cup C) =>$$
$$P(A) + P(B) + P(C) - P(A \cap C) - P(C \cap B) - P(A \cap B) + P(A \cap B \cap C)$$
$$P(A \vee B \vee C) = 1 - P(\overline{A} \cap \overline{B} \cap \overline{C})$$

**بيلګه:** په يوې تصدۍ کې دوه پايې توليدي ماشينونه $M_1$ او $M_2$ په کار اچول شوي، چې هر يو يې په يواځې يا منفرد ډول د بريښنا ساکټونه توليدوي. د تيرو کلونو تجربې ښيي چې ۵٪ د $M_1$ د ماشين توليدات او ۶٪ د $M_2$ د ماشين توليدات له ټاکلي نورم سره سمون نه لري، که چيرې يو پيريدونکی د تصدۍ له ورځنيو توليداتو څخه دوه واحده د نمونې په توګه انتخاب کړي او تر احصاييوي آزمايښت لاندې يې راولي څومره احتمال لري چې لږ تر لږه د نمونې يو واحد د نورم له شرايطو سره خلاف وي.

**حل:**

$$P(M_1 \vee M_2) => P(M_1) + P(M_2) - P(M_1) \times P(M_2)$$
$$= 0.05 + 0.06 - 0.05 \times 0.06 = 0.11 - 0.003 = 0.107 = 10.7\%$$

او يا

$$P(M_1 \vee M_2) = 1 - P(\overline{M}_1 \cap \overline{M}_2) = 1 - P(\overline{M}_1) \cdot P(\overline{M}_2)$$
$$= 1 - 0.95 \times 0.94 = 1 - 0893 = 0.107 = 10.7\%$$

**د تړلو ناڅاپي پېښو د احتمالاتو د سنجش قواعد**

**۱- د تړلو ناڅاپي پېښو مفهوم:** ناڅاپي پيښې تل له يو بل سره په خپلواکه توګه عمل نه کوي بلکې ځينې وخت د يوې ناڅاپي پيښې څرګنديدنه د يوې بلې ناڅاپي پيښې په څرګندېدو پورې تړلې وي. د پېښو مقيدوالی په دې معنا دی چې: د يوې ناڅاپي پيښې څرګنديدنه د وروستۍ ناڅاپي پيښې د څرګندېدو چانس تر تأثير لاندې راولي. لکه: په يوه لوښي کې درې سپينې مرمۍ او څلور تورې مرمۍ شتون لري. دوه مرمۍ پرله پسې له لوښي

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه را ایستل کیږي. په دې صورت کې احتمال لري چې لومړی انتخاب توري مرمۍ او دویم انتخاب سپینې مرمۍ وي په یواځې یا منفرده بڼه عبارت ده له:

$$P(W)=\frac{3}{6},P(B)=\frac{4}{7}$$

**۲- په ترلو ناڅاپي پېښو کې د ضرب قواعد:** فرض کوو چې A یو احصاییوي جمعیت $A_1,A_2,A_3,.......A_n$ د هغه جمعیت جوړ شوي توکي یا عناصر وي. که چیرې د جمعیت له جوړو شوو توکو یا عناصرو څخه دوه واحده په نظر کې ولرو.

ناڅاپي یا تصادفي ترکیبونه داسې انتخاب شي چې انتخاب شوي توکي یا عناصر له کتنو یا مشاهدې وروسته بیرته جمعیت ته پاتې نه شي، په دې صورت کې احتمال لري چې د $A_1$ او $A_2$ توکي یا عناصر تر انتخاب لاندې راوستل شي، عبارت دي له :

$$P(A_1\wedge A_2)<=>P(A_1\cap A_2)=P(A_1)\times P(A_2/A_1)$$

**بیلګه:** په یوه ټولګي کې درې هلکان او دوې نجونې یوه تحصیلي بورس ته کاندید شوي دي. که چیرې پوهنځي دوه بورسونه نوموړو محصلینو ته اختصاص ورکړي وي. څومره احتمال لري چې د لومړي ځل لپاره یو هلک او د دویم ځل لپاره یوه نجلۍ انتخاب شي.

$$N(S)=5 \qquad \mathrm{P(B\wedge G)=P(B)\times P\left(\frac{G}{B}\right)}$$

$$N(B)=3 \qquad \mathrm{P(B\wedge G)}=\frac{3}{5}\times\frac{2}{4}$$

$$N(G)=2 \qquad \mathrm{P(B\wedge G)}=\frac{6}{20}$$

**۳- په متصلو ناڅاپي پېښو کې د جمع قواعد:** فرض کوو چې AاوB دوه ناڅاپي پیښې دي چې د دواړو ناڅاپي پېښو یوځای څرګندیدنه د امکان وړ وي. همدارنګه فرض کوو چې انتخاب شوي توکي یا عناصر د دویم ځل لپاره جمعیت ته نه پاتې کیږي، د پورتنیو فرضیو په پام کې لرلو سره احتمال لري چې لږ تر لږه د AاوB له دوو پېښو څخه یوه پیښه څرګنده شي عبارت دی له:

$$P(A\vee B)=1-P(\overline{A}\cap\overline{B})=1-P(\overline{A})\times P\left(\frac{\overline{B}}{\overline{A}}\right)$$

که چیرې درې پیښې وي پورتنی فورمول لاندې بڼه ځانته غوره کوي:

$$P(A\vee B\vee C)=1-P(\overline{A}\cap\overline{B}\cap\overline{C})$$

$$=1-P(\overline{A})\cdot P\left(\frac{\overline{B}}{\overline{A}}\right)\cdot P\left(\frac{\overline{C}}{\overline{A}\wedge\overline{B}}\right)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**شرطیه احتمالات**

لکه مخکې مو چې مطالعه کړل، ناڅاپي پیښې تل په خپلواکه توګه عمل نه کوي بلکې ځینې یا زیاتره وخت د یوې ناڅاپي پیښې څرګندیدنه د بلې ناڅاپي پیښې په څرګندېدو پورې تړلې وي. مثلاً فرض کوو چې A اوB دوه مقیدې پیښې دي. چې د A ناڅاپي پیښې څرګندیدنه د B د ناڅاپي پیښې په څرګندیدنې پورې تړلې یا مقیده ده یا برعکس د B د ناڅاپي پیښې څرګندیدنه د A د ناڅاپي پیښې په څرګندېدو پورې تړلې وي. د دا ډول تړلو یا مقیدو ناڅاپي پېښو د څرګندیدنې احتمال د شرطیه احتمالاتو په نوم یاد شوي چې کولای شو هغه د تړلو ناڅاپي پېښو د تقاطع په فورمول کې په لاندې توګه پیدا کړو.

$$P(A \wedge B) = P(A) \times P\left(\frac{B}{A}\right)$$

$$P\left(\frac{B}{A}\right) = \frac{P(A \wedge B)}{P(A)}$$

**بیلګه:** له ۱ څخه تر ۱۰ شمېرو پورې د لسو کارتونو پر مخ لیکل شوي دي یو کارت په ناڅاپي(اتفاقي) توګه پورته کیږي.

**الف**- نومړی عدد پر 4 د تقسیم وړ وي.

**ب**- نومړی عدد پر 3 د تقسیم وړ وي.

$$N(S) = 10$$

$$N(A_1, A_2, A_3 ....... A10) = \frac{1}{10}$$

$$P(A) = \frac{5}{10}$$

$$P(A \wedge B) = \frac{2}{10}$$

**حل:**

**الف**-

$$P\left(\frac{B}{A}\right) = \frac{P(A \wedge B)}{P(A)} = \frac{10}{10} = \frac{2}{5} = 0.4 = 40\%$$

**ب**-

$$P\left(\frac{B}{A}\right) = \frac{10}{10} = \frac{1}{5} = 0.2 = 20\%$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مجموعي احتمالات**

ناڅاپي پيښې تل په خپلواکه توګه نه ښکاريږي، بلکې زياتره وخت د يوې ناڅاپي پيښې ښکاريدنه د بلې ناڅاپي پيښې په ښکاريدو پورې تړلې وي. په اقتصادي او ټولنيزو بيلابيلو برخو کې داسې پيښې منځ ته راځي چې د هغوی ښکاريدنه په يوې ناڅاپي پيښې پورې تړلې نه وي بلکې د $A_1, A_2, A_3, \ldots\ldots A_n$ د بشپړو ناڅاپي پېښو په يوه سيستم پورې تړلې وي، که چيرې بشپړ معلومات له نوموړو پېښو څخه د هريوه د ښکاريدو د احتمال په اړه او د B د ناڅاپي پيښې د ښکاريدو احتمال چې د $A_i$ د ناڅاپي پيښې په سيستم پورې تړلی يا مقيد دی، شتون ولري کولای شو د B د ناڅاپي پيښې د ښکاريدو احتمال په لاندې توګه سنجش کړو.

$$P(B)\sum_{i=1}^{n}P(Ai)\times P\left(\frac{B}{Ai}\right)$$

**بيلګه:** له څلورو ټولګيو څخه دوسوه تنه محصلين د لومړي سمستر وروستۍ آزموينه په يوه تالار کې تيروي. د نوموړو محصلينو له جملې څخه ۱۰۰ تنه محصلين د لومړي ټولګي، ۵۰ تنه محصلين د دويم ټولګي، ۲۰ تنه محصلين د دريېم ټولګي او ۳۰ تنه محصلين د څلورم ټولګي څخه دي. د تيرو کلونو د تجربو په اساس د ناکامۍ احتمال په لومړي ټولګي کې ٪۸۰، په دويم ټولګي کې ٪۵۰، په دريېم ټولګي کې ٪۳۰ او په څلورم ټولګي کې ٪۱۰ دي. يو تن مميز د زده کوونکو يوه پارچه د آزموينې له پای ته رسيدو څخه وروسته تر کتنې لاندې نيسي، څومره احتمال لري چې:

**الف**- نوموړی محصل به ناکام وي.

**ب**- نوموړی محصل به کامياب وي.

$N(S) = 200$

$N(A_1) = 100 \qquad P(A_1) = \frac{100}{200} \qquad P\left(\frac{B}{A_1}\right) = 0.5$

$N(A_2) = 50 \qquad P(A_2) = \frac{50}{200} \qquad P\left(\frac{B}{A_2}\right) = 0.5$

$N(A_3) = 100 \qquad P(A_3) = \frac{20}{200} \qquad P\left(\frac{B}{A_3}\right) = 0.3$

$N(A_4) = 30 \qquad P(A_4) = \frac{30}{200} \qquad P\left(\frac{B}{A_4}\right) = 0.1$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**حل:**

**الف-**

$$P(B)=P(A_1)\times P\left(\frac{B}{A_1}\right)+P(A_2)\times P\left(\frac{B}{A_2}\right)+P(A_3)\times P\left(\frac{B}{A_3}\right)+P(A_4)\times P\left(\frac{B}{A_4}\right)$$

$$=\frac{1}{2}\times 0.8+\frac{5}{20}\times 0.5+\frac{1}{10}\times 0.3+\frac{3}{20}\times 0.1$$

$$=0.4+0.195+0.03+0.015=0.57=57\%$$

**ب-**

$$P(\overline{B})=1-P(B)=1-0.57=0.43=43\%$$

**د بایز قضیه:** توماس بایز د ۱۸ پیړۍ په نیمايي کې یوه قضیه تشریح کړه چې په مستقیمه توګه له شرطیه احتمالاتو سره مرتب کیده. د دې قضیې د تشریح لپاره فرض کوو چې: $A_1, A_2, A_3 ......A_n$ له ناڅاپي پېښو څخه یو بشپړ سیستم دی.

چې د هغې د دوو پېښو څرګندیدنه غیر ممکنه وي. په دې صورت کې د دې سیستم له پېښو څخه د هرې یوې د څرګندیدنې احتمال د B په یوې ناڅاپي پیښې پورې تړلی یا مقید وي او کولای شو هغه د بایز له فورمول څخه په استفادې سنجش کړو :

$$P\left(\frac{A_1}{B}\right)=\frac{P(A_1)\times P\left(\frac{B}{A_1}\right)}{\sum_{i=1}^{n} P(A_1)\times P\left(\frac{B}{A_1}\right)}=\frac{P(A_1)\times P\left(\frac{B}{A_1}\right)}{P(B)}$$

**بیلګه:** د مجموعي احتمالاتو په بحث کې د ورکړل شوې بیلګې په پام کې لرلو سره که چیرې فرض کړل شي چې: د آزموینې د یوې پارچې په انتخابولو سره نوموړی محصل ناکام دی. هغه پوښتنه چې د بایز د فورمول په اړه مطرح کیږي دا ده، څومره احتمال لري چې:

**الف-** نوموړی محصل به په دویم ټولګي کې وي.

**ب-** دغه محصل به په دریيم ټولګي کې وي.

**ج-** نوموړی محصل به په لومړي یا څلورم ټولګي کې وي.

**حل:**

**الف-**

$$P\left(\frac{A_2}{B}\right)=\frac{P(A_2)\times P\left(\frac{B}{A_2}\right)}{P(B)}$$

$$=\frac{0.25\times 0.5}{0.57}=\frac{0.125}{0.57}=0.21=21\%$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$P\left(\frac{A_3}{B}\right)=1-P\left(\frac{A_3}{B}\right)=1-\frac{P(A_3)\times P\left(\frac{B}{A_3}\right)}{P(B)}$$
$$=1-\frac{0.1\times 0.3}{0.57}=1-\frac{0.03}{0.57}=1-0.052=0.948=94.8\%$$

ج-

$$P\left(\frac{A_1}{B}\right)\vee P\left(\frac{A_4}{B}\right)=\frac{P(A_1)\times P\left(\frac{B}{A_1}\right)}{P(B)}+\frac{P(A_4)\times P\left(\frac{B}{A_4}\right)}{P(B)}$$
$$=\frac{0.5\times 0.8}{0.57}+\frac{0.15\times 0.1}{0.57}=\frac{0.4}{0.57}+\frac{0.015}{0.15}$$
$$=0.7+0.02=0.72=72\%$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دويم څپرکي د مطالبو لنډيز

هغه قواعد چې د هغې په مرسته د دوو يا څو اتفاقي حادثو د ښکارېدو احتمال سنجش کيږي د جمع د قواعدو په نوم او هغه قواعد چې د هغې په مرسته د يو ځای د ښکارېدو د دوو يا څو اتفاقي حادثو احتمال سنجش کيږي د احتمالي ضرب د قواعدو په نوم يادېږي چې، دواړه قاعدې د نوې رياضي د نښو او سمبولونو (د ست د تيوري) په اساس فورمول بندي کيږي، يعنې که چيرې يوه پېښېدنه له بلې پېښېدنې سره په يوه وخت ترسره نه شي، د لاندې فورمول په مرسته ښودل کيږي:

$$n(A \cup B) = n(A) + n(B)$$

که چيرې د A او B دوه عمليې يو په بل پسې سرته ورسوو په دې صورت کې د A اوB دوه عمليې (هم Aاوهم B ) کولای شو د $n \cdot k$ په لاره (طريقه) ترسره کړو يعنې:

$$n(A \times B) = n(A) \cdot n(B)$$

ناخاپي پيښې په خپلواکه ناخاپي پېښو او تړلو ناخاپي پېښو باندې بېلې شوې دي.

که چيرې د يوې پيښې ځرګندېدنه د بلې پيښې په ناخاپي ځرګنديدنې پورې تړلې(مقيده) نه وي دا ډول پيښې د خپلواکه ناخاپي پېښو په نوم يادېږي. خو ناخاپي پيښې تل خپلواکه يادېږي او همدارنګه ناخاپي پيښې تل له يو بل څخه په خپلواکه توګه عمل نه کوي بلکې ځينې وخت د يوې ناخاپي پيښې ځرګندېدنه د بلې ناخاپي پيښې په ځرګندېدنې پورې تړلې وي. يعنې د يوې ناخاپي پيښې ځرګندېدنه د وروستۍ ناخاپي پيښې د ځرګندېدو چانس تر تأثير لاندې راولي. که چيرې د يوې ناخاپی پيښې ځرګندېدنه د بلې ناخاپي پيښې په ځرګندېدوه پورې حتمي او ضروري تړلې وي د دا ډول پېښو ځرګندېدنه د شرطيه احتمالاتو په نوم يادېږي.

همدارنګه په اقتصادي او ټولنيزو بيلابيلو برخو کې داسې پيښې رامنځ ته کيږي، چې د هغوی ځرګنديدنه په يوې ناخاپي پيښې پورې تړلې نه ده بلکې په اقتصادي او ټولنيزو بيلابيلو برخو کې داسې پيښې منځ ته راځي چې د هغوی ځرګنديدنه په يوې ناخاپي پيښې پورې تړلې نه وي بلکي د ناخاپي پېښو په يوه بشپړ سيستم پورې تړلې وي، چې په دې حالت کې مونږ د اړيکو مجموعي احتمالات لرلای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دويم څپرکي پوښتنې

۱- د يوې کورنۍ درې ماشومان زمونږ مطلوب دی، احتمال لري چې لږ تر لږه د هغوی له ماشومانو څخه يوه انجلۍ وي ؟

۲- په يوه کڅوړه کې ۵ سپينې مرۍ او ۷ تورې مرۍ دي، له دغې کڅوړې څخه درې مرۍ يو ځای پورته کوو احتمال لري چې :

الف- درې واړه مرۍ سپينې وي.

ب- احتمال لري چې دوه مرۍ سپينې وي.

ج- احتمال لري چې لږترلږه يوه مرۍ سپينه وي.

د- احتمال لري چې لږ تر لږه دوه مرۍ سپينې وي.

۳- $P(A)=\frac{1}{3}, P(B)=\frac{1}{5}, P(A\cap B)=\frac{1}{8}$ وي معلوم کړئ چې:

$a-P(\overline{A})=?$

$b-P(\overline{B})=?$

$c-P(\overline{A}\cup\overline{B})=?$

$d-P(\overline{A}\cap\overline{B})=?$

۴- که په يوکورکې د ۰,۴۱ تور او سپين ۰,۸۵ رنگه اوله دواړو څخه ۰,۲۳ تلويزيون دشته والې احتمال موجود وي ، نوڅومره احتمال لري چې پدې کور کې به لږترلږه يو له دغو دوو ډولونو څخه شتون ولري؟

۵- احتمال لري چې يو شخص د پښتورگو (گردو) تکليف۰,۲۳ ولري او د زړه ناراحتي۰,۲۴ ولري او يا لږ تر لږه يو له دغو دوو ناروغيو څخه ۰,۳۸ وي. نوڅومره احتمال لري چې دواړه ډوله ناروغۍ به ولري؟

۶- په يوه جعبه کې ۱۲ دانې مرۍ دي چې دوه دانې يې تورې او پاتې نورې يې سپينې دي. له دغې جعبې څخه په ناڅاپي توگه يوه مرۍ راپورته کوو، وروسته پرته له دې چې لومړۍ مرۍ کيږدو په ناڅاپي توگه يوه بله مرۍ را اخلو، څومره احتمال لري چې دواړه مرۍ تورې وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷- د یوه ریاست د څوکۍ(پست) لپاره ۴ نوماندان شتون لري، د هغو وګړو د انتخاب پایلې چې متساوی الاحتمال دي په ۱،۲،۳او۴ ښیو، څرګنده کړئ چې د $B=\{1,3\}, A=\{1,4\}$ حوادث له یو بل څخه خپلواک(مستقل) دي ؟

۸- د قطعه بازۍ له یوه درجن څخه یوه قطعه په ناڅاپي توګه انتخاب شوې او لیدل کیږي چې نومورې پاڼه خشت ده څومره احتمال لري چې:
الف- نومورې پاڼه به یو غلام وي.
ب- نومورې پاڼه به یو طوس وي.

۹- د زده کوونکو په یو ۱۲ نفري ګروپ کې ۸ تنه ممتازه زده کوونکي دي د ۱۲ تنو له جملې څخه د هغوی درې تنه ټاکل کیږي. احتمال په هغه صورت کې پیدا کړئ چې د انتخاب شوو زده کوونکو په منځ کې د هغوی ۵ تنه به ممتاز وي ؟

۱۰- پر هدف باندې د مرمۍ د لګیدو لپاره په یوه ځل دوه فیره کیږي. که د پیښې احتمال 0.7A او د پیښې احتمال0.8B وي احتمال په داسې صورت کې پیدا کړئ چې لږ تر لږه یو له هغوی څخه په هدف ولګیږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# درېیم څپرکی

## د ترکیباتو تیوري

**عمومي موخه:**

په احتمالاتو کې د ترکیبي انالیز د قواعدو تطبیق

**د زده کړې موخې:** له محصلینو څخه تمه کېږي تر څو د دې څپرکي په پای کې:


- تبدیل تعریف او توضیح کړي او عناصر او پدیدې تبدیل او سمبال کړي.
- په عناصرو کې اختلاف تعریف او توضیح کړي، غیرمشابه او بیلابیل عناصر په یوه سټ کې سمبال کړای شي.
- ترکیب تعریف او توضیح کړي.
- د ساده ترکیب او بشپړ ترکیب توپیر وکړي.
- د ترکیب او تبدیل ترمنځ مهم توپیر توضیح کړي.

**تبدیل:**

د توپیر لرونکي n عنصر د ترتیب ټول امکانات د S په یوه سټ کې په معینو ردیفونو کې د تبدیلونو په نوم یادوي چې د ریاضي په احصاییه کې یو له مهمو او اهمیت وړ مبحثونو څخه دی. لاندې بیلګو ته پام وکړئ.

۱- غواړو دوه کتابونه چې د A او B په تورو ښودل شوي دي په یوې المارۍ کې د یوبل ترڅنګ کېږدو ددې کار لپاره ممکنه صورتونه عبارت دي له:

(c) ketabton.com: The Digital Library




د AB او BA له صورتونو څخه هر یو د Aاو B د دوو تورو د تبدیل په نوم لوستل کیږي.

**بیلګه:** د A , B , C دري عنصره د ټاکل شوو ردیفونو په پام کې لرلو سره کیدای شي په لاندې شپږو ډولونو باندې تبدیل او سمبال کړل شي :

$(A,B,C) = ABC, ACB, BAC, BCA, CAB, CBA$

څرنګه چې لیدل کیږي په تبدیل کې د ځای پر ځای کیدو ځای اړین دی، همدارنګه کولای شو تبدیل د S سټ اړوند جوړښت په پام کې لرلو سره په دوو عمده ګروپونو وویشو.

**الف-** که د S سټ ټول عناصر منفرد او له یو بل څخه توپیر لرونکي وي، د هغوی تبدیلي عبارت ده له:

$P_n = n^1$

له دې امله ویلی شو چې د سټ له عناصرو څخه هر منظم او محدود سټ ته تبدیلي وایي.

**نوټ-** په دې حالت کې تبدیل د ترتیب (Arrangements) په نوم یادوي چې په حقیقت کې د n څیز راتلل په مرتبه توګه د یو بل په څنګ کې وي.

**بیلګه:** د A , B , C او D توري په څو بیلابیلو بڼو د یوبل په څنګ کې ځای په ځای کیدای شي.

$P_4 = 4i = 4 \times 3 \times 2 \times 1 = 24$

**ب-** که د S تر سټ پورې اړوند ټول یا یو شمېر عناصر په ورته توکو (په مشابه اجزاو) کې مشتمل وي د n عنصر تبدیل د لاندې فورمول څخه په استفادې سنجش کوو.

$$P_n = \frac{ni}{n_1 i \cdot n_2 i \cdot n_3 i \ldots\ldots n_k i}$$

په دې فورمول کې $n_1 , n_2 , n_3 , \ldots\ldots\ldots , n_k$ د هغو توکو (اجزاو) له شمېر څخه عبارت دی چې له یوبل سره ورته یا مشابه وي او د هغوی د ټولو حاصل جمع په n سره مساوي کیږي یعنې:

$n_1 + n_2 + n_3 + n_4 + \ldots\ldots\ldots n_k = n$

**بیلګه:** د AABB توري په څو بڼو تنظیم یا سمبالیدای شي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$P_n = \frac{ni}{n_1 i \cdot n_2 i ...... n_k i}$$

$$P_n = \frac{4i}{2i \cdot 2i} = \frac{4\cdot 3\cdot 2\cdot 1}{1\cdot 2\cdot 3\cdot 4} = \frac{24}{4} = 6$$

**بیلګه:** AAABB په څو بڼو سمبالېدای شي:

$$P_5 = \frac{5i}{3i \cdot 2i} = \frac{120}{12} = 10$$

**اختلاف:** د S په یوه سټ کې د n عنصر غیر مشابه سمبال یا تنظیم د Iپه ګروپونو کې یو عنصر د معینو ردیفونو په پام کې لرلو سره د S سټ د عناصرو د اختلاف په نوم نومول کیږي.

د بیلګې په ډول، کولای شو د S یو سټ A,B,C عناصر په شپږو دوو عنصري ګروپونو باندې په لاندې ډول ترتیب او سمبال کړو.

چانس ته د نظر په اختلاف د ګروپونو په مکرره توګه څرګندیدل یا ظهور په دوو ډلو ویشل کیږي:

$$(A,B,C) = \begin{Bmatrix} AB \\ AC \\ BA \\ BC \\ CA \\ CB \end{Bmatrix}$$

**الف- له تکرار څخه پرته اختلاف:** دا اختلاف د S یو سټ د ټولو عناصرو له ترتیب څخه د I عنصري په ګروپونو کې چې په هغه کې د ګروپونو د عناصرو ترتیب په معینو ردیفونو کې ممکن دی او هر عنصر یواځې یوځل په ګروپ کې د څرګندېدو چانس ولري عبارت دی. که د S سټ د عناصرو شمېر په n او د اړوندو ګروپونو د عناصرو شمېر په L وښیو نو د S سټ د n عنصر اختلاف د ریاضي له پلوه عبارت دی له :

$$V_{I(m)} = \frac{n_1}{(n-i)!}$$

**بیلګه:** د ABCD توري په څو درې توریزه ګروپونو باندې ترتیب او سمبالیدای شي؟

$$V3_{(4)} = \frac{4i}{(4-3)i} = \frac{4i}{1i} = 24$$

**بیلګه:** یوه څوکۍ یواځې د ناستې څلور ځایونه لري، په څو بڼو کېدای شي ۱۰ تنه په نوموړې څوکۍ کښیني؟

$$V4_{(10)} = \frac{10i}{(10-4)i} = \frac{10\cdot 9\cdot 8\cdot 7\cdot 6i}{6i} = 5040$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**له تکرار سره اختلاف:** له تکرار سره اختلاف د S یوسټ د n عنصر ترتیب د I عنصري په ګروپونو کې دی چې په هغه کې:

۱- د ګروپونو د سټ عناصر د معینو ردیفونو په پام کې لرلو سره ترتیب شوي وي.

۲- د S سټ هر جوړ شوی یا متشکله عنصر د مکرره څرګندېدو چانس ولري. که N د S سټ د جوړو شوو عناصرو شمېر او I د یوه ګروپ د عناصرو شمېر وي، نو د S سټ د عناصرو له تکرار سره اختلاف د ریاضي له پلوه عبارت دی له :

$V_{i(m)} = n^i$

**بیلګه:** د ABC توري په دوه توریزو ګروپونو داسې ترتیب کړئ چې د S سټ هر عنصر د مکرره څرګندېدو چانس ولري.

$V2_{(3)} = 3^2 = 9$

**ترکیبونه (Combinations):** ترکیب د S یوه سټ د عناصرو سمبال د I عنصر په ګروپونو کی دی چې په هغه کې د عناصرو ترتیب په معینو ردیفونو کې رعایت نه شي، ترکیب هم د اختلاف په څېر د ګروپونو د مکرره څرګندېدو د چانس په نظر په دوو ډلو ویشل کیږي.

**الف- ساده یا له تکرار څخه پرته ترکیب:** د یوه سټ د عناصرو له ترکیب څخه په I عنصر ګروپونو کې دی چې په هغه کې د ګروپونو د عناصرو موقعیت په معین ردیف کې رعایت نه شي او د S سټ هر عنصر یواځې یوځل د څرګندېدو چانس ولري.

د بیلګې په ډول د ABCD څلور توري کولای شو په شپږو دوه عنصري ګروپونو او څلور درې عنصري ګروپونو په لاندې ډول تنظیم کړو.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| AB | AC | AD | BC | BD | CD |
| | | ABC | ABD | ACD | BCD |

که N د S سټ د عناصرو شمېر او I د یوه ګروپ د جوړو شوو عناصرو شمېر وي، ترکیب د S سټ عنصر د N له تکرار څخه پرته د I عنصر په ګروپونو کې کولای شو د لاندې فورمول څخه په استفادې لاسته راوړو.

$$Ci_{(n)} = \frac{ni}{1i(n-1)i} = \frac{n(n-1)(n-2).....(n-i_1)}{} 1i$$

په دې حالت کې $i < n$ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څرګنده ده چې:

$$\begin{bmatrix} n \\ 0 \end{bmatrix} = 1 = \begin{bmatrix} n \\ n \end{bmatrix}$$

د $\begin{bmatrix} n \\ i \end{bmatrix}$ د سمبول په ځای د $C(n,i)$ او $C_n^i$ او یا $C\begin{bmatrix} n \\ i \end{bmatrix}$ له سمبولونو څخه هم استفاده کیږي.

**یادونه:** د تبدیل او ترکیب تر منځ توپیر دا دی چې په تبدیل کې د انتخاب ترتیب په پام کې نیول کیږي  په داسې حال کې چې په ترکیب کې د انتخاب ترتیب اړین نه دی. د بیلګې په ډول که وغواړو له دریو تنو محصلینو (یاسمین، فرزانې او سوسن) څخه یوه دوه کسیزه کمیټه جوړه کړو.

د تبدیل له نظره پورتنی بحث د دوو تنو تبدیل یا بدلون د دريٍ تنو له منځ څخه دی او دا بدلونونه (تبدیلونه) عبارت دي له: (فرزانه، سوسن)، (یاسمین، فرزانه)، ( یاسمین، سوسن) او سوسن، فرزانه، فرزانه، یاسمین،  سوسن، یاسمین خو د ترکیب له نظره (سوسن،فرزانه) او (فرزانه، سوسن) دواړه یوه کمیټه جوړوي  یعنې په دې ځای کې د انتخاب ترتیب اړین نه دی.

**بیلګه:** اوه تنه په خپلو منځوکې یو څلور کسیز ګروپ ټاکي. دغه ګروپ په څو بڼو څلور کسیزه جوړیدای شي؟

**ب- بشپړ یا له تکرار سره ترکیب:** له تکرار سره ترکیب د یوه سټ N عنصر په I  عنصرګروپونو کې دی چې په هغه کې:

I- د عناصرو ترتیب په معینو ردیفونو کې په پام کې نه وي.

II- د S (سټ) هر عنصر د مکرره څرګندېدو چانس ولري.

د ریاضي له پلوه کیدای شي د S سټ د N عنصر د ترکیب ټول امکانات د I عنصر په ګروپ کې د هر عنصر د مکرره څرګندېدو چانس په پام کې نیولو سره په لاندې توګه سنجش کیږي:

$$Ci_{(n)} = \begin{bmatrix} n+i-1 \\ i \end{bmatrix} = \frac{(n+i-1)i}{\dfrac{li(n-1)i}{= c^n n+i-1 = c^{n-1} n+i-1}}$$

**بیلګه:** د ABCD توري په څو دوه عنصري ګروپونو ترکیب کولای شو، خو په دې شرط چې د نوموړي سټ عناصر د مکرره څرګندېدو چانس ولري.

$$C2_{(4)} = \begin{bmatrix} 4+2-1 \\ 2 \end{bmatrix} = \frac{5i}{2i(4-1)i} = \frac{5\cdot 4\cdot 3i}{2i\cdot 3i} = \frac{20}{2} = 10$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د درېيم څپرکي د مطالبو لنډيز**

هغه بيلابيل حالات چې n شی په مرتبه توګه د يوبل څنګ ته قطار نيولی شي د هغوی د بيلابيلو ترتيبونو په نوم يادېږي او دغه ترتيبونه عبارت دي له :

$$P(n,n) = ni$$

او هغه توپير لرونکي حالات چې rشی له مختلف nشی $(r < n)$ څخه د يو بل څنګ ته مرتب کيدای شي د nشي rپه تبديلونو په نوم يادېږي چې د هغوی شمېر عبارت دی له:

$$P(n,r) = \frac{ni}{(n-r)i}$$

که چيرې د nشی د تبديلونو په شمېر کې څرنګه چې په هغه کې يو pد دفعه او بل د q دفعه له اشياوو څخه تکرار شوی وي عبارت دي له:

$$\frac{ni}{Piqi}$$

او که چيرې بيلابيل حالات چې r شی پرته د ترتيب په پام کې نيولو سره له n شی څخه بيل انتخاب کيږي د n شی rپه ترکيبونو په نوم يادېږي او د هغوی شمېر عبارت دی له:

$$\begin{bmatrix} n \\ r \end{bmatrix} = \frac{ni}{(n-r)i \cdot r^i}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دریېیم څپرکي پوښتنې:

۱- د یوه ټولګي د څلوېښتو تنو زده کوونکو له جملې څخه په څو لارو کولای شو درې تنه وټاکو، داسې چې یو تن له هغوی څخه د رئیس په توګه یو تن د منشي او یو تن د غړي په توګه وي؟

**یادونه:** په پورتنۍ بیلګه کې د عناصرو ترتیب په نظر کې دی.

۲- د شطرنج په یوه سیالۍ کې پنځه تنه زده کوونکي او پنځه لس تنه محصلین ګډون کوي، په څو لارو زده کوونکي په دې سیالۍ کې موقعیت نیونه کوي، داسې چې هیڅ زده کوونکی عین نمره لاسته را نه وړي.

**یادونه:** $A_{20}^{5}$

۳- په څو لارو ۱۰ بیلابیل مضمونونه په مهال ویش کې تقسیم بندي کولای شئ. په هغه صورت کې چې په مهال ویش کې هره ورځ ۵ بیلابیل مضمونونه تدریس شي.

۴- په څو لارو ۴ تنه په یوه مرکب ردیف کې د ۴ میزونو په شاو خوا کې کښیني؟

۵- یوه کورنۍ درې زامن او دوه لوڼې لري.

الف- د هغو لارو شمېر چې هغوی په یوه ردیف کې کښیني پیدا کړئ.

ب- که وغواړو هلکان له یو بل سره او نجونې هم له یوې، بلې سره کښینې پیدا کړئ چې دا کار په څو ډولونو امکان لري.

۶- څو بیلابیل عدده کولای شو د 9,8,7,6,5,4,3,2,1,0 شمېرو سره ترتیب کړو داسې چې:

الف- په هر عدد کې له هر رقم څخه یو ځل استفاده وشي.

ب- صفري رقم په کینه خوا کې ځای و نه نیسي.

۷- ثابت کړئ چې:

$$\frac{ni}{(n-1)i} = n$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷- د قطعه بازۍ د ۵۲ قطعو له جملې څخه په څو لارو ۱۳ قطعې ټاکلی شو؟

**یادونه:** $C_{52}^{13}$

۸- لاندې افاده ساده کړئ.

$$\frac{C_n{}^3 \times C_3{}^2}{C_9{}^5}$$

۹- په مصنوعي اقمارو کې یوه تنظیم کوونکې عملیه اړینه ده، دا ټیم د مصنوعي قمر له قومندان، لومړی او دویم مرستیال، دوه میخانیکه او یو ډاکټر او هیئتونو څخه مشتمل دی او داسې ټاکل کیږي، درې تنه چې عبارت دي له قومندان او مرستیالان، د ۲۵ تنو له جملې څخه دوه میخانیکه د ۲۰ تنو انجنیرانو له جملې څخه او یو ډاکټر له ۸ تنو ډاکټرانو څخه په څو لارو کولای شي نیمایي فضانوردان ترکیب کړي.

۱۰- د الجبر له ورته یا مشابه درې کتابونو او د هندسې ورته یا مشابه څلورو کتابونو څخه په څو لارو کولای شو څو کتابه (لږ تر لږه) یو انتخاب شي.

۱۱- څو بیلابیل څلور رقمي عدده کولای شو د ۲،۱،۰ له شمېرو څخه ترتیب کړو، کله چې د شمېرو تکرار مجاز وي.

**یادونه:** $A_3^4 - A_3^3$ هغه شمېرې چې صفر د هغه کیڼ لوري ته ځای په ځای کیږي منفي شي.

۱۲- د څلورو رنګونو سور، آسماني، شین او زیړ په مرسته څو دوه رنګه بیرغه په افقي فیتو سره ترتیب او د BABBY کلمې له کلمې څخه جوړولای شو.

۱۳- د m علامت شمېر هر یو مرکب له اتو بیرغونو څخه په یوه عمودي کرښه کې چې کیدای شي له څلور سرو بیرغونو څخه د تمیز یا فرق وړ نه وي، له درې سپینو بیرغونو څخه د تمیز وړ نه وي او یو آسماني بیرق جوړ کړو، پیدا کړئ.

۱۴- د پرچون فروشۍ په یوه دوکان کې لس ډوله پست کارتونه شتون لري په څو ډوله کولای شو له ۸ او ۱۲ پست کارتونو څخه ترکیب جوړ کړو په دې شرط چې د کارت په ټاکلو کې تکرار مجاز وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سرچينې او اخېستنې


۱- لکچر نوت کورس مامورین احصایه Basic Statistics Loatse (۲۰۰۹)

۲- پوهاند دکتور مراد علی اصیل سال (۱۳۶۵)

۳- کلچر نوت ها از پوهنحی اقتصاد سال (۱۳۸۷)

۴- اسناد و ارقام مستند از سایت های انترنتی

۵- پوهاند غلام سنایی پوهنیار ذکیه حل مسایل احتمال سال (۱۳۸۶).

۶- آذری عبدالرحمن ریاضیات جدید سال (۱۳۷۰).

۷- لکچر نوت های کورس مقدماتی نیما سال (۱۳۸۷).

۸- موحد حبیب الله تیوری احتمالات سال (۱۳۸۵).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ښوونيز نصاب د پراختيا د رياست پيغام

د پوهنې وزارت د تخنيکي او مسلکي زده کړو معينيت دښوونيز نصاب د انکشاف رياست د ټولنې دعيني او ښکاره ضرورت په درک کولو سره چې د محصلينو او شاگردانو د درسي کتابونو په برخه کې يې تخنيکي او مسلکي رشتې درلودې او لري يې، په لومړي سرکې يې تصميم ونيو، چې په ښوونيزو پلانونو او درسي مفرداتو باندې بياکتنه وکړي او ورپسې بيا د شاگردانو او محصلينو د درسي کتابونو د تاليف لپاره مبادرت او کوښښ وکړي. د خدای(ج) په فضل او مرحمت سره او د ادارې او حسابدارۍ څانگې د ښوونکو په ميړانې او همت سره د ادارې او حسابدارۍ درسي کتابونه تاليف شول تر څو په وړيا ډول د شاگردانو او محصلينو په واک او اختيار کې ورکړل شي.

د علم او معرفت له ټولو لوستونکو، علاقمندانو، د ادارې او حسابدارۍ د مکاتبو له ښوونکو، گرانو شاگردانو او د تخنيکي او مسلکي زده کړو د چارو له متخصصينو او همدا شان له ټولو څېړونکو او شنونکو څخه صميمانه هيله کيږي، چې د دې کتابونو په مطالعې سره چې په لومړي ځل د ښوونکو او د ادارې او حسابدارۍ څانگې د مسلکي غړو له لوري تاليف او تدوين شوي دي. د مسلکي، تخنيکي او علمي مطالبو او مفاهيمو د څرنگوالي په هکله خصوصاً د هغوی املايي او انشايي اشتباهاتو په اړهمونږ ته لارښوونه وکړي، ترڅو په راتلونکي کې وکړای شو، په همدې او نورو برخوکې گرانو شاگردانو ته له دې څخه ښه، غوره، گټور او ارزښتناکه موضوعات وړاندې کړو.

همدا شان له گرانو شاگردانو او محصلينو څخه هيله کوو ترڅو د دې کتابونو د مطالعې او استفادې پر مهال د هيواد اقتصادي ستونزې، فقر او وروسته پاتې والی په نظرکې ونيسي او د کتابونو په ساتنه کې کوښښ او زيار وباسي، ترڅو د ډېرو شاگردانو او محصلينو د گټې وړ وگرځي.

پته: دپوهنې وزارت – دتخنيکي او مسلکي زده کړو معينيت د تعليمي نصاب د انکشاف رياست – دکتابونو د تاليف او د درسي ممدو موادو د برابرولو عمومي مديريت.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**